# رسالت

عبدالغفور پیروز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب پېژندنه :**

نوم :          رسالت

لیکوال:        عبد الغفور پیروز

چاپ وار:       لومړی

چاپ کال:       ۲۰۱۷م

لړ :           ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رسالت


سریزه ۱
قرآن او ساینس ۲
د دیني معرفت تحول او تکامل ۵
اخرت، دنیا او که دواړه؟ ۸
دیني پلورالیزم ۱۱
اسلام او ټروریزم ۱۸
ایا اسلام د تشدد اجازه ورکوي؟ ۲۰
د ناموس قبایلي تصور ۲۳
جګړه یو اسانه انتخاب ۲۶
په اسلامي نړۍ کي د ترهګرو ایډیالوژیک اساسات ۲۸
په اسلامي نړۍ کي مذهبي نرګسیت ۳۱
د نصوصو په تعبیر او تاریخ کي د ټروریزم جرړې ۳۳
ټیکنالوژي او ترهګري ۳۵
د سخت دریځی په وړاندي مبارزه څرنګه او ولي؟ ۳۷
د رواني جګړې مذهبي توجیهات ۳۹
د دین په معاصر فکر کي د امت او ملت شخړه ۴۲
ملایان او سیاست ۴۵
ښځه او سیاست ۴۷
د پاکستاني او افغاني ملایانو توپیر ۵۲
د اسلامي زده کړو بهیر ته یوه کتنه ۵۷
دیني ارزښتونه که د ارزښتونو دین؟ ۶۱
دین او انسانیت ۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شريعت په تړولنيزو لارښوونو کې د شکل او ماهيت مسله ۶۷
ديني تفکر د شدت او غفلت تر منځ ۷۰
په سختۍ کې اسانۍ ۷۳
پښتانه ولې زده کړې نه کوي؟ ۷۵
علم او د مالوماتو منابع ۸۹
د اسلامي نړۍ په علمي مرکزونو کې فکري جمود ۱۰۲
د زغم کلتور اړتيا او پياوړتيا ۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

د رسالت په نوم دا کتابګوټی زما د هغو لیکنو ټولګه ده چې وخت پر وخت مې د مختلفو دیني، ټولنیزو، سیاسي او علمي موضوعاتو په تړاو په مختلفو انلاین او چاپي رسنیو کې خپرې کړې دي چې ډېره برخه یې د مروج مذهبي فکر له نقد او سمون سره تړاو لري. په تېره پر افراطیت او ترهګریزو فکرونو ډېر تمرکز شوی ځکه زموږ د ټولنې یوه عمده ستونزه د دین په نوم روان خشونت او بغاوت دی.

دا مضامین مې په دې هیله د یوې کتابي مجموعې په شکل چاپ کړل چې هم یې ګټه عامه شي او هم د ډېرو لوستونکو لاس ته ورشي، ځکه زموږ ټولنه د همدغسې بحثونو او مسایلو پراخې شننې او څېړنې ته جدي اړتیا لري او فکر کوم د دغسې لیکنو په خپرولو موږ د تیوریکي بحثونو فرهنګ ته وده ورکولای شو.

د دې کتاب د چاپ لګښت ته د ټولنیزې خواخوږۍ په پار ښاغلي ولي خان اوږه ورکړې. کور یې ودان، عمر یې ډېر او ژوند یې سوکاله.

عبدالغفور پېروز

۲۰۱۶/۱۲/۲۳ د جومې ورځ

کندهار -افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قران او ساینس

ډېرې مسلمانان په دې نظر دي چې ساينس له قرانه اخيستل شوی او ځيني خو اندا خبره کوي چې غرب د قران په ژوره مطالعه وتوانېد دومره پرمختګ وکړي.

دا خبره تر ډېره د هغو کسانو له خوا کېږي چې ځانونه د دين پوهان او رهبران معرفي کوي. ان ادعا يې دا ده چې قران کريم د ټولو علومو سرچينه ده. دا خبره او س نه ده شوې بلکې پېړۍ وړاندې د علامه سيوطي په څېر مشهور کس همدغه ادعا کړې وه چې قران د ټولو علومو سرچينه ده. له ده څخه دا خبره همدغسې نقل شوې او ګڼو کسانو تکرار کړې ده چې د ټولې اسلامي نړۍ په کچه نژدې يو منل شوی نظر ښکاري. په تېره په افغاني بې سواده ټولنه کې خو د هر لوستي او نالوستي پر خوله ده او ملايان يې هم په خپلو خبرو کې هر ځای زمزمه کوي. مګر پوښتنه دا ده چې ايا دا خبره کوم رښتنې بنسټ هم لري؟

که علمي ځواب ورکوو نو بايد لومړی د قران مقام او د ساينس ماهيت وپېژنو. د مسلمانانو له باور سره سم قران د الهي وحې هغه وروستۍ کړۍ ده چې د الله له خوا پر خپل وروستي استازي محمد صلی الله عليه وسلم نړۍ والو په تېره د عربي ټاپو وزمې او سېدونکو ته د اخيري پيغام په توګه رالېږل شوې ده. اصل هدف يې په ديني برخه کې د هغو کسانو لارښوونه وه چې د دين په نوم له سختو ستونزو او تنګونو سره مخ وو. غوښتل يې د دين په نوم جبر، شرک، نفاق، ګمراهي، شوکې، غولونې، مذهبي تفرقې، انسان ضد اعمال او افکار اصلاح کړي. د انسان فردي مسوليت وروپېژني، خپل اصل فطرت ته يې متوجې کړي او د تاريخ په هغه حساسه نقطه کې چې شاته يې په اصطلاح د بې باورۍ دوړې پاتې وې او په وړاندې يې د نوې دور نوی څرک وو داسې يوه ټولنه رامنځته کړي چې د مالومې دنيا په مرکزي برخه کې د مذهبي جبرزولنې ماتې کړي او د بشر لپاره د بيان او عقيدې د خپلواکۍ زېری راوړي. له همدې امله قران ويلي: له دې جګړه مارو سره تر هغه وخته وجنګېږئ چې پر دين ځورونه (فتنه) له منځه ولاړه شي او دين کول د الله لپاره شي. (الانفال: ۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(یعني په اسلام کي د جګړي اصل دا دی چي باید بشر د دین په انتخاب کي خپلواک او د جبر له مخې د دین خپلولو ته اړ نه شي) له همدې امله ویل شوي چي په دین کي زور زیاتی نه شته.

مګر ساینس د بشري تاریخ له اولې ورځې هغه تجربې او مشاهدې دي چي انسان یې د خپل ژوند په اوږدو کي ترسره کوي. ساینس د هیڅ دین، قوم، ملت او هیواد ځانګړې سرمایه نه ده. د هر قوم، ملت، دین او هیواد وګړو په ګډه د ساینس په وده او پرمختګ کي ونډه اخیستې او دا لړۍ لا هم روانه ده. ساینس همدومره لرغونی دی لکه انسان، مګر قران د بشري تاریخ په ډېره وروسته مرحله کي نازل شو. نو څرنګه قران د هغه علم سرچینه وګڼو چي وجود یې په میلونونو کاله تر هغه وړاندي دی؟

سمه ده چي قران د ګڼو قضایاوو په تحلیل کي ځینو ساینسي حقایقو ته اشاره کړې، مګر هغه صرف اشاره ده هیڅکله دا مانا نه لري چي ساینس له قران څخه اخیستل شوی. ځکه که یوازي د ځینو یادونو پر بنسټ قران د ساینس سرچینه ګڼو نو بیا خو باید د تاریخ، جغرافیې او دا ډول نورو علومو سرچینه هم وبلل شي. مګر خبره هیڅکله داسي نه ده، قران د الهي دین وروستی کتاب دی چي پکي د دین اساسات او د شریعت ځیني ټولنیز احکام بیان شوي. موږ باید د قران حقانیت په ساینس ثابت نه کړو. د قران حقانیت باید د دینونو تر منځ د پرتلې، اخلاقي اصولو او د مابعد الطبیعاتي قضایاوو په اړه د هغه په منطقي تحلیل ثابت شي.

ساینس ځان ته علم دی او ګڼې څانګې لري، خو په قران کي د ځینو ساینسي نښو یا حقایقو شتون هیڅکله په دې مانا نه دی چي قران د ساینس سرچینه وبولو او یا داسي وانګېرو چي ساینس له قران څخه اخیستل شوی. بلکي په ځینو ځایونو کي د ساینس او قران تحلیلونه له یو ه-بل سره بېل بلکي په تضاد کي دي. که قران د ساینس سرچینه وای ولې به سره ټکر کېدل؟ ساینس انساني تجربې دي چي هر وخت بدلېږي او اوس هم د خپل تکامل پر لور سفر کوي. مګر قران د دین کتاب دی هلته د دین هدف، د الله وجود، ثواب او عذاب او له انسانانو سره د اخلاقي قوانینو پر بنسټ الهي چلند تر بحث لاندي نیول کېږي، په دې ضمن کي که کله-کله خبره د ساینس او نورو علومو پر لور ولاړه شي نو له دې څخه باید هیڅکله د امانا وانه خلو چي قران د دې علومو سرچینه ده او یا هغه علوم له قران څخه اخیستل شوي دي. قران د خپل هدف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثبات لپاره د ګڼو علومو بېلګې وړاندې کړې دي، مګر هېڅکله له خپل هدف څخه بهر نه ځي.

په لنډه توګه ويلای شو چې په قران کې ځينې ساينسي حقايق شته خو د ساينس عمر تر قران ډېر اوږد دی او په هيڅ ډول له قران څخه نه دی اخيستل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دديني معرفت تحول او تکامل

بدلون او پرمختګ د طبیعت تر ټولو ثابت قانون دی چې همدغه اصل د بشري معلوماتو او معرفت په حوزه کې هم شتون لري. ځکه انسان په بشپړه ډول د خپل چاپیریال تر اغېز لاندې راځي او د نړۍ په اړه د معلوماتو کچه او ډول یې وخت پر وخت بدلېږي. د مَعرِفَت او معرفت پېژندنې په اړه څېړنې او تجربې ښیي چې انسان د خپل ژوند له پیله تر ننه د نړۍ په اړه د معلوماتو ډېر ډولونه خپل کړي او بدل کړي دي. څرنګه چې موږ د خپل ځان، چاپیریال او په مجموع کې د کایناتو او ماوراء الطبیعي مقولو او مفکورو په اړه یا عیني او یا هم انتزاعي تصورات او معلومات لرو، نو له همدې وجې پکښې وخت پر وخت د خارجي او ذهني شرایطو په بدلون سره تحول راځي او تکامل مومي.

پخوا انسانانو ځینو طبیعي مظاهرو ته ډېر تقدس ورکاوه. د ګڼو فرضي او ذهني موجوداتو په اړه یې عجیب او غریب تصورات درلودل او په خپل شاوخوا کې د شته طبیعي پیښو د توجیه لپاره یې رنګارنګ علتونه او سببونه تراشل. مګر د ساینس او تجربو د پرمختګ په رڼا کې ډېرې هغه معضلې حل شوې چې پخوا له رازونو ډکې وې او د توجیه لپاره یې غیبي او میتافیزیکي قوتونو ته پنا وړل کېده. دا مهال د شپې او ورځې د تګ راتګ، زلزلو، بادونو، لمر او سپوږمۍ د تندر، ستورو، ژوند، باران، برېښنا، وریځو، سمندرونو، توپانونو او نورو ډېرو طبیعي پیښو په اړه بشري پوهې پرمختګ کړی. په طبیعت کې حاکم قوانین یې کشف کړي او د کایناتو په اړه د بشر پوهې او تصور ژور بدلون موندلی دی چې همدې بهیر ته-په کتلو موږ ویلای شو چې انساني پوهه تل د تحول او تکامل په حال کې ده.

د کایناتو په اړه د بشر د پوهې او معرفت د غه ډول تحول او تکامل پر دیني معرفت هم جوت او نه ردېدونکی اغېز لري. څرګند ثبوت یې د انساني ټولنو په مختلفو حوزو کې د دین مختلف رنګونه دي. که څوک په عربي ټولنو کې د اسلام عملي او تیوریکي رنګ ته ځیر شي نو له هغه شکل څخه به یې ډېر بېل ومومي چې په ایران، ترکیه، افغانستان او نورو غیر عربي هیوادونو کې لیدل کېږي. د افرادو، ټولنو او خاصو ګروپونو ذهني حالت، عواطف، داخلي مشاعر، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهي کچه، بېلابېل روابط او تمايلات پر ديني معرفت څرګند اغېز کوي.

موږ هيڅکله نه شو کولای چي دين د انساني ټولنو له طبيعي او ذهني حوزو پرته په يوه داسي خلا کي مطالعه کړو چي هيڅ ډول بشري رنګ او تاثير يې نه وي منلی. هر دين له انساني نړۍ سره د تماس له لومړۍ ورځي بيا د خپل پايښت تر پايه د زماني په بېلا-بېلو پړاوونو کي له بشر سره په اړيکه کي دی. يا په بل عبارت کله چي انسانانو غوښتي د دين له متن څخه د علم او عمل په ډګر کي استفاده وکړي نو د معرفت په دې مرحله کي انسان نه شي کولای د دين متن هماغسي په خلا کي مطالعه او عملي کړي لکه څرنګه چي يو مذهبي متن په خپل ذات کي دی. ځکه انسان د ځينو مقولو او مصطلحاتو د درک لپاره اړ دی چي له وړاندې ځيني تصورات ولري او د هغو په مرسته د دين ژبه درک کړي. انسان لومړی په خپله ټولنه کي ژوند کوي، هلته ځان ته د افکارو يوه نړۍ جوړوي، ژبه زده کوي، ذهن ته يې د ځينو مفکور او مقولو تصورات انتقالېږي. په خپل چاپېريال کي د ښو، بدو، ګټورو، زيانمنو، ارزښتونو، روا، نارو او دغسي نورو اخلاقي او ټولنيزو مقولو په اړه زموږ افکار تر ډېره د ټولنې او چاپېريال محصول دی.

ديني معرفت هم د بشري پوهنې او درک په مټ د ځانګړو ذهني او عيني شرايطو په منځ کي يو خاص ادراک دی چي تل د تحول او تکامل په حال کي دی. که موږ د هر دين تاريخ وګورو نو راته جوته-به شي چي د زمانې په مختلفو وختونو کي د بشري پوهي له تغيير او پرمختګ سره ديني معرفت هم بل رنګ خپل کړی، پخوانی مذهبي څرګندونې نوري روښانه شوي دي، بدلون يې موندلی، ځيني انګېرنې رد شوې او ځيني نوي تعبيرونه راميدان ته شوي دي.

د اسلامي معارفو د تاريخ مطالعه په ډېر واضح ډول راته ښيي چي په تېرو څو سوو کلونو کي ديني معرفت څه ډول پړاونه تېر کړي، کوم تغييرات پکي راغلي او ان پر يوه مهال د نړۍ په بېلا-بېلو برخو کي څه ډول ديني تفسيرونه او تعبيرونه موجود وو؟ د عقيدې، کلام، عرفان، تفسير، فقهې، سنت، نبوي سېرت، اسلامي تاريخ او نورو ديني معارفو ګڼ مکتبونه د ديني معرفت د تحول او تکامل بېخي ثابت مثالونه دي. د نړۍ په لروبر کي ګڼ فقهي او فکري مکتبونه شته چي ټول يې ځانونه مسلمانان ګڼي او اسلام خپل دين بولي. ان د يوه مسلک تاريخي بهير هم وخت پر وخت بدلون موندلی او ځيني خام يا نيمګړي افکار او مسايل د وخت په تېرېدو تکامل ته رسيدلي دي. په مجموع کي له ديني متونو څخه د بشر فهم او ادراک تل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحول او تکامل په حال کې دی چې له همدې کبله زاړه تعبيرونه په نويو بدلېږي او د ساينس، فسلفې، تجربې او مشاهدې په برخه کې د انسان د پوهې پرمختګ او انکشاف پر ديني معرفت هم اغېز کوي. نن په عصري پوه سمبال ديندران هيڅکله نه وايي چې ځمکه د غوايي پر ښکار ولاړه ده، يا باران له اسمانه اوري، مار خاوره خوري، ښځه د نارينه له چپه پوښتۍ پيدا ده، د نړۍ عمر لس زره کاله دی، خدای د انسان په څېر دی او داسې نورې هغه مقولې چې پخوا د مذهب له ادرسه وړاندې کېدې. که څه هم له تجربې او مشاهدې سره ټکر مسايل او افکار اوس د منلو نه دي او د دين له ارمتن سره هم تړ ډېره يا تړاو نه لري او يا د خاصو حلقو تعبير وي. خو د ديني فلسفې پر بنسټ يې د ديني معرفت له ډګره نه شو ايستلای ځکه ديني معرفت د خپل تاريخ هغه ټول بهير ته شمول کوي چې له انساني نړۍ سره د تماس له اولې ورځې بيا د پايښت تر مودې وخت پر وخت د بشر له خوا دين ته منسوبېږي.

د ديني معرفت تحول او تکامل ته پام نه کول د علم په ډګر کې د پرمختګ پر مهال د دين او دنيا تر منځ د تضاد لامل ګرزي. ځکه د کايناتو په اړه د بشر پوهه هره شېبه بل رنګ خپلوي. په مخکينيو نظرونو او قضاوتونو کې نيمګړتياوې په ګوته کېږي، خامۍ يې راپورته کېږي، وده کوي، نوي ابعاد پيدا کوي او يا د علمي معيارونو په رڼا کې له منځه ځي. ديني معرفت هم له دين څخه د بشر درک دی چې د نورو علومو په تحول او تکامل سره ديني معرفت هم د هغو له اغېزو خوندي نه دی. زموږ په ديني حلقو کې د ستونزو ريښه همدلته ده چې يو خو د دين او ديني معرفت تر منځ توپير يا نه پېژني او يا ورته پام نه کوي او بل د هر ديني معرفت لارويان ځان اصيل او بل باطل ګڼي. په داسې حال کې چې هيڅ ډول بشري معرفت وروستی نه دی او هره شېبه يې د تحول او تکامل امکان شته. که موږ د ساينسي، تجربوي او نورو بشري علومو په څېر د ديني معرفت په حوزه کې هم تحول او تکامل درک او منلی وای نن به مو نه د واقيعتونو له دنيا سره بې ګټې جګړې کولې، نه له نورو ملتونو سره او نه-به هم په خپل منځ کې په کرکه، تعصب او دښمنۍ اخته وای. په مجموع کې ديني مَعرفت له دين څخه د بشر درک دی چې اوږد تاريخ لري، تنوع، تضاد او تحول پکښې دی. هره ورځ خپل رنګ بدلوي او لا هم د تکامل په حال کې دی.

يادونه: د دې ليکنې ذهني خاکه مې د عبد الکريم سروش له کتاب قبض و بسط تيوريک شريعت څخه اخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخرت، دنیا او که دواړه؟

کله چي په کومه ټولنه کي وګړي خپلې مادي اړتیاوې په اسانۍ نه شي پوره کولای نو یو شمېر کړۍ د مذهب او دیانت پر بنسټ داسي نظریات وړاندي کوي چي ګواکي دنیوي چارو ته پاملرنه او د مادي اړتیاوو پوره کول له تقوا، اخرت پالنې او دینداری سره تضاد لري. دا ټول تصورات او افکار د ګڼو مذهبي ټولنو په مختلفو دیني کړیو کي شته او ځان ته خپل پلویان هم لري.

مګر کله چي دا ډول تصورات د یوه مذهب یا دین ډېری رسمي مخکښان په خپلو ویناوو کي وړاندي کوي، پر هر منبر او سټیج یې بیانوي، د بنو مادي امکاناتو نه درلودو په صورت کي لا هم عام وګړي موجود وروسته پاتي حالت ته هڅوي او دا ډول افکارو ته دیني رنګ ورکوي نو څرنګه چي له مادي اړتیاوو او عصري پرمختګ څخه چاره نه شته او په رسمیت نه پېژندل یې د الهي سننو پر خلاف ناکامه جګړه او له فطرت سره ډغرې وهل دي، له همدې امله په هغه ټولنه کي د اخرت او دنیا تر منځ د ټکر او په عملي ډول د اخلاقي انحطاط کچه ورځ تر بلې ډېرېږي چي زموږ د موجودو کورنیو، ټولنیزو او سیاسي ستونزو یوه برخه له دې سره هم تړاو لري.

په اسلامي نړۍ کي د منبر او سټیج پر سر د دې فکر دعوت، په تعلیمي مرکزونو او رسمي مدرسو کي تدریس، تلقین او تاکید داسي یو حالت را منځته کړی چي له یوې خوا یې زموږ پر ذهني او رواني حالت اغېز نه دی کړی له بلې خوا د ژبې پر سر دې خبرو خلګ د قول او عمل تر منځ تضاد ته اړیستي دي. په کومه ټولنه کي چي اړینې مادي اړتیاوې په رسمیت نه پېژندل کېږي او د دیني مشرانو هڅه دا وي چي یوازي د وچو وعیدونو، ګواښونو او عذابونو په وسیله د خلګو فکري او رواني حالت اصلاح کړي، د هغوی باطني مرضونه ورغوي، اخلاقي نیمګړتیاوې یې اصلاح کړي او په ټولنه کي یې ګټور رول ته وهڅوي هلته تل دغه ډول هڅې ناکامه شوې او ټولنه د فکر او عمل تر منځ له یو نا انډوله حالت سره مخ شوې ده.

دا نن هم موږ وینو چي د مذهبي مشرانو له خوا د شپې او ورځې له هر ډول وعظونو او ویناوو سره-سره مسلمانان په پراخه کچه دروغ وایي، په معاملاتو کي ټګي-برګي کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنيز اخلاق يې ډېر ضعيف دي، د کار پر ځای صرف ځان خلاصوي، په ټولنه کې يې مثبت رول سخت کمزوری دی، د خپل مسوليت له ترسره کولو تښتي، تر هر څه ماديات ډېر ورته مهم دي او خپلې لومړنۍ اړتياوې له داسي ناوړو لارو پوره کوي چې هم يې دين ته زيان رسېږي او هم د ټولنې نن او سبا ته.

د دې پر ځای لازمه ده موږ خپل خلک د دين په دې لارښوونه خبر کړو چې هم اخرت مهم دی او هم دنيا ان د اخرت بريا په دې دنيا کې له ښه ژوند کولو سره تړلې ده او ښه ژوند يعني د خپل خالق او مخلوق دواړو په نظر غوره کردار هغه وخت ممکن دی چې موږ خپلې اړتياوې ومنو، مهمې يې وګڼو او د پوره کولو لپاره يې هغه الهي استعدادونه پر کار واچوو چې رابانندي لورولي يې دي، ځکه موږ تل په خپل لمانځه کې له الله څخه غوښتنه کوو چې اللهم ربنا اتنا فی الدنيا حسنةً وفی الاخرة حسنةً يعني اې زموږ پالونکې! موږ ته په دنيا او اخرت دواړو کې ښېګڼه راکړه!

نو چې هره ورځ له خپل رب څخه د لمانځه په څېر يوه لوی عبادت کې دغه ډول غوښتنه کوو بيا د کوم اساس له مخې دا ډنډوري وغږوو چې دا دنيا زموږ لپاره نه ده، د نورو ده زموږ ونډه صرف په اخرت کې ده؟ کوم څوک چې دغه ډول خبرې کوي او دا ډول افکارو ته يوازې د ژبې پر سر ژمن وي هغه دې لږ تر لږه د اخرت او دنيا پر خپل منځي تړاو د څو شېبو لپاره په ارامو مغزو فکر وکړي. ايا داسي ممکنه هم ده چې يو څوک دې د وخت او مکان له غوښتنو او اړتياوو سره - سره بيا هم مادي امکانات نه برابروي خو دين دې کوي، اخرت دې پالي او تقوا ته دې ژمن وي؟

پر دې سربېره په اوس مهال کې د دغه ډول تعليماتو او ويناوو اغېز ځکه ډېر او بېخي ډېر کم دی چې د عصري وسايلو په مټ د نړۍ په هره برخه کې هر ډول شوی پرمختګ سمدستي ټول خلک ويني او په دې سره يې په زړه کې يو ډول ارمان پيدا کېږي. غواړي دوی هم هغسې پرمختګ وکړي، ښه هوسا ژوند ولري، د نړۍ له ښکلا خوند واخلي او ان تر اړتياوو ورپورته خپل ذوق هم موړ کړي.

کـه موږ دغه ډول غوښتنې او ضرورتونه صرف په دې ارامه وو چې دا دنيا زموږ نه ده بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخرت ته پام وکړو ایا کولای شو خپلو خلکو ته قناعت ورکړو او په دې سره یې د هغه څه له تر لاسه کولو راوګرزوو چې په زړه کې یې ارمان لري او په پوره شوق یې غوښتونکي دی؟ په نړۍ کې د نویو هر اړخیزو پرمختګونو له امله اوس یوازې د سهار او ماښام پر عادي خوراک اکتفا کول امکانه نه لري. نن د ځای، خوراک، ښه لباس، ښکلي کور، روغتیایي خدماتو، لوړو زده کړو، کمپیوټر، ټلویزون او دغه ډول نورو شیانو شتون لومړنۍ اړتیاوې او غوښتنې بلل کېږي. د هغو په وړاندې د وچې فتوا مبارزه نفاق، اخلاقي رنځ او د دین په جامه کې بې دینۍ ته لار هواروي.

زموږ مذهبي کړۍ او مشران باید نور له ځمکنیو حقایقو څخه د تېښتې پر ځای خلکو ته په پوره صراحت ووایي چې د دنیا او اخرت د بریا لپاره دي له هر ډول مشروعو او ګټورو مادي امکاناتو کار واخلي، شته وسایل دې پر کار واچوي او د لا نور پرمختګ لپاره دې هڅې وکړي، ځکه مسلمانان د دنیا او اخرت دواړو غوښتونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ديني پلوراليزم

فکر کوم د ديني پلوراليزم په اړه بحث به د ډېرى پښتنو لپاره نوى وي، ځکه زه چې څومره پوهېږم په پښتو ژبه کې د دې موضوع په اړه هيڅ نه دي ليکل شوي. يوازې يې د استاد محمد محق په اثارو کې ضمني يادونه شوې ده. له همدې امله که د دې موضوع په تشريح کې ځيني نيمګړتياوې وې، نو لوستونکي دې يې را وبخښي، ځکه ما چې دلته د ديني پلوراليزم په اړه کوم څه وړاندې کړي هغه په عربي او فارسي کې زما د مطالعې حاصل دى چې له تاسو سره يې شريکوم. هيله ده لا نور مسلکي او په نورو نړۍ والو ژبو پوهېدونکي کسان د دې موضوع پاتې اړخونه هم را وسپړي.

## پلوراليزم معنا او تاريخ

پلوراليزم (pluralism) پر ډېرښت، کثرت او تجمع د باور درلودلو په مانا کارېږي چې د انحصار ګرايي ضد دى. پلوراليزم د ژوند په مختلفو حوزو کې مطرح شوى. له دين څخه نيولې تر سياست، فرهنګ، ادب، قوم، ژبې او فلسفې پورې هر ځاى خپل ځانګړى مفهوم لري، خو په مجموع کې يې هدف دا دى چې يو فرد/ټولنه بايد د اجتماعي ژوند په بېلابېلو ساحو کې د انحصار پر ځاى پر تعدد، کثرت، تنوع، ډېرښت او ګڼو عقيدوي، سياسي، فرهنګي، ادبي او فلسفي فکرونو او کړنو باور ولري.

د پلوراليزم اصطلاح په لومړي ځل د غرب په ادبياتو کې وکارول شوه او د ديني فلسفې په توګه بنسټ اېښودونکى يې انګرېز فيلسوف جان هارورډ هيک (John Harwood Hick) دى.

## ديني پلوراليزم ياني څه؟

لکه څرنګه چې مو وړاندې وويل پلوراليزم د ډېرښت منلو په مانا دى، خو کله چې موږ د ديني پلوراليزم خبره کوو نو بيا يې مفهوم څه دى، ياني ديني پلوراليزم څه ته ويل کېږي؟ په ساده ډول يې مفهوم دا دى چې بايد په يوه ټولنه کې تر يوه زيات دينونه وزغمل شي چې دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملي پلوراليزم وايي. د دې مفهوم له مخې پلوراليزم په ټولنه کې د يو موجود واقعيت په توګه منل شوی دی، ځکه هره بشري ټولنه د بېلابېلو افکارو، عقايدو، باورونو او ارزښتونو درلودونکې ده، نو د دې لپاره چې د مختلفو دينونو او فکرونو پيروان سوله ييز او ګډ ژوند وکړي بايد په عملي ډګر کې يو - بل وزغمي، که څه هم په نظري لحاظ هر يو ځان پر حق ګڼي او هغه بل پر باطله. په مجموع کې دغه ډول پلوراليزم له مخالفتونو او شخړو د ځان ساتنې په موخه يو تدبير دی.

مګر د خپل ځانګړي نظري مفهوم له مخې ديني پلوراليزم يوازې په دې مانا نه دی چې د ټولنيز مصلحت او شخړو د مخنيوي لپاره دې د بېلابېلو اديانو پيروان په ګډه جامعه کې د سوله ييز ژوند لپاره يو - بل وزغمي، بلکې د پلوراليزم نظري بعد څو اړخونه لري چې دا مفهوم يې په مختلفو ډولونو مطرح کړی دی.

ځيني کسان د پلوراليزم په نظري بعد کې دا تعبير وړاندې کوي چې هيڅ دين په مطلق ډول باطل او ناحقه نه دی، بلکې هر دين سمې او ناسمې برخې لري. ځيني بيا وايي چې حق او حقيقت يو دی هر دين د همدې حقيقت پر لور تلونکې يوه لار ده.

نور بيا وايي ديني قضاياوې غيبي مسايل دي چې موږ يې محسوسولای نه شو. دغه ډول مسايل يا اصولاً هيڅ مانا نه لري او که يې ولري نو موږ يې ثابتولای نه شو. له همدې امله د ټولو حکم يو دی، انسانان اختيار لري چې کوم دين يې خوښ وي هغه دې غوره کړي. په هر حال د پلوراليزم پيروان په دې اند دي چې د يوه ځانګړي دين په اړه د حقانيت دا فکر سم نه دی چې د نړۍ يو ځانګړی دين پر حقيقت ولاړ دی نور ترې بې برخې دي. مختلف ديني افکار د انساني ژغورنې لپاره رامنځته شوي غبرګونونه او فعاليتونه دي چې هر يو په خپل ځان کې د انسان ژغورنې فلسفه او کړنلاره لري، له همدې امله د انحصار په توګه نه شو ويلای چې دا دين حق او هغه باطل دی.په اسلامي نړۍ کې تر دې دمه دا مفکوره چندان ملاتړې نه لري، يوازې الجزائری محمد ارکون او هندی فضل الرحمان هغه دوه مسلمان دينپوهان دي چې ويل کېږي دوی پر ديني پلوراليزم باور درلود.

په غرب کې د پلوراليزم يا ګڼ دينيز فکر ذهنيت هغه مهال راڅرګند چې د کليسا د لارښوونو برخلاف ځينو عيسوي مفکرينو وليدل د نورو اديانو پيروان هم ښه کړني تر سره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نېک انسانان دي. نو که د کليسا له باور سره سم اخروي نجات يوازې تر مسيحيت پورې محدود وي ايا د نورو دينونو نېک کسان به له دې بې برخې وي؟. پر همدې بنسټ جان هيک او نورو مسيحي علماوو د پلوراليزم فکر رامنځته کړ او ويې ويل: اخروي نجات يوازې په دې پورې نه دی تړلی چې حتما بايد يو سړی مسيحي واوسي، د نورو اديانو نېک پيروان هم د خپل دين په پيروي اخروي نجات تر لاسه کولای شي.

پر دې سربېره د نړۍ په لروبر کې د دين په نوم فرقه ييزو شخړو هم خلک دې ته مجبور کړل چې د اديانو پر حقيقت يو ځل بيا له سره غور وکړي، څو وپوهېږي چې د اديانو د پيروانو تر منځ د شخړو عوامل څه دي؟ تر غور او فکر وروسته ځينې مفکرين دې پايلې ته ورسېدل چې حق يوازې د خپل ځان شخصي ملکيت ګڼل او نورو ته د ناروا او باطل په سترګه کتل د دې لامل ګرزي چې د خاص دين پيروان د نورو اديانو له پيروانو کرکه وکړي او په وړاندې يې په خشونت لاس پورې کړي. دغه ډول تاوتريخوالی هغه مهال لا قوي کېږي چې دين د سياسي، ټولنيزو او مالي ګټو د تر لاسه کولو لپاره د يوې وسيلې په توګه وکارېږي.

په اسلامي نړۍ کې ډېرو کمو کسانو پر دې موضوع بحث کړی او د هغې ببلابېل اړخونه يې څېړلي دي، په عربي او فارسي کې دا مهال د پلوراليزم په اړه ځينې کتابونه او مقالې شته چې پر دې موضوع يې کافي بحث کړی دی، اړتيا دا ده چې زموږ ادبياتو ته هم لار ومومي او په اړه يې څېړنې او پلټنې وشي.

## د پلوراليزم کورنی او بهرنی اړخ

کله چې موږ د ديني پلوراليزم خبره کوو نو له دوه ډوله پلوراليزم سره مخ کېږو چې يو يې په دين کې دننه دی او بل يې بهر. يا په بل عبارت هر دين هم په خپل ځان کې دننه ګڼ تعبيرونه او فکري مکتبونه لري او هم له دينه بهر د نورو اديانو په وړاندې واقع دی.د ديني پلوراليزم د څېړنې او پر هغه د بحث پر مهال بايد دواړو ته پام وشي. د اسلام په څېر نور دينونه هم ببلابېلي ډلې لري چې هره يوه ځان د خپل دين اصلي منوونکې او عملي کوونکې بولي، څرنګه چې د دې ډلو تر منځ د طبعي او عيني غوښتنو له امله مطلق اتحاد ممکن نه دی او ان ډېر وختونه تر خپل منځ ګڼ تضادونه لري، له همدې امله د هر دين لوی پوهان او ډېری پيروان دې ته اړ شوي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور دننه پلوراليزم په رسميت وپېژني.

په اسلامي نړۍ کي شيعه او سني دوې لويې مذهبي ډلې دي چي په ميلونونو پيروان لري او بيا په هره فرقه کي دننه نور فرعي مذهبونه دي چي په سنيانو کي څلور مذهبونه حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي يې خورا مشهور دي او د اسلامي نړۍ په لروبر کي په لکونو پيروان لري.

لنډه دا چي د هيڅ دين پيروان له داخلي پلوراليزم څخه انکار نه شي کولای. البته ځيني داسي وړې ډلې او يا ځيني اشخاص به حتما په هر دين کي وي چي داخلي پلوراليزم نه مني او که يې وس ورسېږي پر ضد يې مبارزه هم نه سپموي. په لوېديځ او پر مختللي جهان کي عام وګړي او مذهبي ګروپونه د دې اجازه نه لري چي د نورو مذهبي ډلو د حذف او يا له منځه وړلو لپاره عملي اقدامات وکړي، ځکه هلته د قوي حکومتونو له امله دغه ډول چارو ته په هيڅ صورت اجازه نه ورکول کېږي.

مګر په نظري ډول داسي ډېر افراد شته چي د خپل دين په داخل او بهر کي د پلوراليزم خلاف دي او له مجبوريته يې پر خلاف د خشونت مبارزه نه شي کولای، مګر د تبليغ په ساحه کي تل وايي چي حق يوازي له دوی سره دی. خو په اسلامي نړۍ کي بيا داسي ډلې او اشخاص شته چي په نظري او عملي توګه د هر ډول پلوراليزم خلاف دي. دوی حق او حقيقت يوازي هغه څه بولي چي دوی ورباندي باور لري او د خپلو مشرانو، کتابونو، امامانو او رهبرانو له خوا ورته ښودل شوی دی. ډېری افراطي ګروپونه په همدې اند دي چي د دوی تګلاره او عقيده پر حق ده هر څوک چي يې نه مني هغوی پر باطل دی بايد له منځه يووړل شي.

په هر حال داخلي پلوراليزم په مجموع کي د عمل او تيوري له مخې يو منل شوی حقيقت دی. مګر پاتي شو له يوه ځانګړي دين څخه بهر پلوراليزم، په دې اړه د غرب ډېری دين پوهان دې پايلي ته رسېدلي چي هم د اوسنيو ټولنو موجود حقيقت دی او هم بايد د ځينو منطقي او فلسفي دلايلو له مخي ومنل شي، خو پوښتنه دا ده چي د بهرني پلوراليزم په اړه اسلام او مسلمانان څه وايي؟ په لاندي سرليک کي به د دې پوښتنې د ځواب هڅه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پلوراليزم او اسلام

لکه وړاندې چې مو يادونه وکړه په اسلام کې کورنۍ پلوراليزم په عمل او تيوري کې منل شوی دی او په دې اړه د ډېر بحث ته اړتيا نه ليدل کېږي. خو خبره د اسلام او نورو دينونو ده. مطلب دا چې اسلام نورو دينونو ته په کومه سترګه ګوري؟ مني يې، ردوي يې او که يې د يو ټولنيز واقعيت په توګه زغمي؟

په دې کې شک نه شته چې د اسلام له پيله تر ننه د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې مسلمانانو د نورو دينونو پيروان منلي دي او له هغوی سره يې ګډ ژوند کړی دی. نن هم په ګڼو اسلامي هېوادونو کې د مختلفو اديانو پيروان ژوند کوي او د مسلمانانو له خوا ورته څه ان جدي خطر متوجې نه دی. له دې ښکاري چې مسلمانان د يو موجود حقيقت په توګه د نورو دينونو پيروان زغمي، ځکه له دې پرته بله هيڅ چاره نه شته او دا يو اجباري حقيقت دی. د اسلام په اساسي سر چينو قران او سنت کې هم داسې ګڼې بېلګې شته چې مسلمانانو ته د نورو دينونو له پيروانو سره د سوله ييز ژوند کولو اجازه ورکوي.

د ځينو افراطيانو کړنې د هغوی خپل شخصي برداشت دی، که د اسلام تاريخ او د دين اساسي سرچينې مطالعه کړو هلته د يو ټولنيز واقعيت په توګه د نورو دينونو له پيروانو سره سوله ييز او ارام ژوند بالکل منل شوی حقيقت دی. د لا اکراه في الدين، لکم دينکم ولِیَ دين او داسې نور قراني او نبوي ارشادات د پورتنۍ ادعا د ثبوت ښې بيلګې دي. خو ايا اسلام په نظري ډول يوازې ځان حق ګڼي او که نور دينونه هم له حق او حقيقت څخه برخمن بولي؟

که د دغې پوښتنې د دقيق ځواب لپاره په اول سر کې قران ته رجوع وکړو نو هلته ځينې داسې نصوص شته چې ښيي نور دينونه هم د حق او حقيقت ځينې برخې په لاس کې لري. په تېره د عيسويت او يهوديت په څېر اسماني دينونه چې اسلام د هماغو ابراهيمي دينونو اپډيټ يا اصلاح شوې بڼه ده. په داسې حال کې چې د هغو له ځينو احکامو او لارښوونو سره مخالفت هم کوي، خو دا په دې مانا نه ده چې اسلام نور دينونه په مطلق ډول ردوي او خلاف يې دی. پر دې سربېره اخروي نجات يوازې د اسلام په عقيده او عمل پوره نه غوټه کوي بلکې د اسلام پر اساس اخروي نجات هم په دې پورې مشروط ګڼي چې کوم څوک مسلمان نه دی هغه ته به د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوت په مکمل او واضح ډول رسېږي، د هغه شکونه او شبهات به ځوابېږي او په مجموع کي به پر هغه حجت تامېږي، له دې پرته اسلام د نورو دینونو پیروان ګرم نه بولي او ان په یوه ایت کي خو یې ویلي: (وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولًا )(الاسراء: ۱۵) یاني موږ تر هغو چا ته عذاب نه ورکوو چي رسول مو نه وي ورته لېږلی.

که د دې قراني اصل له مخې د نړۍ وضعیت ته وګورو نو ډېرو کمو سیمو او قومونو ته رسولان راغلي له همدې امله ویلای شو چي اخروي نجات او له عذابه خلاصون صرف په دې پوري نه دی تړلی چي اسلام به مني. که څه هم د بهرني پلورالیزم د نظري او تیوریکي اړخ په اړه د ډېری مسلمانو دینپوهانو غبرګون چندان مثبت نه دی، خو د قران متن ته په رجوع کولو سړی ډېر داسي ایتونه موندلای شي چي ښیي د اسلام پر بنسټ اخروي نجات یوازي هغه مهال مطرح دی چي د دعوت، استدلال، معارضې، پوښتونو او وضاحت ټول پړاوونه د روښانه تګلارې په رڼا کي ترسره شي او دا هم هغه مهال چي د اسماني پیغام راوړونکی رسول ژوندی وي او د خپلو مخاطبینو هر ډول نیوکو ته قناعت کوونکي ځوابونه ورکړي. د رسول تر مړینې وروسته د نجات اساسي ټکی نېک اعمال دي، عقیده بیا د هر چا خپله شخصي تجربه ده چي د همده په انتخاب پوري تړاو لري.

## د پلورالیزم مخالف مکتبونه

په غرب کي د پلورالیزم په وړاندي ځیني نور ایزمونه یا مکتبونه هم شته چي لاندي به په لنډ ډول ورباندي رڼا واچوو:

### ۱) انحصار پالنه (Exclusivism)

انحصار پالنه یوازي د یوه دین پر حقانیت باور لري. یاني یو خاص دین په دې عقیده وي چي هر ډول نېکمرغي او حقانیت له ده سره دی او بل هیڅ دین د غه ښېګڼه نه لري.

### ۲) شمولیت(Inclusivism)

دا فکر د مطلق دین پر حقانیت باور لري او د دینونو نسبي حقانیت مني. یاني یو دین په دې باور ولري چي نور دینونه هم زما په څېر له حقانیت او سعادت څخه برخمن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳) بطلان پالنه

دا مفکوره ټول دینونه باطل ګڼي او بېلابېل اسماني او ځمکني دینونه د بشري ذهنیت پیداوار بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلام او ټروریزم

که کوم څوک د عیسایي ټروریزم اصطلاح وکاروي نو یو څوک به ووایي چي ته متضاد ترکیب (contradictory term) کاروې، عیسایت له ټروریزم سره هیڅ اړیکه نه لري عیسی علیه السلام ویلي چي تاسو له خپل دښمن سره مینه وکړئ: (Love your enemy) د عیسایت لارښوونې پر مینه (Love) بنا دي نو په داسي حال کي عیسایي ټروریزم هیڅ معنا نه لري مګر دا نیمه رښتنولي ده، سمه ده چي عیسی علیه السلام ویلي تاسو له خپل دښمن سره مینه وکړئ مګر د نیو ټیسټمینټ له روایت سره سم عیسی علیه السلام دا هم ویلي چي داسي فکر ونه کړئ زه د سولي کولو ته راغلی یم بلکي جګړې ته راغلی یم.

Do not think that I came to bring peace on earth. I did not come to bring peace but a sword. (۱۰:۳۴)

نو بیا وجه څه ده چي د عیسی علیه السلام له دې ښکاره لارښوونې سره – سره هیڅوک پر عیسایانو د ټروریزم تور نه پوري کوي؟ د دې وجه دا نه ده چي عیسایان جګړې نه کوي، ساده وجه یې دا ده چي دوی خپلې جګړې د ملي ګټو (national interest) په نوم کوي، نه د عیسایي مذهب په نوم. مثلا هټلر یو عیسایي وو هغه دویمه نړیواله جګړه وکړه خو دا جګړه یې د عیسایت په نوم نه بلکي د جرمني قوم په نوم وه، همدا راز امریکا په ویټنام کي تر لسو کلونو زیاته جګړه وکړه خو هغوی هم داسي ونه کړل چي دا یې د عیسایت جګړه وبلله بلکي د دې پر خلاف یې وویل چي دوی د امریکایي ګټو لپاره جنګېږي.

ځیني خلک دا ګیله کوي چي رسنۍ غواړي اسلام ته د ټروریزم د نوم په ورکولو هغه بدنام کړي خو زه به ووایم چي په دې کي پړه د رسنیو نه ده ځکه مسلمانانو په خپله هر ځای د اسلام په نوم زور – زیاتي ته دوام ورکړی او د جهاد په نوم یې یادوي. په داسي حالت کي د رسنیو رول له دې پرته بل څه نه دی چي د مسلمانانو وینا او عمل د دوی له خپلې دعوې سره سم بیانوي. که مسلمانان خپلې جګړې ته د ټولنیزو ګټو نوم ورکړي نو د مسلماني ټولنې نوم به ورسره پیوست شي خو کله چي دوی خپل تاوتریخوالي ته د اسلام نوم ورکوي نو دا بېخي طبعي ده چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسنیو کي به د اسلامي تشدد په نوم یادېږي.

اصل حقیقت دا دی چي د اسلام ټولي لارښووني د سولي پر اصولو بنا دي. د اسلام ۹۹ سلنه ایاتونه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له سولي سره تړاو لري مګر له دې سره – سره ځیني یا یو څه ایاتونه له جګړې سره هم تړلي دي خو په اسلام کي سوله عمومي حیثیت لري او جنګ استثنایي.

د امضمون د مولانا وحید الدین خان له کتاب امن عالم څخه چي د پښتو ژباړې نوم یې اسلام سوله که جګړه؟ دی، ژباړل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ايا اسلام د تشدد اجازه ورکوي؟

ايا اسلام د تاوتريخوالي اجازه ورکوي؟ د دې ځواب دادی چي نه! دا سمه ده چي په اسلام کي د دفاع لپاره د جګړې اجازه شته، دا اجازه په هر مذهبي او غير مذهبي سيستم کي هم شتون لري خو زما په اند تاوتريخوالی له دې څخه د جلا يوه بل کار نوم دی. په اسلام کي هيڅکله د هغه اجازه نه شته، په عمومي ډول چي د تاوتريخوالي يا تشدد لفظ د کوم مفهوم لپاره کارېږي هغه دادی چي د خپل دښمن يا مخالف د ختمولو لپاره له زوره کار واخيستل شي او په اسلام کي دا تصور هيڅ ځای نه لري. که يو څوک بل کس خپل مخالف ګڼي نو پر همدې بنسټ د ده لپاره دا نه ده روا چي د هغه د ختمولو په نوم يې پر خلاف تاوتريخوالي ته لاس کړي.

د قران کريم له مطالعې ښکاري چي په اسلام کي د دښمن او يرغلګر ترمنځ توپير شوی، که يوه ډله د بلې پر خلاف په يو اړخيز ډول تاوتريخوالي ته لاس کړي نو له قران سره سم هغه بل لوری اجازه لري چي د يرغلګرو پر خلاف د ځان دفاع وکړي او د اړتيا په کچه له تاوتريخوالي کار واخلي. په قران کي ويل شوي چي د جګړې اجازه هغه چا ته ورکول شوې چي د دوی پر خلاف جګړه شوې ده.

Permission of fighting is given to those who are attacked. (۲۲.۳۹)

مګر د دښمن يا مخالف معامله له دې جلا ده، د دښمن په اړه د اسلام لارښوونه عيني هماغه ده چي په بايبل کي د عيسیٰ عليه السلام په ژبه داسي راغلې او ويلي يې دي چي تاسو له خپل دښمن سره مينه وکړئ.

Love your enemy (Luke ٦-٣١)

په قران کي له دې منعه شوې چي د دښمنۍ ځواب په دښمني ورکړل شي. قراني وينا ده چي بدي او نېکي سره برابر نه دي، تاسو يې په ځواب کي هغه څه وواياست چي غوره وي بيا به وګورئ چي ستاسو او د کوم چا ترمنځ دښمني وه هغه داسي بدل شوی لکه نژدې دوست. (حم

(c) ketabton.com: The Digital Library



السجدة: ۳۴)

له دې څخه معلومه شوه چي د اسلام له لارښوونو سره سم له دښمن سره جګړه نه ده په کار بلکي هغه باید دوست شي، د اسلام له وینا سره سم هر انسان په حقیقت کي پر طبیعت پاتي دی یو ازي په موقت ډول کله –کله تري دښمن جوړېږي. که له هغه سره په یوه اړخیز ډول ښه چلند وشي نو خپل فطرت ته به را وګرزي او پخواني دښمن به په او سني دوست بدل شي.

تاسو پر دې غور وکړئ چي یو شخص ولي تشدد کوي؟ د دې یو سبب آیډیالا جیکل ایکسټریمیزم (ideological extremism ) دی. په کوم ځای کي چي ایکسټریمیزم نه وي هلته به تشدد هم وجود ونه لري، په اسلام کي ایکسټریمیزم (افراطیت) ممنوع بلل شوی او د دې ډول تاوتریخوالي جرړې غوڅې شوې دي. اسلام ویلي چي په دین کي هیڅ ډول غلو نه شته. (النسايي، ابن ماجه، احمد)

There is no extremism in the religion of Islam.

د همدې ډول تاوتریخوالي یو بل سبب غوسه ده او غوسه په اسلام کي یوه ډېره لویه اخلاقي ناولتیا بلل شوې. په قران کریم کي مومنان په دې ستایل شوي چي کله هغوی په غوسه شي نو بخښنه کوي. (الشوری: ۳۷)

دا یو څرګند حقیقت دی چي که د اسلام له دې لارښوونې سره سم خلګ د غوسې پر مهال له بخښنې کار واخلي نو تاوتریخوالي یا تشدد ته به اړتیا پېښه نه شي. د تشدد یا تاوتریخوالي یوه بله وجه داده چي انسان فکر کوي دا یوه پیاوړې وسله ده او په کارولو یې خپل هدف تر لاسه کولای شي خو په قران کریم کي د دې ذهنیت د ختمولو هڅه شوې ده. د قران له وینا سره سم تاوتریخوالي یوازي بې ګټې منفي عکس العمل دی. د کوم مقصد د تر لاسه کولو اغېزناکه او ګټوره ذریعه نه ده. د قران لارښوونه داده چي که کوم وخت ستاسو تر منځ شخړه پیدا شي نو لانجې ته یې مه رسوئ چي بالاخره په تاوتریخوالي واوړي بلکي د سوله ییزې لارې په غوره کولو شخړه په لومړۍ مرحله کي له منځه یوسئ. له همدې امله په قران کي ویل شوي چي سوله غوره ده. (النساء: ۱۲۸)

Reconciliation is the best.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې معلومه شوه چې د اسلام لارښوونه داده چې کله مو له کوم چا سره د يوې معاملې په اړه شخړه راشي نو د حل لپاره يې سوله ييزه تګلاره (conciliatory course of action) غوره کړئ، نه د شخړې تګلاره (confrontational course of action). څرګنده ده چې که د اسلام دا لارښوونه عملي شي نو د شخړې له پيدا کېدو سره - سره به خبره تاوتريخوالي ته نه رسېږي. په دې مسئله د پوهېدو لپاره د رسول الله يوه وينا ډېره مرسته کولای شي، هغه داده چې ان الله يعطى على الرفق ما لا يعطى على العنـــف (صحيح مسلم) يعني الله په نرمي هغه څه درکوي چې په سختي يې نه درکوي.

د رسول الله په دې وينا کې د فطرت قانون بيان شوی دی. په دې دنيا کې چې خدای د فطرت کوم نظام را منځ ته کړی دی هغه پر داسي اصولو ولاړ دی چې دلته د هر هدف د تر لاسه کولو لپاره سوله ييزه طريقه ډېره اغېزناکه او منتجه ده. د دې بر خلاف د تاوتريخوالي طريقه ويجاړې را منځ ته کولای شي خو د کوم مثبت هدف لپاره ګټوره نه ده. دلته دا زياتونه هم ضروري ده چې اسلام او مسلمانان دواړه يو شی نه دي. اسلام د يوې ايډيالوژۍ نوم دی او مسلمانان د هغې ډلې نوم دی چې اسلام يې د دين په توګه غوره کړی دی. په داسي حالت کې بايد د مسلمانانو کړنې د اسلامي لارښوونو له مخې وارزول شي نه دا چې مسلمانان څه کوي هغه اسلام وبلل شي.

که کوم مسلمان يا د مسلمانانو کومه ډله تاوتريخوالی تر سره کوي نو دا يې خپل شخصي کار دی. د داسي خلګو په اړه بايد د قران کريم په ژبه وويل شي چې که څه هم دوی د اسلام دعوه کوي خو اسلام يې له زړه نه دی منلی. (الحجرات: ۱۴)

يادونه: دا ليکنه ژباړل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناموس قبايلي تصور

د ناموس لفظ د اسلامي نړۍ په اخلاقي نظام کې هغه تصور دی چې له کبله یې یو نارینه ځان د ښځینه صنف په وړاندې د ځینو خاصو واکونو څښتن ګڼي. د عربي او فارسي ژبو په قاموسونو کې ناموس د الهي شریعت، قانون، عفت او عصمت په مانا بلل شوی دی.

د ناموس ساتنه په وروسته پاتو او قبایلي ټولنو کې د شرافت، غیرت او ویاړ معیار ګڼل کېږي. د ناموس ساتنې له تصور څخه د ښځو په وړاندې د فرهنګ او مذهب له یو ځای شویو احکامو داسې قیودات رامنځته شوي چې ښځې د کور له څلورو دېوالونو پرته د بل هیڅ ډول بهرني فعالیت واک نه لري. په موږ کې دغه ډول افکار هغه وخت نور هم حساس شول چې هیواد ته پر فرهنګي دودیز مذهبي فکر سربېره جهادي ایډیالوژي هم راوړل شوه. ځکه د یوه مرکزي حکومت په له منځه تلو ځینو فقهي او فرهنګي تصوراتو د قانون بڼه ومونده او هر هغه سیاسي نظام او نظر له دې امله مردود وګڼل شو چې د ناموس په اړه یې تګلاره او نظر د قبایلي تصور خلاف وو.

په افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ کې د اسلامي انقلاب د راوستونکو -غوښتونکو لویه ستونزه دا ده چې له یوې خوا په دیني فکر کې د حکم تر منشا او هدف په شکل پسې ډېر مښلي او پر دې سربېره د دین په اساسي لارښوونو کې د فردي او مدني احکامو موقت او ثابت احکام نه تشخیصوي. د اسلام له پیله تر دې دمه چې دا دین له کومې فرهنګي -ټولنیزې حوزې د زماني یون په اوږدو کې له یوه ځایه بل ځای ته لېږدېدلی او په مختلفو سیمو کې یې د بېلابېلو فرهنګي، تاریخي او سلیقوي اغېزو له امله کوم رنګ خپل کړی هغه پر یوه مهال په مختلفو سیمو کې د ګڼو برداشتونو له امله ډېر وخت د یو -بل ضد دی چې دا ډول تعبیرونه په خپل ذات کې رانښیي د فرهنګ او زمانې په یوه خاصه مقطع کې د دین عملي شوی شکل د هغه جوهر یو خاص څرګندوی دی چې د هغه له منشاء سره تړاو لري.

تر ډېره د ښځینه قشر په پر تله د نارینه جنسي، فرهنګي، اجتماعي او مذهبي برلاسی د دې سبب شوی چې دغه حالت د دین او فطرت تقاضا وګڼل شي. له همدې امله موږ وینو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیمي نړۍ په هیوادونو کي نارینه هرڅه ته ازاد دی او په هیڅ حقوقي او قانوني تړون کي له ښځو سره سلا مشورې او نظر اخیستلو ته اړتیا نه ویني. همدغه ذهنیت د دې لامل ګرزي چي ښځه د ناموس په نوم سنګساریږي، د نارینه د کړیو ګناهونو د جبیرې وسیله ده، د فحشا له قبایلي تصور سره سم یې مرګ روا دی، د خپل ژوند او ملګري د انتخاب حق نه لري او د نارینه د هرډول شهواني غریزو قرباني ده. د ورور، پلار او انزوی د جنسي غریزې د اشباع لپاره د ښځې قرباني هیڅ د شرم او اخلاقي ارزښتونو مخالفت نه ګڼل کیږي، خو که یوه مېرمن د دین او انسانیت پر بنسټ د شخصي ژوند د خپلواکۍ، کار او زده کړو غوښتنه وکړي نو د ناموس له قبایلي تصور سره سم ورته ډول – ډول سزاګانې ورکول کیږي.

کله چي د دین متن د تاریخ په یوه پړاو کي د انساني فرهنګ او تعامل حوزې ته داخلیږي نو د وخت غوښتنې او برداشت په کي مهم او اساسي نقش لري. په تېره کله چي د دین مخامخ تعبیروونکی مري او پر ځای یې نور تعبیر کوونکي د دیني تشریح دنده پر غاړه اخلي نو ستونزه نوره هم ژوریږي، ځکه په دې وخت کي د یوې طبعي پدیدې په توګه ګڼ تفسیرونه د دین د متن ځای نیسي او له امله یې دویم او درېیم لاس داسي مواد د خلکو لاس ته رسیږي چي په حقیقت کي هیڅکله تر نقد او کره کتنې لوړ نه دي. په بل عبارت دغسي تعبیرونه د هغه وخت د سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو، ذهني سطحې او نورو عواملو غوښتنه وي. مګر کله چي وخت تېریږي نو د وروسته وخت مذهبیان دغسي تعبیرونه وروستي ګڼي، تغییر یې نه مني او څرنګه چي د نوي عصر غوښتنې بېلې وي نو له همدې امله د دین او عصري تقاضاوو ترمنځ یو طبعي ټکر رامنځ ته کیږي.

د ناموس په اړه د قبایلي تصور ریښه هم اصلا په دې کي ده چي په دغه ډول ټولنو کي لوی شوي وګړي او اجتماعي جوړښتونه د خپل فرهنګ او مذهبي تعبیر له مخې ښځه یو محکوم، بې اختیاره او د کور په انګړ کي ایسار شوی مخلوق ګڼي او همدا حالت د دین او اخلاقي اصولو غوښتنه بولي. مګر که دولت او یا د بشري حقوقو نور مدافعین غواړي دې بد حالت ته تغییر ورکړي نو د سنتي او قبایلي ټولنې وګړي دغه تغییر د خپل دین تخریب ګڼي او فکر کوي چي پر ناموس یې تېری کېدونکی دی، له همدې امله د ښځو د ژوند ښه کولو او هغوی ته د واقعي دیني او بشري حقوقو هغه ټولې هڅې شنډیږي چي بېلابېلي کړۍ یې تر سره کوي. په مجموع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي لـه ښځو سره د خشونت چلند، د هغوی د فردي، اقتصادي، سياسي، تعليمي او ټولنيزو حقوقو غصب او د ناموس، عصمت او عفت په نوم وژل، خرڅول، د جنسي اشباع لپاره د هغوی کارول او د څاوريو په څېر پيرو پلور د همدغسي فرهنګي-مذهبي وروسته پاتيو الي پايله ده.

که ښځه تر ناموس او مروج مذهبي وفرهنګي فکر ورها خوا د يوه انسان په توګه ومنو، له صنفي ځانګړنو او د ټولنې په منځ کي د روابطو له خاصيتونو پرته يې د خپل ذات او جوهر په ساحه کي يو داسي څوک وګڼو چي د يوه نارينه په څېر ټول انساني او بشري استعدادونه لري او په هيڅ ډول د انسانيت په ډګر کي تر هغه کمه نه ده( د ناقص العقله موجود په توګه خوله په خوله کېدونکي روايت د روايت او درايت په رڼا کي ناسم دی)نو هغه وخت ممکنه ده چي ښځه د ښځې په توګه انساني او فطري حقوق تر لاسه کړي. د تاريخ په اوږدو کي چي فرهنګونو او مذهبي دريځونو ښځې ته کوم مقام ورکړی هغه دي يو ځل بيا د نن عصر اړتيا ته پام د بحثونو او نقد محور وګرزي.

د ناموس په اړه موږ ته راپاته تصورات او افکار د بېلابېلو تاريخي دورو پاتي شوني دي چي هيڅکله مقدس او دايمي نه شي کېدای. د دين متن په تاريخي حوزه کي تل خپل رنګ بدلوي او نوي تعبيرونه يې ځای نيسي، که موږ د شکل پر ځای د ماهيت اصليت ومنو نو بيا ډېره اسانه ده چي د فقهي متونو زړو پرېکړو ته د متن پوهنې له نويو اصولو سره سم د حکم له ماهيت سره موافق داسي تعبير پيدا کړو چي هم هدف پوره کړي او هم د عمل په ډګر کي د زاړه شکل ځای ونيسي.

قبايلي تصورات د جامد ټولنيز حالت څرګندوي دي، کله چي د علم او بحث په وسيله دغه جمود مات شي نو هله ممکنه ده چي د ناموس په اړه دا ډول تصورات هم پر خوځښت راځي، شنل کېږي او د معقولو حقوقي، قانوني او بشري اصولو په رڼا کي خپل ځای نويو مقولو او اندونو ته پرېږدي. دلته يو ازيني خلا دا ده چي ذهنونه جامد او قلمونه په وېره کي دي. يو ځل بايد دواړه وخوځېږي چي د ناموس په نوم د ښځې پر غمل شخصيت بيرته هغې ته وسپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جګړه یو اسانه انتخاب

په ټولنه کي ځان مطرح او مهم ښودل د هر انسان یوه طبعي غوښتنه ده. هر انسان په خپل ژوند کي هڅه کوي چي نور یې قدر وکړي، اهمیت یې ومني، شخصیت یې تسلیم کړي او لږتر لږه په خپله حلقه کي دومره ارزښت ولري چي خبره یې واورېدل شي او نظر یې اورېدونکي ولري. په ولسواکو او پرمختللو ټولنو کي د انسان پر دې فطري غوښتنه له علمي پلوه ګڼې څېړني شوې دي او د پر ځای کولو لپاره یې اقدامات کړي دي.

زموږ په څېر یوه سرپټې او دیکتاتوره ټولنه کي هر څه تر پشار لاندي دي. د انسان فطري غوښتني یا په رسمیت نه پېژندل کېږي او یا یې په وړاندي مذهبي، فرهنګي، ټولنیز او سیاسي خنډونه موجود دي.

موږ چي په عنعوي ډول له معاصر جهان څخه د ژوند په هر ډګر کي وروسته پاتي یو نو د نوي عصر ساینسي او فکري پرمختګ له نویو ننګونو او ستونزو سره مخ کړي یو. ځکه موږ د خپل تاریخ په هر پړاو کي تر هغه مهاله خوبولي پاتي شوي یو چي نورو د خپلو موخو د تېرېدو په لار کي راڅخه د کار اخیستلو او یا له خپلې مخې د لري کولو پر مهال خوځولي یو. زموږ ټولنې ته تل نوي توکي او افکار په وارداتي ډول راغلي چي ځینو کسانو منلي او اکثریت د خپل فرهنګي ذهنیت، قبایلي نظام، تقلیدي مذهبي اند، له نوري نړۍ د نه خبرتیا، لوړې کچې بې سوادۍ او په ځینو مواردو کي د نورو د مداخلو او دسیسو له امله ورسره مخالفت کړی دی.

څرنګه چي د هر مهال په ماډرن سیستم کي اکثریت وګړو ځانونه بې ګانه ګڼل او په هغه کي یې ځان ته د لنډ مهال لپاره په اسانۍ ځای نه شوای موندلای نو له همدې امله د نوي عصري وارداتي سیاسي، اداري، علمي، ټولنیز، فکري او ساینسي پرمختګ د فرهنګ، مذهب، ملتپالنې، هیواد ساتني او ملي مسایلو په نوم سخت ځپل شوي چي په دې مبارزه کي تل د منلي ملي قیادت پر ځای له قبایلي دود سره سم قومونو او مذهبي ډلو پر خپل سر مقاومت کړی او هر هغه چا ښه نوم تر لاسه کړی چي په اصطلاح ښه جنګیالی او توریالی وو. مګر دې مبارزې او اتلولۍ که د مقاومت په شپو -ورځو کي لنډه ګټه درلوده خو، د هیواد او ملت لپاره یې دایمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدمرغي هم راوړي ده. ځکه په داسي شرايطو کي هر هغه چا ارزښت او لوړ ټولنيز، سياسي او پوځي مقام تر لاسه کاوه چي پخپله به ښه جنګيالی او د زور خاوند وو. په داسي حالاتو کي د زيار، خدمت، علم او غوره ټولنيز او سياسي فعاليت په پرتله جګړه يو اسانه انتخاب وو، دا اوس هم ډېری د ملت او دولت ضد کړی د حکومت په داخل او بهر کي ځکه وسلې، خشونت، فساد، قاچاق، خيانت، غلا او جګړې ته لاس اچوي چي د دوی لپاره په مالي، سياسي او ټولنيز لحاظ د واک او ځواک اسانه لار ده. په وروسته پاتو ټولنو کي وګړي د مشروع پرمختګ پر ځای هڅه کوي د لنډو ناقانونه لارو په وسيله خپل هغه هدف ته ځان ورسوي چي دوی ته په ټولنه کي لوړ سياسي او ټولنيز اعتبار ورکوي. په تېره بيا هغه مهال چي له دغه ډول ناوړه کړنو سره د ځينو مذهبي کړيو، اشخاصو او استخباراتي شبکو له خوا مذهبي فتوا هم ونښلول شي. مذهب هغه حساسه پديده ده چي که يو ځل په نا سم ډول د ډلو او اشخاصو لاسونو ته ولوېد نو له دې لارې بل شوی او رنه يوازي خپل پيروان سوځي بلکي ټولې سيمې ته يې زيان رسېږي.

اسلامي نړۍ په تېره افغانستان نن د مذهبي جنون په ګرمه بټۍ کي د هغو ډلو او اشخاصو په لاس د خپلو وګړو، سيمې او دنيا لپاره سور تنور دی چي له يوې خوا سخت ساده دي او له بلې خوا د نړۍ او سيمې د استخباراتي لوبو په داسي جال کي ښکېل شوي چي يو ځل يې د واک او ځواک د خوند تر کتلو وروسته زړه نه غواړي د دې لوبې په ډګر کي خپل تر لاسه شوی نوم او ارزښت له لاسه ورکړي. ياني په ټوله کي جګړه د قدرت او قوت پر سر ده، مګر شعارونه د دين او وطن ورکول کېږي. ځکه مونږ وينو چي د دين او وطن لپاره جګړه کوونکي تر بل هر چا همدغو دوو ته ډېر زيان اړوي، له کومه وخته چي د دين او وطن د ساتنې په نوم جګړه پيل شوې نه دين خوندي شوی او نه وطن، بلکي د ټولې نړۍ په سطحه افغانان بدنامه شوي، ملي ګټې له خطر سره مخ شوې دي، ملي تاسيسات ويجاړ شوي، په ميلونونو افغانان وژل شوي، معيوب شوي، له هيواده وتلي، ورک شوي او بنديان شوي دي، دين دومره بدنام شوی چي په داخل او بهر کي هر مسلمان او اسلامي شعار ته د شک په سترګه کتل کېږي.

دې ټولو ته په پام هر د عقل خاوند په ډېره اسانۍ درک کولای شي چي د دين او وطن د شعار ورکونکو اصل هدف د واک او ځواک تر لاسه کول دي، نه دين او وطن ساتنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلامي نړۍ کي د ترهګرو ايډيالوژيک اساسات

ايا قران د ترهګرۍ کتاب دی او اسلام ترهګري غواړي؟ که داسي نه وي نو ولي د ټولي نړۍ ترهګري ډلي د خپل دريځ په دفاع او توجيه کي قراني ايتونه او نبوي سنت وړاندي کوي او ترهګري يوازي په اسلامي نړۍ کي محدوده ده؟ دا هغه پوښتني دي چي د دين په اړه خبرې کوونکی هر مسلمان ورسره مخ کېدای شي. لاندي به د همدې پوښتنو پر ځواب تم شو.

تر ټولو لومړی بايد په دې پوه شو چي عموما د ترهګر فکر او ترهګريزو کړنو تر شا دوه عمده عوامل دي چي يو يې د محروميت احساس او بل يې د واک غوښتني مفکوره ده. څرنګه چي د هر دين يو شمېر مخکښانو د زماني په يوه خاص پړاو کي د خلګو پر هرڅه پراخ واک درلود او د دين تر سيپڅلي پوښښ لاندي هيڅا نه شوای کولای چي د دوی د واک سلطه وننګوي، له همدې کبله چي يې کله د بېلابېلو عواملو پر بنسټ دغه پراخ واک يا کم او يا بېخي ختم شو نو د دوی کرکه راوپارېده او د خپل واک د بيا ترلاسه کولو لپاره يې وسله واله ترهګري پيل کړه چي په اروپا کي همدا رول کليسا لوباوه او د صنعتي انقلاب په راتلو سره ساينس ورو – ورو د کليسا د خاوندانو سياسي واک له منځه يووړ او د کليسا اربابان يوازي تر رسمي مذهبي چارو محدود شول. په پرمختللې نړۍ کي هم د اسلامي ډلو په څېر سخت دريځي شته، خو هلته د پياوړو حکومتونو له امله نه شي کولای چي له وسلې څخه په کار اخيستو د خلکو سياسي، ټولنيز، تعليمي، مالي، فردي او نور حقوق وګواښي.

له بله پلوه چي په کومه ټولنه کي عام وګړي فقر ځپلي وي، کار او روزګار نه وي، خلګ ټولنيز عدالت او غوره دولتي خدماتو ته لاس رسی نه لري، ملي ثروت او د هيواد عامه شتمني په مساوي ډول نه ويشل کېږي، پانګه او واک د څو محدودو کسانو او کړيو په لاس کي وي نو هلته ګڼې پرګنې او ډلې ځان محروم احساسوي چي له امله يې په لوږه او فقر د اخته وګړو او ملي غاصبينو تر منځ ټکر حتمي دی، په تېره بيا چيري چي د دغسي شخړو لپاره د مذهب په څېر د مقدسې سرچينې احساس پاروونکي ناسم توجيهات هم موجود وي. نو هلته د ټولنيز توپير دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړودوږ ډېر خطرناک شکل خپلوي چې همدا اوس موږ له الجزایره تر صومالیې او له عراقه تر افغانستانه ورسره مخ یو.

کله چې د غربي ځواکونو په لاس د عثماني ترکانو واکمني یا د مسلمانانو په اصطلاح خلافت ختم شو (چې د اسلامي فقهي له معتدل تعبیر سره سم خلافت هم نه شي بلل کېدای) له همغه وخته تر ننه مسلمانانو د خلافت د نظام بیا احیا کولو په موخه د اسلامي نړۍ په ګڼو سیمو کې د شته ټولنیز- سیاسي نظام پر خلاف وسله وال بغاوتونه کړي دي. د دوی د استناد لویه سرچینه د اسلامي فقهي هغه ذخیره وه/ده چې اسلامي پوهانو د مسلمانانو د عروج په زمانه کې د خپل وخت له سیاسي او ټولنیز فکر سره سمه لیکلې وه. څرنګه چې د عروج او زوال وختونه بېلابېلې تقاضاوې لري، له همدې امله د اسلامي نړۍ هغو فقهي مخکښانو په دې سره لویه تېروتنه وکړه چې د مسلمانو د عروج پر مهال تدوین شوې فقه یې هغه مهال هم د تطبیق وړ وبلله چې سیمه یې د نورو له خوا ونیول شوه او د مسلمانانو تر واک لاندې پراخه خاوره د نورو لاس ته ولوېده.

په دې کې شک نه شته چې په قران کریم او نبوي سنتو کې په پراخه پیمانه د جهاد او قتال یادونه شوې، د دې کار د تر سره کوونکو لوړې درجې یې بیان کړې او ان په ځینو وختونو کې یې فرض او لازمي بللی دی، مګر ستونزه دلته ده چې د جهاد په اړه د قران او نبوي سنتو اصل روح او مراد سم نه دی درک شوی، ځکه په قران کریم او نبوي سنتو کې د جهاد یو ډول هغه دی چې نېغ په نېغه د الله له اجازې سره تړاو لري او پر هغه قوم پلی کېږي چې هغوی ته رسول راغلی وي او د رسالت د ټولو مراحلو یانې دعوت، انذار، بشارت او هجرت وروسته د الله په مستقیمه اجازه رسول او د هغه ملګري د حق د منکرینو پر خلاف وسله اخلي او د خدای د اخلاقي قانون له مخې هغوی د خپل ناوړه کردار په سزا محکوموي چې د جهاد دغه ډول یوازې او یوازې د رسول له وخت او شخصیت سره تړاو لري او بل هیڅوک نه شي کولای د دغه جهاد په استناد د نړۍ د ملتونو په وړاندې وسله پورته کړي او ورته ووایي چې یا به زما عقیده منې، یا به جزیه ورکوې او یا به وژل کېږې، دغه ډول لاربښوونې د رسول په وخت کې د اهل کتابو له خاصو ډلو سره تړلې د هغه وخت یو حکم وو چې نن هیڅوک د هغه د تطبیق حق نه لري، ځکه چې دا د الله له اخلاقي قانون سره د مخامخ تړلیو مخاطبینو په اړه دی، نن به کوم د عقل خاوند په داسې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي اسلام د سولي او نورو ملتونو او دينونو د زغم دين ومني چي په متن کي يې دغه ډول تنګ نظري موجوده وي؟ د اسلامي فقهې ستونزه همدغه ده چي د رسول له شخصيت سره تړلي ځيني خاص زماني احکام يې له هغو لاربنوونو نه دي بېل کړي چي عموم پکې دي، نه تر رسول پوري تړاو لري او نه تر ځانګړې زمانې او خاصو مخالفو او يا موافقو مخاطبينو پوري. د جهاد بل ډول د ظلم او تېري پر خلاف د خپل حق او ځان دفاع ده چي د نړۍ د نورو حقوقي مراجعو تر څنګ يې قران کريم هم له منلو انکار نه دی کړی، خو د دې لپاره يې ځيني شرطونه اړين بللي دي چي د مسلمانانو د عامه نظر توافق او د منظم دولت له خوا اعلان او ملا تړ يې اساسي شرطونه دي، که دغه شرطونه نه وي هغه جګړه او وسله وال خوځښت ترهګري، فتنه او په ځمکه کي فساد دی چي قران کريم د دغسي کړنو د ترسره کوونکو لپاره سخته سزا وضعه کړې او بايد د وخت واکمن هغوی ته سخته او داسي عبرتناکه سزا ورکړي چي بل څوک بيا دغسي بشر او دين ضد کړنو ته لاس وانه چوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اسلامي نړۍ کي مذهبي نرګسيت

نرګسيت په افرادو او ټولنو کي هغه نفسياتي او فکري ناروغي ده چي که يې مخه ونه نيول شي نو شونې ده چي ناوړه پايلې به يې بشپړ ملتونه د هلاکت کندې ته وغورځوي. په مجموع کي هره مذهبي او پر ميتافيزيکي باورونو ولاړه ټولنه د فرهنګي او مذهبي نرګسيت ښکار ګرزي. په کومه ټولنه کي چي د عقلانيت، منطق او پراخ، سالم او هر اړخيز نقد وجود ته زمينه نه وي مساعده، ټولنيزې، ديني، کولتوري، سياسي، تعليمي، مالي او...چاري صرف د تقليد او پخواني دود پر بنسټ تر سره کېږي، هلته د نرګسيت ناروغي حتمي ده.

دا مهال اسلامي نړۍ د تهذيبي نرګسيت تر څنګ له مذهبي نرګسيت سره هم مخ ده، په مسلمانانو کي ډېرى په دې عقيده دي چي دوى اصيل، جنتيان، د الله دوستان، د نړۍ پر مخ تر ټولو افضل، د لوړ باور څښتان، د دنيا او اخرت سرداران، په هر حالت کي د نورو د مرګ او ژوند واک درلودونکي، په هر ډول سياسي او ټولنيزو چارو کي د بشپړ او تل پاتي سيستم خاوندان او د هغه امت غړي دي چي هره کړنه يې د لوى رب له خوا تاييد شوې ده. په داسي حال کي چي د علم، تمدن، بشرپالنې، عقلانيت او يو متوازن پرمختګ له کاروانه ډېر شاته پاتي دي.

د مذهبي نرګسيت له امله ډېرى مسلمانان فکر کوي چي د دوى نوم او عقيده د همدې لپاره کافي ده چي هم په دنيا او هم په اخرت کي بريالي شي.

د خپل همدې نرګسيت له امله د معيار پر ځاى صرف پر انحصار او نوم تکيه کوي. د محسوسو لاس ته راوړنو پر ځاى هغه څه ته پنا وړي چي يا په تېر تاريخ کي د دوى د ځينو اشخاصو او ډلو له خوا شوي او يا د ميتافيزيکي نړۍ هغه ښېګڼې يادوي چي د مادي نړۍ په موجود بهير کي يوازي لېونيان پرې قناعت کولاى شي. که يې ټولنيز اخلاق، شخصي سلوک، کورنى ژوند او له نورو سره د مشترکو چارو تګلاره ووينئ نو له دوى سره صرف د خولې خبرې او پوچې ادعاوې دي، دا ځکه چي د خپلو ځينو باورونو پر بنسټ يې د دې نړۍ علمي پرمختګ ته شا کړې او د خپل تش نوم پر بنسټ په راتلونکې کامله نړۍ کي د دايمي جنتونو خوبونهويني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهبي نرگسيت د دين پر بنسټ د داسي انحصاري تفوق ادعا ده چي نجات، الهي رحمت، اخروي بريا، ټولنيز سيادت او سياسي مسؤوليت يوازي د ځانګړې مذهبي طبقي اجاره ګرزي. همدا او س هم موږ وينو او اورو چي ډېری مذهبپالي په لوړ اواز دا شعار ورکوي چي نوره نړۍ به يا اسلام مني، يا به د دوی له خپل ځانګړي تعبير سره سم د هغوی ايډيال اسلام پالي حرکت ته جزيه ورکوي او يا به وژل کېږي. همدغه فکر په اسلامي نړۍ کي يو ډول فکري او عقيدوي ريا رامنځ ته کړې او د دين پالنې ټول عقايد او باورونه په همدغو ادعايي شعارونه ډک دي.

دا مهال نوره نړۍ په علمي او عملي ډول د خپلې ټولنې اجتماعي سلوک ارزوي، پر نظرياتو يې کره کتنه کوي، انسان شموله قوانين جوړوي، بشر پالنې ته دعوت کوي، خپله شتمني پر تحقيقي چارو لګوي، د خرافاتو پر بنسټ رامنځ ته شوې سرې کرښې ماتوي، د کايناتو پټو رازونو ته د سرورايسته کولو هڅې کوي، د فردي-اجتماعي خپلواکۍ پر لور مزلونه وهي او لګيا ده د ژوند ټول اړخونه د سالم عقلانيت پر بنسټ ودانوي. مګر مسلمانان لا هم د پوهې، پرمختګ، بشريت او عملي اخلاقو پر ځای يوازي د انحصاري فکر ښښتان دي، نوره ټوله نړۍ بې لارې ګڼي، جنت يې په ټيکه اخيستی، د خدای رضا يوازي په تخريب او د هر نامسلمان په وژنه کي ويني، د خپل خاص تعبير پر بنسټ هر هغه مسلمان ورته واجب القتل ښکاري چي د خاصو ډلو خاص تعبيرونه ونه مني، مذهبي سيادت د هرې ستونزې حل ګڼي، له خدای ورکړې عقل څخه کار اخيستل ورته حرام ښکاري، د ماهيت پر ځای د شکل او مفهوم پر ځای د الفاظو غلامان دي او اخروي نجات يې يوازي تر دې پوري محدود کړی چي د عملي تقوا پر ځای شکلي او لفظي پرهيزګاري ترسره کړي. زموږ د ټولو ناخوالو حل په همدې کي دی چي نور نو د مذهبي نرګسيت دې ناروغۍ ته د عقلي او علمي اصولو په رڼا کي داسي درمل ومومو چي د ټولو لپاره ابدي روغتيا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نصوصو په تعبیر او تاریخ کې د تروریزم جرړې

له دې څخه هیڅوک سترګې نه شي پټولای چې موږ د اسلامي نړۍ په تېره د افغانستان په کچه دا څو لسیزې د تروریزم له لاسه رنځ وړو او د مذهبي تروریزم هر اړخیز قربانیان یو. دا په داسي حال کې چې دلته هره ناروا د مذهب په نوم تر سره شوې او ګڼو قتلونو ته د دین مقدسه جامه وارغوستل شوې ده. که پرون حکمتیار پر کابل راکیټونه اورول، په څواب کې یې نورو ټوپک سالارانو ناروا وژنې کولې، یا نن طالب په ځانمرګو بریدونو، سړک غاړې ماینونو، مخامخ جګړو او غلچکي بریدونو کې بې ګنا افغانان وژني او د دین، ملي اصولو او نړیوالو قوانینو پر بنسټ جوړ اسلامي دولت نه مني، د دې هر څه لپاره زموږ په خپل تاریخ او د نصوصو په تعبیر کې توجیهات لري. له تروریزم سره د مبارزې یو مهم اړخ همدا دی چې د ترهګرو د هغو تبلیغاتو مخه ونیول شي چې له امله یې ساده مسلمانان غولېږي او داسي انګېري چې د اسلامي نړۍ په لروبر کې روان فساد هغه اسلامي جهاد دی چې الله یې په قران کې امر کړی او رسول په خپل وخت کې عملي کړی دی، ځکه د دین په اساسي سرچینو کې هم د جهاد او وسله والې مبارزې نه یوازې یادونه شوې بلکې په ځینو وختونو کې یې وسله واله مبارزه اړینه بللې ده، مګر د افسوس ځای دا دی چې له لسیزو راهیسې د جهاد په نوم شوې فعالیتونه د دین له ار هدف سره اړخ نه لګوي. له بده مرغه زموږ تاریخ، فقهي متون، د احادیثو مراجع، شروحات، د دین په رڼا کې لیکل شوي ټولنیز اثار، سیاسي افکار، ادبیات، د مسلمانو اشخاصو ژوند لیکونه او د شریعت له مختلفو اړخونو سره تړلې بېلابېلې لیکنې ټول خپلو لوستونکو ته همدا پیغام ورکوي چې په دې نړۍ کې د مسلمان د ژوند یوازینی هدف د شریعت په رڼا کې د سیاسي واک تر لاسه کول او د زور زیاتي له لارې پر خلکو د ځانګړې ایډیالوژۍ تحمیلول دي. د دوی سیاسي فلسفه ټوله نړۍ یو کلی ګڼي چې باید اوسېدونکي یې د یوه مرکز او یوه واکمن تر مستقیم تسلط لاندې د هغه نظام په سیوري کې ژوند وکړي چې د سیاسي مذهبي مشرانو له خوا ورته وړاندې کېږي، که څوک له دې فلسفې سره مخالفت ښیي نو د هغه وژل دیني فریضه ده، د داسي یوه نظام د نه شتون په صورت کې باید مسلمانان وسلې ته لاس کړي او د قوې په زور هر هغه خنډ له منځه یوسي چې د داسي نظام مخه نیسي. په قران کریم کې چې د کوم جهاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه شوې هغه دوه ډوله دي یو یې د رسول له زمانې او د هغه له شخصیت سره تړاو لري چې د خدای د اخلاقي قانون په رڼا کې د رسول په مشرۍ له حق څخه د هغو منکرینو پر خلاف تر سره کېږي چې د حق دعوت په وړاندې خنډونه جوړوي، د خپل واک په دایره کې د خلکو فکري، فردي او مذهبي ازادي نه مني او هغه چا مخالفت کوي چې انسانان مساوات، روا بشري حقوقو او د منطقي لاربښوونو په رڼا کې د یوه الله لمانځنې ته رابولي. بل ډول یې له خپل ځان، مال، عقیدې او خاورې څخه د دفاع هغه مشروع حق دی چې د نړۍ ټول قانوني مراجع یې مني او دین هم جواز ورکړی دی. مګر دغه ډول جهاد څو لازمي شرایط لري چې د هغو له شتون پرته یې ترسره کول جهاد نه فساد دی. لومړی شرط دا دی چې د جهاد دغسې حکم د مسلمانانو افرادو او یا مختلفو ډلو ته نه دی متوجې، بلکې د دوی ټولنیزې ادارې او یا په اوسنۍ اصطلاح رسمي دولت ته راجع دی چې په دې اړه د تصمیم نیولو او ګام اخیستلو لپاره باید له ټولو مسلمانانو سره مشوره وکړي او کله چې هغوی ټول او یا یې اکثریت د دغسې ګام اخیستلو اجازه ورکړي نو دولت کولای شي چې د خپل ځان د دفاع په خاطر جهاد وکړي. مګر له دې سره یو بل شرط دا هم دی چې باید د خپل دښمن د مخنیوي او ځان د دفاع توان ولري او دغه ډول جهاد د دین، هیواد او ملت په ګټه وي، تر یوه قومانده لاندې وي، د اړوندې سیمې خلک یې ملاتړ وکړي او نتیجه یې هم پخپله د هغې سیمې خلک تر لاسه کړي.

زموږ بدمرغي دا ده چې د قران کریم او نبوي سنتو وروستی معقول جهاد مو په تروریزم بدل کړ او د خدای د اخلاقي قانون پر بنسټ د رسول له شخصیت سره تړلي ځیني اختیارات او اصول مو په خپل لاس کې واخیستل. که موږ خپل تاریخ، روایات او فقهي تعبیرات مطالعه کړو نو هلته هم ستونزه د همدې دوو جهادونو له نه توپیر او ناسم تعبیر څخه راولاړه شوې ده. زه یو ځل بیا پر دې ټینګار کوم چې که د اسلامي نړۍ حکومتونه په خاص ډول افغان دولت غواړي چې د تروریزم جرړې له منځه یوسي او د ترهګرو ایډیالوژیک ځواک وځپي نو اړینه ده چې تروریستان زموږ په شرعي اثارو کې له کوم څه څخه د ځان لپاره استفاده کوي هغه یو ځل بیا له سره وارزوي او په دې برخه کې مسلکي دین پوهانو ته دنده وسپاري چې د ترهګرو ناسمو توجیهاتو ته د دین د اصیلو لاربښوونو او روح په رڼا کې منطقي ځواب ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټېکنالوژي او ترهګري

طالبانو د خپلې واکمنۍ په وخت کې پر انځورونو بنديز لګولی وو. سينما، فلم، ويډيو، د کيمرې کارونه او ټلويزون ممنوع وو، موسيقي خو نو بېخي کفر ګڼل کېده او انټرنيټ ته يې نه لېوالتيا درلوده، نه موجود وو. مګر کله چې په دوه زره لومړي ميلادي کال کې د نړۍ والو ځواکونو په مرسته د دوی واکمني نسکوره شوه او دويم ځل بيا د پاکستان، سيمې او نړۍ والو استخبارتو په مټ د دې جوګه شول چې د هيواد په دننه کې د موجودې ادارې له ضعف او خلکو له عقيدې په ګټه اخيستلو ځان ته ځای پيدا کړي، نو مجبور شول چې يو وخت يې کوم څه ناروا، د شريعت خلاف او حرام بلل له هماغو شيانو څخه د خپلو تبليغاتو او پروپاګند لپاره کار واخلي.

نن موږ وينو چې طالبان د خپلو عملياتو ويډيو ګانې خپروي، له ترانو سره ډېره نرمه کمپيوټري موسيقي يو ځای کوي، په خپلو چاپي، ږغيزو او برېښنايي رسنيو کې له انځورونو پراخ کار اخلي، انټرنيټ کاروي او ډېری غړي يې نن له ټلويزون څخه استفاده کوي. دې حالت که له يوې خوا د نړۍ او نوې ټيکنالوژۍ په اړه د طالبانو پخوانی دريځ سخت باطل کړ او دوی يې اړ ايستل چې د شريعت له ادرسه يې د دې شيانو په اړه کومه فتوا صادره کړه وه بيرته يې په خپله ونه مني او د هغه څه کارونې ته اړ شي چې يو وخت به يې د هغو د کارونې له امله نورو ته سزاوې ورکولې.

له بلې خوا يې دا هم ثابته کړه چې ټيکنالوژي د ترهګرۍ له خپرولو سره ښه مرسته کوي، نن ترهګر په دې ښه پوهېږي چې د دوی لپاره ويډيو ګانې او نورې رسنۍ څومره مهمې دي، ټويټر، فېسبوک او هر ډول ټولنيزې شبکې په څومره اسانۍ د هغوی پيغام د نړۍ ګوټ-ګوټ ته رسولای شي؟ همدا وجه ده چې هره ترهګره ډله پوره هڅه کوي چې د پيغام رسونې او اړيکو له نويو اسانتياوو پوره ګټه واخلي.

په پر مختللې نړۍ کې ساينس او ټيکنالوژي د خلکو د سوکالۍ، ذهني ودې، هيواد جوړونې، رغنيزو چارو، طبي پرمختګ، تعليمي هڅو، اقتصادي ګټو او نورو ښېګڼو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارېږي، خو په وروسته پاتې نړۍ، خصوصا افغانستان کي له پرمختللې نړۍ راغلې ټيکنالوژي د ترهګرو او مذهبي مافيا لاس ته لوېدلي او د هغه څه لپاره يې کاروي چي دا پېړۍ-پېړۍ يې زموږ خلګو او هېواد ته له بدمرغۍ پرته بل څه نه دي راوړي، د همدې ټيکنالوژۍ په مټ يا د هېواد ورانولو پلانونه طرحه کېږي او يا يې په مټ د کفر، ارتداد او ضلالت کرکجنې فتواوې خپرېږي.

موږ ته هغه وخت ټيکنالوژي مثبته ګټه کوي چي تر څنګ يې اساسي فکري بدلون هم رامنځ ته شي، له فکري بدلون پرته به نوي ټېنکالوژي هره ورځ نړۍ ته زموږ د وحشت صحنې رسوي او له دې لارې به پر خپلو خير غوښتونکو د تکفير فتواوې خپروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سخت دریځۍ په وړاندې مبارزه څرنګه او ولې؟

سخت دریځي هغه بد مرغي ده چې د افغاني ټولنې د ژوند هره برخه یې سخته ځپلې ده. د یې تحمیل شوې مذهبي مافیا عاطفه له منځه وړې، مینه کفر ګڼي، د ژوند دایره یې تنګه کړې او هر ډول اخلاقي چوکاټونه یې مات کړي دي، نه فرهنګي دودونه مرعاتوي، نه قبیلوي جوړښتونه مني، نه سیاسي تعامل پېژني او نه د علم، منطق او عقل پر بنسټ ولاړو اصولو ته ژمن دي. له دین او مذهب څخه یې د کرکې، وحشت او تعصب یوه داسې اله جوړه کړې چې د نن سبا عملي – فکري الحاد ډېره پړه د همدې جهاد او جهادیانو پر غاړه ده.

سخت دریځي نه یوازې زموږ سیاسي او ټولنیز نظامونه ننګوي بلکې زموږ په فردي او کورنیو چارو کې هم مداخله کوي. دوی داسې عادت خپل کړی او ځان ته داسې واک ورکوي چې که ته ورسره کار نه لرې نو هغوی دې نه ایله کوي او تر هغو به درپسې وي چې یا د دوی ومنې او یا له دوی وتښتې یا ووژل شې، له همدې کبله د سخت دریځۍ په وړاندې مبارزه ډېر لومړیتوب لري.

څرنګه چې زموږ په ټولنه کې د سخت دریځۍ لویه سرچینه د دین په اړه ناسم پوهاوی دی له همدې امله باید تر ډېره بریده همدې اړخ ته جدي پاملرنه وشي، ځکه موږ د ژوند د نورو برخو په څېر د دین په زده کړه او ښوونه کې هم پر وارداتي مرکزونو، نصاب او ښوونکو تکیه کوو، تر څو چې په خپل هیواد کې دننه د دیني زده کړو ملي–افغاني مرکزونه، هیواد پال دیني او په عصري زده کړو سمبال علما او د وخت له غوښتنو سره سم دیني نصاب ونه لرو تر هغو به موږ د پردیو د دیني ایډیالوژیو، فتواوو، خوځښتونو، وسله والو باغیانو او د دیني مافیایي کړیو له انحصار سره مخ یو. فکر کوم افغان دولت او افغان ولس هیڅکله دې تشې ډکولو ته د یوې جدي مسلې په سترګه نه دي کتلې.

دا د حج او اوقافو، اطلاعاتو او کولتور او پوهنې د وزارتونو دنده ده چې په ګډه پر دې ستونزه کار وکړي او د یوه ګډ پروګرام په جوړولو د سخت دریځۍ ریښې وباسي. داسې دیني علما کم نه دي چې روان حالات یې ځوروي، په خپل دین، ولس او هیواد یې خوا بدېږي، د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عصر په غوښتنو خبر دي او د بدلون اړتيا احساسوي خو له بده مرغه دولت يا له هغوی سره تماس نه لري او يا نه غواړي چې د سخت دريځۍ او ترهګرۍ لپاره په اوږده مهال کې دايمي حل ولټوي، ځکه دا يو واضح حقيقت دی چې دلته د هيواد د دښمنانو له خوا روان ناروا بغاوت په ظاهره ديني اړخ لري، ديني فتوا ورسره ملګرې ده، په اصطلاح مذهبي کړۍ او اشخاص يې ملاتړ کوي او د طالب، القاعدې او داعش په نوم د نورو د ګټو لپاره په شعوري او غير شعوري ډول استخدام شوي باغيان د خپلې ناروا جګړې هدف دا ښيي چې غواړي په هيواد کې يو شرعي–اسلامي نظام رامنځ ته کړي، څرنګه چې په هيواد کې د سواد کچه ډېره کمه ده نو د دغو کړيو د تبليغاتو تر اغېز لاندې راځي او ورسره ملګري کېږي، په تېره بيا چې اقتصادي، ټولنيز او تبليغاتي عوامل هم ورسره ملګري وي.

د سخت دريځۍ په وړاندې مبارزه د اقتصادي، ټولنيزو، سياسي او نظامي هڅو تر څنګ کلکو او منطقي ديني هڅو ته هم اړتيا لري، دا هغه سنګر دی چې دا ډېره موده بې جنګياليو پاتې شوی او دا مهال سخته اړتيا ده چې د دين، ملت او هيواد خواخوږي دين پوهان يو ځل بيا خپل دا مورچل د هغو شيطاني کړيو په وړاندې د مبارزې لپاره ګرم وساتي چې غواړي د شخړو، لانجو او وحشتونو له لارې زموږ دين بد نامه، هيواد مو کمزوری او ولس مو ټوټه–ټوټه کړي، مګر په دې برخه کې د دولت پوره پاملرنې او همکارۍ ته هم اړتيا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رواني جګړې مذهبي توجيهات

په هيواد ، سيمه او اسلامي نړۍ کي د ټولو روانو جګړو ظاهري شعار دا دی چي پر مخ بوونکي يې ځان مجاهدين ګڼي او خپله جګړه د جهاد په نوم د دين اساسي لاربښوونه بولي. په دې مانا چي د روانو خونړيو جګړو جګړه مار ځانونه د رسول په وخت کي له هغو صحابه وو سره پرتله کوي چي په مکه کي د نبوي دعوت تر لومړنۍ مرحلې وروسته يې د هجرت په مدني دوره کي د خپلو دښمنانو پر خلاف وسله واله جګړه پيل کړه، هغوی ته يې پر له پسې ماتې ورکړې او له کومه ځايه چي دوی شړل شوي وو د خپلې وسلې په زور يې بيرته لاندې کړ.

څرنګه چي قران کريم د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د ژوند دعوتي او جهادي پېښې هم راخيستې او په يوه ډول د خپل رسول د ديني فعاليت داستان دی نو له همدې امله يې ډېری دغه ډول لاربښوونې تر ځانګړو حالاتو او شرايطو لاندې د هماغه په شتون کي له اړوندو قضاياوو سره تړاو لري. ځکه هغه د خپل قوم لپاره د الله وروستی رسول وو. که قران کريم په غور ولولو نو ترې ښکاري چي د الهي سننو په رڼا کي نبي او رسول د ځينو مشترکاتو تر څنګ يو لړ توپيرونه هم لري. له دې جملې څخه يو توپير يې دا دی چي رسول د ځمکې پر مخ د خپل رب مجسم حجت وي کله چي هغه د خپلې دعوتي ساحې موجودو مخاطبينو ته الهي پيغام راوړي او تر ګڼو مرحلو وروسته يې د ده پر مستقيمو مخاطبينو حجت پوره کېږي نو بيا د رسالت په بهير کي هغه مرحله راځي چي بايد د خدای د اخلاقي قانون له مخې د هغه وخت د موجودو خلګو پر خليک څرګند شي چي يا په بشپړ ډول د طبيعي افتونو په وسيله له منځه ځي او يا يې سياسي او ټولنيز نفوذ داسي ځپل کېږي چي لوی مجرمين په نابودۍ محکومېږي او رسول و ملګري يې سياسي وټولنيز واک تر لاسه کوي.

د رسول او نبي تر منځ همدغه توپير ګڼو مسلمانانو نه دی درک کړی له همدې امله د جهاد او وسله والې مبارزې همدغسي ځانګړي قوانين په خپل لاس کي اخلي او د اوسنۍ نړۍ د هغو مسلمانو او نامسلمانو په وړاندې يې کاروي چي په اصطلاح د جهاديانو له سخت دريځې سياسي اسلام سره د يوه او بل عامل پر بنسټ جوړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسانو په وړاندې د ديني نظام په نوم د خاصې ډلې د واک تپلو او خاص دين منلو په پلمه جهاد او جګړه د هيڅ دين له مخې توجيه نه لري. په قران کريم او نبوي سنتو کې ګڼ ځايونه د هغه جهاد يادونه شوې چې د الهي سنت له مخې د خدای د اخلاقي قانون برخه ده مګر چا چې نه دی درک کړی هغوی د سي انګېري چې دا لاربښوونه د لمانځه، روژې، زکات، حج او نورو په شان هر مسلمان ته متوجې ده او که يې څوک نه مني يا يې نه کوي هغه په ترتيب سره مرتد او ګنهګار دی.

همدغه منطق زموږ ټول ديني تصور او ديني منابع سخت زيانمن کړي دي، ځکه د دې فکر پر بنسټ د دين غوښتنه دا ده چې يو ازې د ګوتو په شمېر څو سخت دريځي مسلمانان پر حق، د جنت وړ او د اخروي تلپاتې بريا موندونکي دي. هر هغه څوک چې د دوی خاص تعبير نه مني يا کافر، مرتد او يا بې غيرته ګناهګار مسلمان دی. د دوی په اند نامسلمانه نړۍ به يا اسلام مني، يا به جزيه ورکوي او يا به جګړې ته چمتو کېږي. د همدغه فکر له مخې دوی د هر نامسلمان وينه تويول ثواب ګڼي، د فرانسي وروستۍ ناروا او اسلام و بشر ضد چاودونې هم د دغه فکر زېږنده دي. (کېدای شي ځيني نور عوامل هم ولري، خو کله چې يې له ملاتړ کوونکو ډلو او اشخاصو سره خبرې وکړئ دوی هماغه پاسنی منطق درته وړاندې کوي)

همدا وجه ده چې موږ د تفسير، حديث پوهنې، فقهې او عقايدو په برخه کې د دين زړو تعبيرونو او تشريحاتو بيا کتنې او د دين د اصلي سرچينو په رڼا کې د نوې نړۍ له عصري غوښتنو سره سم مسلکي ديني فکر ته سخته اړتيا لرو. دا مهال بايد د اسلام په روح خبرا و د معاصر جهان له سياسي، علمي، ټولنيزو ، مالي او فکري غوښتنو سره اشنا مسلکي دين پوهان د وينا او قلم له لارې د جهاد او د هغوی له فکر سره سم اسلامي خلافت په اړه د جګړه مارو هغه تصورات پخپله د دين په رڼا کې رد کړي چې هره سخت دريځه ډله يې د خپلو وينو تويولو لپاره د الله له خوا ورکړل شوی جواز ګڼي.

د دين په وسيله د سخت دريځۍ په وړاندې معقوله مبارزه يوازينۍ لاره ده چې کولای شو په وسيله يې د خپلو ولسونو په منځ کې د هغو سخت دريځو ډلو د نفوذ مخه ونيسو چې دا مهال يې زموږ په ټولنه کې د دين د نا سم تعبير او خاصو فرهنګي حالاتو له امله ريښې کړې دي. که دولتي او مدني ټولنې دې ټکي ته په پام د سخت دريځۍ په وړاندې عملي او فکري مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي نو له يوې خوا به د ټولنيزې او علمي اړتيا پر بنسټ هغه تشه ډکه شي چې دا ډېر وخت يې اړتيا احساسېږي او له بلې خوا به زموږ په ټولنه کې سخت دريځو ته د ناولې څېرې څرګندولو فرصت په لاس نه ورځي.

د سخت دريځی په وړاندې بې تفاوته پاتې کېدل هماغه پايلې لري چې نن موږ ورسره مخ يو، د دې ناولې پديدې په وړاندې د مبارزې لپاره د دين له سم او بشردوست تعبير پرته بل هيڅ لاره نه شته. که موږ غواړو چې بدمرغۍ او ناخوالې مو پای و مومي نو له دين څخه د ناوړې استفادې مخنيوی يې يوازينۍ لار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دین په معاصر فکر کې د امت او ملت شخړه

له کومه وخته چې د اسلامي نړۍ په کچه د مسلمانانو لویه واکمني له منځه تللې او د مسلمانانو له سیاسي – فقهي ادبیاتو سره سم د خلافت شرعي نظام رنګ شوی له هغې ورځې تر ننه بېلابېلو ډلو او اشخاصو هڅه کړې چې اسلامي امت یو ځل بیا هماغه تاریخي دور ته ورو ګرځوي. د دې لپاره د دیني نصوصو په رڼا کې (چې ډېری تعبیرونه یې هم پر ځای نه دي کارول شوي) ګڼې نظري او عملي هڅې شوې دي، خو په ټوله کې یې پایلې له درنو زیانونو پرته بل څه نه دي.

که د فقهي له فني بحثونو ها خوا د معاصر دیني تعبیر ادبیات، لیکنې، نشرات او د یو ایډیال نظام جوړولو لپاره تر نولسمې پېړۍ وروسته خورې – ورې هڅې تر نظر تېرې کړو د ټولو تر منځ له ګڼو اختلافونو سره – سره دا یو ټکی مشترک دی چې د دې لارې لارویانو د اسلامي نړۍ ګڼ ملتونه د مسلمان امت تر شعار لاندې په داسې ستونزو کې ښکېل کړي چې د خلاصون یوازینۍ لاره یې د ګردې اسلامي نړۍ په کچه د مختلفو رسمي جغرافیو تر جوړښت د محدود معاصرو دولتونو منل او د امت د سیاسي تعبیر پر ځای د هغه ار دیني شکل ته رجوع کول دي.

د خلافت لپاره مبارزه کوونکې ډلې او ګوندونه داسې فکر کوي چې په قران کریم او نبوي لارښوونو کې د امت کوم لفظ یاد شوی د هغه هدف په سیاسي او جغرافیایي شکل د ټولو مسلمانانو تر منځ د داسې یوه امارت شتون دی چې مشري یې د خلیفه په لاس کې وي. له دمشق، بغداد، ریاض، قاهرې او یا د بل اسلامي هیواد له کومې سیمې د مسلمانو پراخه جغرافیه اداره کړي، او سمهالي هیوادونه یې واړه اداري تشکیلات وي او هر مسلمان یې د خپل دیني فرض له مخې داسې اطاعت وکړي لکه د رسول په وخت کې چې د هغه موجودو ملګرو کاوه. په دې توګه ګواکې خلیفه پر ځمکه د خدای استازی دی، د امر منل یې دیني وجیبه ده او که یې څوک ونه مني یا د غسې کوم امیر ونه لري هغه د خدای په قهر اخته دی.

په دې ضمن کې نورو تعبیرونو او جزي اختلافونو ته له پام پرته ویلای شو چې د ملت په وړاندې د امت د غسې تعبیر د مسلمانانو تر منځ د ګڼو کړکېچونو او شخړو یو لوی عامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د زماني په بهير کې هيڅکه د سياست، نظام، اداري، ټولني، اقتصاد، زده کړو، ملي زعامت، چارو د ويش او نورو په اړه د انساني ټولنې افکار او مقررات په يوه ډول دوام نه شي کولای. دا يوه مستمره پروسه ده چې د زمانې په هر پړاو کې نوي نوښتونه او رنګونه خپلوي، ځېرې يې بدلېږي، غوښتنې يې تغيير مومي او زاړه فکرونه و روشونه يې د ستونزو حل نه شي کېدای نو که موږ امت په همدې تعبير واخلو ايا د اسلام د سياسي، ټولنيزو، فقهي، مالي او نورو مسايلو په اړه د مسلمانانو د ژورو اختلافونو په دې دروان کې کولای شو ټول او يا يې ډېره برخه و ملتونه تر واحد اداري جوړښت لاندې د يوه ځانګړي فکري مکتب په پوښښ کې کنټرول کړو؟ هغه هم په داسي حال کې چې شرعي مسايل به د يوه خاص فکر تابع وي. ځوک چې لږ شعور هم ولري هغه په دې پوهېږي چې دا هيڅ امکان نه لري.

په ټوله کې د ډېرې عامو مسلمانانو او په خاصه توګه ځوک چې د اسلامي انقلاب، اسلامي سياست او اسلامي خلافت يا په بل عبارت د شرعي نظام لپاره هڅه کوي لويه ستونزه د دين په روح د سم پوهاوی کمی، د تېر او اوسني تاريخ تر منځ د هر ډول توپيرونو نه درک او د دين و سياست تر منځ داسي خلط دی چې له امله مو يې نه دين وساتلای شو او نه هيوادو ملت.

امت په اصل کې د يوه دين د پيروانو لپاره کارول شوې قراني اصطلاح ده او هلته خپل خاص تعبير لري. هدف يې دا دی چې هر مسلمان د قران پر بنسټ د يوه خاص کتاب تر چتر لاندې د ځانګړي دين څښتنان دي چې ټول په يوه امت ياد ېږي، دا نه کومه سياسي اصطلاح ده او نه هم د خلافت له نظام سره تړاو لري. مسلمانان پخوا هم يو امت وو او اوس هم يو امت دي، اسلامي امت په دې سره له منځه نه ځي چې مسلمانان د خپلو اړتياوو پر بنسټ مختلف دولتونه ولري او د اسلامي نړۍ په کچه يې د واک چارې د بېلابېلو هيوادونو په خاصه جغرافيه کې اداره شي چې هلته مېشتو ټولو قومونو ته يې يو ملت ويل کېږي او د ملت ټول غړي له هر ډول فکري اختلافونو سره-سره خپلې ملي ګټې وپالي، د ساتنې لپاره يې مدني او سياسي هلې-ځلې وکړي او د خپل وخت او حالاتو له غوښتنې سره سم داسي سياسي نظام جوړ کړي چې په وسيله يې خپلې ګټې خوندي کړي.

دا کار نه له اسلام سره تضاد لري او نه د مسلمانو واحد امت ته زيان رسوي، که اسلامي نړۍ تر زر ډېر هيوادونه او ملتونه ولري نو هم ټول مسلمانان يو امت دی، ځکه په اساساتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول د يوه دين، يوې عقيدې، يوه رسول او يوه کتاب لارويان دي، نه يې فقهي فرعي اختلافات د يوه امت کېدو وحدت ته زيان اړوي او نه د بېلابېلو اړتياوو پر بنسټ جغرافيايي وېش.

کومې ډلې او اشخاص چې امت او ملت د يوه بل په وړاندې دروي، هغوی نه په تاريخ خبر دي نه په شريعت او نه د انبياوو په سېرت. دغه ډول افکار د اسلامي نړۍ په منځ کې هغه وايروسونه دي چې مسلمانو هيوادونو او ملتونو ته يې وازې ويجاړې او مرګ راوړی له دې پرته يې بله هيڅ کارنامه نه ده کړې، که مسلمانان رښتيا هم غواړي چې د دين په رڼا کې ارام، پرمخ تللی او سوکاله ژوند وکړي د دغه ډول ډلو او افرادو ټول شعارونه دي يو ځل بيا د اوسنيو شرايطو او حالاتو په رڼا کې له موجودو امکاناتو سره سم وڅېړي، ماخذ دې يې وګوري، د قران او نبوي سنت له مخې دې يې پر تشريح تم شي او په دې اړه دې د امت د رښتنو او متخصصو پوهانو نظريات مطالعه کړي. د امت او ملت د متضاد بلونکو او د هر يوه په ار مفهوم د نه خبر درلودونکو بدمرغي همدا ده چې نه اساسي ديني پوهه لري او نه هم د روانو حالاتو په رڼا کې د خپلو اهدافو پر شونتيا فکر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملایان او سیاست

ملایان هم د بل هر افغان وګړي په څېر حق لري چې د هیواد د هرې چارې په اړه خپل نظر څرګند او د قانون په چوکاټ کې سیاسي و ټولنیز فعالیت وکړي. ملایان د افغاني ټولنې یوه لویه برخه ده او هیڅوک یې له پراخ اغېز څخه هم سترګې نه شي پټولای. دوی د مذهبي تقدس تر پوښ لاندې دومره زور لري چې د نظام له واکمنو سره هم نه شته. مګر له بده مرغه زموږ د هیواد مذهبي طبقه یا په اصطلاح ملایان خپل مذهبي دریځ په دې مانا اخلي چې د خلکو فردي، کورنی، سیاسي او ټولنیز فعالیت باید له هغه فکر او طرز سره سم وي چې دوی د خپلو حجرو، جوماتونو او مدرسو په چاپېریال کې زده کړی دی.

د دیني او دنیوي چارو تر منځ دغسې اختلاط لکه د ملایانو په فکر کې چې موجود دی هر هیواد او ملت د بشري کاروان له هر اړخیز پرمختیایي یونه شاته پاته کوي او په داسې حالت کې ښکېل پاتېږي چې د مذهب ټیکه داران به یې له ویښتانو تر جامو، تګ، خوراک، ناستې، ولاړې، شخصي ذوق او هر څه پوري ټولو چارو ته د مذهب په عینکو کې ګوري. که زموږ ملایان لا هم د دیني او دنیوي چارو تر منځ پولې او یوه بل ته د دین او دنیا د اړتیا ادرسونه ونه پېژني نو تل به مو ټولنه د مذهب په نوم له هر اړخیزې انارشۍ سره مخ وي.

که د اسلامي نړۍ په تېره افغانستان کړکېچونو ته پام وکړو زموږ د منطقي پرمختګ مخه تر ډېره د مذهب په نوم د ملایانو همدې مفکورې نیولې چې غوړای هره لویه او وړه چاره د مذهب په ترازو کې وتلي. پر دې سربېره بل غم دا دی چې موږ د ملایانو له داسې تراکم سره مخ یو چې ټولنې ته موږ د ملایانو عرضې او تقاضا ته پام نه کېږي. هر کال په زرګونو افغانان له مذهبي زده کړو فارغېږي او د فراغت لپاره هم هیڅ معیار نه شته. دې حالت په ټولنه کې د مفت خورو ډله لویه کړې او ټولنیزې و سیاسي شخړې یې زېږولي دي. ځکه د فارغېدونکو ملایانو تر نوي سلنه ډېر یې نه د عصري نړۍ په مسایلو او غوښتنو پوهېږي او نه د خپل هیواد له فرهنګ، دود او روانو جریاناتو له ژورو ریښو سره اشنا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملايانو همدا ترکم زموږ هغه ستونزه ده چي تر دې دمه هيچا ورته پوره توجو نه ده کړې. زموږ په ټولنه کي د تعصب، بې خرته فتواوو او ټولنيزو وسياسي اړودوړ لوی علت همدغه د بې کيفيته ملايانو نه مهارېدونکي غير معياري مذهبي فعاليتونه دي چي د دوی له خپلي محدودې، تر وخت تېرې او خامي ايډيالوژۍ سره سم هيڅ پوله نه لري او بايد د دوی د واک سلطه د يو سړي له شخصي خيالاتو نيولي تر سياسته پر ټولو چارو داسي غوړېدلې وي چي دوی د خپل محدود، خام او راايسار شوي چاپېريال په دايره کي څه زده کړي هغه پر ټولو تطبيق شي، ځکه د دوی په باور همدا شريعت دی او څوک چي يې دغه ډول تعبير نه مني پر ضد يې هر ډول فعاليت روا دی.

که زموږ ملايان د سياست، ټولنې او دنيوي چارو په اړه له دغسي مفکورې لاس واخلي د طب، زراعت، صنعت او سوداګرۍ په څېر سياست او حکومت هم تر ډېره يوه دنيوي چاره وګڼي او د سمبالښت چاره يې سياستوالو ته خوشي کړي نو هم به د دوی ژوند هوسا شي او هم به مو هيواد او ملت پرمختګ وکړي. ځکه د مذهبي مشرانو اصل هدف د انساني افرادو اخلاقي تزکيه ده نه سياست، نظامي چارې او حکومت. خو له بده مرغه زموږ ملايانو خپل هدف له ياده ايستلی او د دسيسو له مخې په داسي څه کي ښکېل شوي چي ځان او جهان ټول يې تباکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښځه او سیاست

په سیاسي ډګر کې د ښځو د ونډې، هڅو او فعالیت په اړه هم د مسلمانانو تر منځ د نظر یو والی نه شته، بلکې ډېری وګړي یې مخالفت کوي او اندا د یو غربي یا کفري نظام مشخصه ګڼي چې ښځه پکې په سیاسي فعالیت بوختوي او په دولتي چارو کې ونډه لري.

په دې هکله ځینې نبوي احادیث وړاندې کوي چې ګواکې رسول الله ښځې له سیاسي هڅو او فعالیتونو منعه کړې دي. لاندې به ځینې دا ډول روایات نقل کړو:

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرَةَ بَكَّارُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، أَنَّهُ شَهِدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ بَشِيرٌ يُبَشِّرُهُ بِظَفَرِ جُنْدٍ لَهُ عَلَى عَدُوِّهِمْ، وَرَأْسُهُ فِي حِجْرِ عَائِشَةَ فَقَامَ فَخَرَّ سَاجِدًا، ثُمَّ أَنْشَأَ يُسَائِلُ الْبَشِيرَ، فَأَخْبَرَهُ فِيمَا أَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَلِيَ أَمْرَهُمْ امْـــرَأَةٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْآنَ هَلَكَتِ الرِّجَالُ إِذَا أَطَاعَـــتِ النِّسَـــاءَ، هَلَكَتِ الرِّجَالُ إِذَا أَطَاعَتِ النِّسَاءَ» ثَلَاثًـــا. (مسند احمد، مسند ابی بکرة، شمېره: ۲۰۴۵۵)

ژباړه: له ابوبکره څخه روایت دی چې کله رسول الله ته د ده د یو لښکر د بریا خبر په داسې حال کې راغی چې سر یې د عائشې په غېږ کې وو، نو ولاړ شو، سجده یې وکړه، بیا یې له زیری راوړونکي پوښتنې پیل کړې. ده په خپلو خبرو کې ورته وویل: دوی خپله مشري ښځو ته وسپارله. نو رسول الله وویل: نارینه او س هلاک شول چې د ښځو اطاعت یې وکړ، نارینه هلاک شول چې د ښځو اطاعت یې وکړ. دا خبره یې درې ځله تکرار کړه.

څوک چې په سیاسي چارو کې د ښځو د ونډې اخیستو او فعالیت مخالف دي، هغوی له دې روایته استناد کوي چې اسلام هغې ته په سیاست کې د ګډون حق نه ورکوي. مګر دا روایت په څه-ناڅه توپیر له نورو سندونو سره هم نقل شوی چې ډېری طریقې یې کمزوري او د استناد وړ نه دي. خو دا روایت صحیح نه دی، ځکه په سند کې یې بکار بن عبدالعزیز دی. د ده په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث پوهان وایي:

و قال المزی : قال أبو بكر بن أبي خيثمة ، و عباس الدوری ، عن يحيى بـــن معين : ليس حديثه بشيء.

ابو بکر بن ابی خیثمة او عباس الدوري له یحی بن معین څخه نقل کړی چي د ده حدیث هیڅ شی نه دي.

و قال البزار : ليس به بأس,و قال مرة : ضعيف.

بزار ویلي: باک پرې نه شته او بل ځل یې ویلي: کمزوری دی.

و قال أبو أحمد بن عدى : أرجو أنه لا بأس به ، و هو من جملـــة الضـــعفاء الذين يكتب حديثهم .

ابو احمد بن عدي ویلي: هیله لرم باک پرې نه شته،دی د هغو ضعفاوو له ډلې دی چي حدیث یې لیکل کېږي.

دا روایت له مسند احمد پرته ځینو نورکتابونو هم نقل کړی، خو په ټولو کي همدغه بکار بن عبدالعزیز راوي شته.

په مجمع الزوائد کي یې دا روایت هم نقل کړی:

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: " «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ يَمْلُكُ أَمْرَهُمُ امْرَأَةٌ» ". رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ عَنْ شَيْخِهِ أَبِي عُبَيْدَةَ عَبْدِ الْوَارِثِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ وَلَمْ أَعْرِفْهُ، وَبَقِيَّةُ رِجَالِهِ ثِقَاتٌ

له جابر بن سمره څخه روایت دی چي رسول الله وویل: هغه قوم به هیڅکله بریالی نه شي چي د چارو واک یې له ښځې سره وي. دا طبراني په الاوسط کي له خپل شیخ عبیدة بن عبد الوارث بن ابراهیم څخه روایت کړی، زه یې نه پېژنم او نور راویان یې باوري دي.

وینو چي په سند کي یو راوي د طبراني استاذ عبیدة بن عبد الوراث ناڅرګند او مستور دی له همدې امله روایت صحت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په صحیح البخاري او د حدیثو په ځینو نورو کتابونو کي دا حدیث هم شته چي:

حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا عُيَيْنَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جَوْشَنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَنْ يُفْلِحَ قَــوْمٌ أَسْنَدُوا أَمْرَهُمْ إِلَى امْرَأَةٍ. (مسند ابی داود الطیالسي، مسند ابی بکرة: شمېره: ۹۱۹)

ژباړه: له ابو بکره څخه روایت دی چي رسول الله وویل: هغه قوم به هیڅکله بریالی نه شي چي خپلې چارې یې ښځې ته وسپارلې.

په بخاري، ترمذي او نورو کتابونو کي دا روایت له دې تفصیل سره نقل شوی چي کله رسول الله ته خبر ورسېد فارسیانو د خپل مړه شوي پاچا پر ځای د هغه لور وټاکله نو رسول الله پورتنی وړاندوینه وکړه.

دا حدیث که څه هم د سند له مخې کره دی، مګر په دې سره دا ثابتول چي په سیاسي چارو کي د ښځو فعالیت ممنوع دی، د حدیث او اړوندې کیسې له روح سره ناآشنایي ده، ځکه دا د قانوني دستور په توګه یو فرمان یا په سیاسي چارو کي د ښځې د ونډې اخیستو په اړه د منعې امر نه وو بلکي د هماغه قوم په اړه یوه سیاسي شننه یا وړاندوینه وه چي دوی کله خپل واک دې ښځې ته وسپاری نو بریالي کېدای نه شي، ځکه رسول الله د هغه وخت فارسي رژیم ښه پېژندی، د هغوی پر سیاسي چارو یې ژور نظر درلود او په سیاسي لوبو کي د ښکېلو کسانو په وړتیا خبر وو د خپلې تجربې او مالوماتو پر بنسټ یې دا وړاندوینه وکړه چي رښتیا هم شوه.

حافظ ابن حزم بیا له پورتني حدیثه دا مفهوم اخیستی چي مېرمن له ولسمشری پرته په نورو ټولو سیاسي او حکومتي چارو کي ونډه اخیستی شي. امام ابو حنیفه او ځینو مالکیانو ته دا خبره هم منسوبه ده چي هغوی په هر حال کي د ښځو سیاسي او حکومتي کار او زیار روا ګڼي. په ځینو تاریخي روایاتو کي خو دا هم ویل شوي چي د عمر فاروق په زمانه کي د یوه بازار اداري چارې یوې ښځې ته سپارل شوې وې.

په هر حال له پورتنیو ځینو روایاتو او یو کره حدیث پرته چي په سیاست او دولت کي د ښځو د کار مخالفین یې وړاندې کوي بل هیڅ داسي سند او لاسوند نه شته چي ثابته کړي په اسلام کي د ښځو سیاسي هڅې ممنوع دي. د هغو روایاتو او کره حدیث په اړه مو بحث وړاندې کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته به ځيني هغه شواهد را واخلو چي ښيي په سياسي او دولتي چارو کي د ښځو ونډه يوه عادي مباح چاره ده. په دې برخه کي د نارينه او ښځينه توپير نه شته.

په قران کريم کي دي:

الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ. (الحج: ۴۱)

ژباړه: هغه کسان چي که په ځمکه کي واک ورکړو، لمونځ قايموي، زکات ورکوي، په ښو چارو امر کوي او د بدو مخه نيسي. د چارو انجام خاص الله لره دی.

په دې ايت کي الله د نېکو کسانو ځانګړتياوي په ګوته کړي چي په دې کي يې د نارينه او ښځينه توپير نه دی کړی. هر مسلمان ښځه وي او که نر چي د خپل واک پر مهال پورتنۍ ښېګڼې ولري نو هغه د الله خوښ بنده دی.

په قران کريم کي د سبأ د ملکې يادونه هم شوې چي په خپل وخت کي د خپل ولس مشره وه. سليمان عليه السلام ورسره خبرې وکړې او هغې ايمان راووړ، په هيڅ قراني ايت او يا کره نبوي حديث کي نه شته چي سليمان عليه السلام دي هغه له خپله واکه ليري کړي وي. ځينو تفسير پوهانو يو شمېر داسي روايات نقل کړي چي ګواکي سليمان عليه السلام هغه له خپله تخته ګوښه او پر ځای يې بل څوک وټاکی، مګر دا ډول روايات له فني او معياري پلوه هيڅ ارزښت نه لري. نه قران د هغې پر مشرۍ نيوکه کړې، نه سليمان عليه السلام ورته په دې اړه څه ويلي او نه رسول الله په نبوي احاديثو کي د دې د واک په اړه ناخوښي ثرګنده کړې ده.

مګر له ځينو کسانو سره کېدای شي دا پوښتنه پيدا شي چي که په سياسي چارو کي د ښځو ونډه اخيستنه روا وای، ولي رسول الله او خلفاء راشدينو په خپل-خپل وخت کي هيڅ دولتي دنده ورته ونه سپارله؟

دوی ته بايد ووايو چي رسول الله په داسي حال کي خپله مبارزه او د سمون فعاليت شروع کړ چي عربي ټولنه د ناوړه افکارو، دودونو، کړنو او جهالت په يوه داسي سمندر کي ډوبه وه چي ترې ايستل يې رښتيا هم په ښکاره يو ناشوني کار وو. خو دا نبوي عزم او هوډ وو چي عرب

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له داسي جاهلي چاپېريال له د تمدن او پرمختګ هغه اوج ته ورسول چې يقيناً په دومره لږ وخت کي يې تمه ممکنه نه وه، مګر له دې هر څه سره-سره بيا هم د هغوی نفسيات او رواني حالت دې ته چمتو نه وو چې ښځې ته يې په دولتي او سياسي چارو کي ونډه ورکړې وای، د ځينو تاريخي رواياتو پر بنسټ دوی له هغه حالته رابدل شوي ول چې يو شمېر کسانو به خپلې لوڼې او خوندې ژوندۍ ښخولې. ښځې يې د يو بې ارزښته متاع په څېر پلورلې، د يوه کمزوري حيوان ارزښت او قيمت تر ښځې لوړ وو، ښځې ته يې د يو ناولي موجود په توګه کتل او هغوی يې يوازې د جنسي تسکين وسيله بللې او بس. رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی له دې حالته دې ته راوستل چې ښځو ته يې حقوق ورکړل، د ځان واکداره شوه، د مېرمنې، مور، خور، لور او نورو په توګه ورسره د ښه چلند توصيه وشوه، په ديني چارو کي يې له نارينه وو سره يو ځای ونډه اخيسته، له رسول الله سره يې بيعت کاوی، د جوماتـ، جمعې او اخترونو په ديني غونډو او عباداتو کي يې د ګډون حق وموند، د نارينه وو له ديکتاتورۍ وژغورل شوه، د کار، تجارت او ازاد فعاليت حق ورکړل شو، په مېراث کي يې برخه وموندله او بالاخره له نارينه وو سره په يوه کتار کي ودرېده.

مګر رسول الله يو ځانګړی دولتي منصب بيا هم له دې کبله ورته نه دی سپارلی چې پورتنيو پرمختګونو ته يې ګوا ښ پيښنولای شوای. ان ځينو کسانو له نارينه وو سره په کورنيو چارو کي د ښځو پر خپلواک نظر شريکولو هم نيوکي کړې دي، عمر رضی الله عنه رسول الله ته وويل: زموږ ښځو په مکه کي له موږ سره دومره خبرې نه شوای کولای، خو مديني ته له راتلو وروسته هغوی له انصارو ډېر شيان زده کړل. ځيني کسان په دې هم خپه ول چې ښځې ولې د جوماتـ لمنځونو ته ځي، دې ټولو ته په پام رسول الله هغوی پر دولتي دندو ونه ګومارلې، مګر په غزواتو کي يې له دوی سره په ګڼو ځايونو کي ګډون کړی او ښه رول يې لوبولی دی.

له دې ښکاري چې رسول الله د شوي پرمختګ د ساتني په موخه هغوی ته ځانګړې دولتي څوکۍ ورنه کړه، خو هيڅ ځای يې نه دي ويلي چې په دولتي او سياسي چارو کي د ښځو ګډون ناروا او غير اسلامي کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاکستاني او افغاني ملايانو توپير

موږ له دې امله افغاني مدرسې او په ټوله کې د مذهبي زده کړو بهير د پاکستان د مذهبي زده کړو له بهير سره پرتله کوو چې يو خو زموږ مذهبي زده کوونکي له نورې نړۍ سره چندان بلد نه دي او بل ډېرى افغاني طالبانو او ملايانو په پاکستان کې مذهبي درسونه لوستي دي.

د افغانستان له مذهبي بهير سره د پاکستان د طالبانو او ملايانو يو لوى او څرګند توپير دا دى چې د هغوى ملي روحيه ډېره پياوړې ده. خپلې ملي ګټې، ملي څېرې، ملي لومړيتوبونه او هيواد وملت پالنه پېژني. له ملا تر طالبه ټول يې له ملي مسايلو سره ژوره علاقه لري، له خپلو ملي ارزښتونو سره اشنا دي، په خپل ملت، هيواد، پوځ، ملي بيرغ، ملي سرود او دولت وياړي. خپله ملي ژبه زده کوي، په خپل نصاب کې يې داخله کړې او ګڼ کتابونه يې پکې ليکلي دي ان د ډېرى پاکستاني طالبانو خپل ملي سرود په ياد زده وي. څرنګه چې کريکيټ د پاکستان ملي لوبه ده له همدې امله ټول پاکستانيان که څه هم ملا او طالب وي له دې لوبې سره سخته مينه لري. کله چې د پاکستان ملي او نورې لوبډلې له کوم بل هيواد سره په سيالي بوخت وي نو دوى يې خورا په شوق تعقيبوي، د خپل هيواد ټول مشهور لوبغاړي پېژني، په کارنامو يې خبر دي او د هغوى حالات مطالعه کوي.

يو چا راته کيسه کوله چې د پاکستان د کريکيټ ملي لوبډلې له يوه هيواد سره مهمه لوبه درلوده. د مدرسې يوه زده کوونکي د راډيو له لارې په مستقيمډول د لوبې حالات تعقيبول او ګوشى يې په غوږ و کې وې پر سبقه ناست وو کله چې يوه پاکستاني لوبغاړي څلوريزه ووهله نو ده بې اختياره وويل: اه. استاد ورته وويل: څه کوې؟ ده وويل: چوکه (څلوريزه) يې ووهله. همداراز جاويد احمد غامدي په خپل کتاب مقامات کې د وتلي ديني عالم امين احسن اصلاحي په حالاتو کې له خپل هيواد پاکستان سره د هغه مينه يادوي او ليکي چې کله به د پاکستان او هند د کريکيټ ملي لوبډلې د يوه بل په وړاندې د سيالۍ ډګر ته ووتې نو تر هغه وخته به يې پو ښتنه کوله چې وروستۍ پايله به څرګندېده. همداسې نور ګڼ مثالونه شته چې له خپل هيواد او ملي مسايلو سره د پاکستاني ملايانو او طالبانو مينه او خواخوږي ثابتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاکستاني مدرسو کې له عصري علومو، ساينس او ټيکنالوژۍ سره هيڅ مخالفت نه کېږي، بلکې ډېرې مدرسې يوه ديني زده کوونکي ته په دې شرط داخله ورکوي چې بايد تر يوه حده يې ښوونځي هم لوستي وي. ان د ځينو مدرسو د لوړې داخلې يو شرط دا هم دی چې بايد زده کوونکی د لسم ټولګي سند ولري. دا مهال چې په ټوله نړۍ کې انګليسي ژبه له هره پلوه مهمه ده او د نوي عصر ګڼ پرمختګونه له هغې سره تړاو لري او تر ډېره د ساينس وټيکنالوژي ژبه بلل کېږي له همدې امله انګليسي د ډېرې پاکستاني مدرسو د نصاب لازمه برخه ده.

پر دې سربېره د پاکستاني مدرسو مديران، استادان او مسؤولين د اسلامي نړۍ ان د غربي هيوادونو له مذهبي ادارو، مدرسو او پوهنتونونو سره پراخې اړيکې لري، تر منځ يې تګ – راتګ، د افکارو تبادله او همکاري شته. د پاکستان ملايان او طالبان په داسي حال کې له خپل دولت او حکومت سره ښې اړيکې پالي، همکاري ورسره کوي او په ګڼو ادارو کې په سياسي او اداري فعاليتونو بوخت دي چې له ډېره وخته د دې هيواد مذهبي کړۍ، ګوندونه او مدرسې د خپل پوځ او حکومت پر ګڼو پاليسيو د شريعت په رڼا کې پراخې او ژورې نيوکې لري. مګر له دې سره–سره هغوی هيڅکله خپل پلويان، شاګردان، مريدان او ملاتړي د پوځ او دولت پر خلاف وسله والې مبارزې او بغاوت ته–نه هڅوي ځکه هغوی په دې پوهېږي چې وسله وال بغاوت هم زموږ په زيان دی او هم د ټول هيواد او ملت. دوی درک کړې ده چې که په کومه سيمه کې يو ځل د ټوپک او وسلې کولتور رامنځ ته شي بيا يې مهارول ډېر سخت کار دی. دا په داسي حال کې چې هلته د ګڼو مذهبي فکرونو مدرسې، ګوندونه او جريانونه موجود دي. مګر له هر ډول فقهي او فکري اختلافاتو سره–سره دوی ټول پر ملي مسايلو او ملي ګټو يوه خوله دي. ان د پاکستان ځيني مذهبي جهاديان، مدرسې او ديني اداري نشراتي ارګانونه لري، ږغېزې، انځوريزې، برېښنايي او چاپي رسنۍ لري او ګڼې خيريه اداري پر مخ بيايي.

پاکستاني ملايان او طالبان نه د ښځو له زده کړو سره مخالفت کوي او نه يې د سياسي، ټولنيز، اقتصادي او فرهنګي فعاليت خلاف دي. په پاکستان کې بې نظير بوټو لومړۍ وزيره وه او ګڼې ښځې په پوځ او ملکي اداره کې په کار بوختې دي، خو هيڅکله پاکستاني ملايانو دا شيان د دولت، پوځ، هيواد او ملت پر خلاف د جهاد د فرضېدو لاملونه نه دي ګڼلي، بلکې په هر حالت کې يې له خپل دولت سره همکاري کړې ده. سره له دې چې په نظري ډول د دغسي چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفت هم کوي خو دوی په عمومي ډول د پاکستان ملي ګټې تر هر څه مهمې ګڼي خو له بده مرغه زموږ په هيواد کې بيا د همدغو ملايانو په لاس د روزل شويو ملايانو او زده کوونکو فکر او عمل ډېر جلا دی. سره له دې چې د پاکستان خپل ملايان او طالبان همدا رنګه افغاني ملايان او طالبان هلته دا هرڅه مني او په اړه يې هيڅ نه وايي بلکې په عملي او نظري ډول يې قبول کړي دي. خو کله چې همدغه چارې له افغانستان سره تړاو پيدا کوي نو هلته د ټولو نظر سل په سل کې بېل وي او پر همدغه اساس زموږ دولت بې لاري ګڼي او پر ضد يې وسله وال بغاوت د شريعت لازمي غوښتنه بولي.

د پاکستاني مذهبي کړيو يوه بله لويه ښېګڼه دا ده چې تر منځ يې همغږي شته، هر ډول مذهبي جريانونه يې ځانګړې مرکزي اداره لري. مثلا د ديوبنديانو مدرسې د وفاق المدارس پاکستان تر چتر لاندې رسمي فعاليت کوي او د پاکستان په ګوټ-ګوټ کې د همدې فکر مدرسې له دولت او دې ادارې سره ثبت شوې دي. د ټولو لپاره يې يو ډول نصاب چمتو کړی او يوه پاليسي لري. که څوک د هغې مخالفت وکړي سمدستي يې د وفاق المدارس له بهيره باسي او بيا ټول ورسره اړيکې شلوي. د بېلګې په توګه کله چې په اسلام اباد کې د مولانا عبد العزيز تر مشرۍ لاندې يوې مدرسې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په نوم ځيني توند او خپل سري ګامونه واخيستل نو د وفاق المدارس ادارې له دې امله جلا کړه چې د دوی د تګلارې مخالفت يې کړی وو. پر دې مدرسې بيا د پاکستان پوځ عمليات وکړل ګڼ زده کوونکي او د دې مدرسې چارواکي يې ووژل چې په وژل شويو کې د مولانا عبد العزيز ورور غازي رشيد هم وو. په خپله عبد العزيز يې ژوندی ونيو او ډېر وخت بندي وو. د عملياتو پر مهال چې کوم زده کوونکي ووژل شول په هغو کې ګڼ ماشومان هم وو، خو له دې ټول ظلم او وحشت سره-سره د پاکستان ملايانو، جهادي او مذهبي ډلو، سياسي ګوندونو او لکونو مدرسو نه د دولت او پوځ پر خلاف وسله وال بغاوت وکړ او نه يې د هغوی د کفر فتوا صادره کړه. ان د پاکستان د پخواني ستر مفتي مولانا محمد شفيع زوی او د وتلي ديوبندي ملا تقي عثماني ورور رفيع عثماني په ورځپاڼو کې دا جګړه داسې وبلله لکه د اسلام په لومړني تاريخ کې چې د علي او معاويه تر منځ پېښه شوې وه. مطلب يې دا وو چې دواړه لوري په خپل شرعي اجتهاد کې تېروتي دي، هر لوري ته به الله نېکه بدله ورکړي، که څوک په اجتهاد کې غلط وو د هغه به يو اجر وي او که حق ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدلی وو د هغه به دوه اجره وي.

د پاکستان ملایان او طالبان د اساسي قانون په رڼا کي پر ډیموکراسۍ او ټولټاکنو باور لري او د ووټ یا رایې په وسیله د خپل سیاسي برخلیک ټاکنه دیني مسولیت ګڼي همدا وجه ده چي هلته ګڼ مذهبي ګوندونه په رسمي ډول سیاسي فعالیت کوي او تل سیمه ییزو و ملي ټولټاکنو ته خپل کاندیدان وړاندي کوي. د هرې مذهبي ډلې ملایان او طالبان په دې مسایلو کي له خپلو ډلو سره اوږه پر اوږه ولاړ دي او پاکستانیانو ته هڅوي چي په انتخاباتو کي د دوی د ګوند او کاندید ملاتړ وکړي. پاکستاني ملایان په خپلو لیکنو او وینااوو کي د پاکستان خلګو ته وایي چي رایه یو امانت دی باید دوی خپله رایه مذهبي ګوندونو ته ورکړي، ځکه هغوی غواړي چي په پاکستان کي شرعي نظام راولي. مانا دا چي د ټولټاکنو په وسیله واک تر لاسه کول هم د اسلامي مبارزې یوه برخه ده. په داسي حال کي چي زموږ ډېری ملایان ټولټاکنې او انتخابات مطلق کفر ګڼي او په هیڅ ډول دې ته نه دي تیار چي له دې لارې سیاسي مبارزه وکړي. د حیرانتیا ځای دا دی چي همدغه افغاني ملایان او طالبان د پاکستان مدرسې، مذهبي ګوندونه، شیخان او مفتیان د ځان لپاره قدوه، نمونه، مشران او استادان ګڼي خو هغوی چي په پاکستان کي پر کومه لار روان دي هماغه تر کربښې دې خواته کفر او ضلالت ګڼي او هلته یې هم ورسره مني او هم چي فرصت په لاس ورشي په دې چارو کي ورسره ونډه اخلي. زه ګڼ داسي ملایان او طالبان پېژنم چي پاکستان ته تر تلو وروسته یې کله د هغه ځای تابیعت تر لاسه کړ نو په مذهبي ګوندونو کي داخل شول او په ټولټاکنو کي یې ونډه واخیسته، مګر په افغانستان کي به یې همدغه چارې کفر او ناروا ګڼلې.

پاکستاني ملایان او طالبان پر خپل دولت او پوځ باور لري او داسي انګېري چي دوی له نورې نړۍ سره کوم سیاسي روابط پالي او یا تړونونه ورسره کوي دا د هغوی کار دی، دوی په دې برخه کي مسلکیان دي باید پر پرېکړو او تصمیمونو یې باور ولرو ځکه نو هغوی هیڅکله په دې وجه د خپل دولت پر خلاف وسله نه ده پورته کړې چي ولې مو له امریکا سره ستراتیژیک تړون کړی او د اسلامي حکومت او یا ډلې پر خلاف ولاړ یاست. دوی که دغه ډول اعتراض لري نو د مدني حرکتونو او لاریونونو په وسیله خپل اواز اوچتوي تشدد او تاوتریخوالي ته هیڅکله لاس نه اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان مذهبي بهیر له دې امله هم زموږ تر مذهبي بهیر غوره دی چې د دوی د فتوا لپاره ځانګړي اشخاص او اداري لري. هر څوک نه شي کولای چې پر خپل سر په تېره بیا د جهاد، ارتداد، وسله وال پاڅون او ملي مسایلو په برخه کې له څه تخصص او پراخ اعتبار پرته فتوا ورکړي. په دې ډول مسایلو کې هغوی خپل منځي غونډې کوي، تړولې اړوندې کړی او اشخاص په جریان کې اچوي او بیا یو مناسب تصمیم نیسي. له بده مرغه په افغانستان کې نه د فتوا ځانګړي مرکزونه شته او نه په دې اړه تخصصي زده کړو او کاري تجربې ته کتل کېږي هر ملا په هر وخت کې هر ځای د هر ډول لویو مسایلو په اړه فتوا اوې ورکوي.

لنډه دا چې زموږ او د دوی ملایان او طالبان له یو-بل سره دومره توپیر لري لکه ځمکه او اسمان. زموږ ملایان نه په ملي مسایلو پوهېږي او نه ورسره علاقه لري. ملت او هیواد پالنه د شریعت خلاف ګڼي، د هر نظام پر ضد یې د کفر، ارتداد او غلامۍ فتوا ورکړې، ډېری یې د عصري زده کړو او ښځې د سواد خلاف دي، ښځو ته د کار اجازه نه ورکوي، ځانونه په هر ډول نړۍ والو، ملي، سیاسي، نظامي، فرهنګي، ساینسي او تخنیکي مسایلو کې متخصصین ګڼي او هر څه ته د مذهب له زاویې ګوري. خو کله چې د دغه طالبان او ملایان تر کرښې واوړي او پاکستان ته ورسېږي نو د سیاست، حکومت، عصري زده کړو، ښځو د سواد، کار او هر څه په اړه یې دریځ یو سلو نوي درجې توپیر وکړي هلته هم دا هر څه زغمي او هم پکې فعاله ونډه اخلي، خو تر که هغه وخت را اپریوزي چې د پاکستاني استخباراتي کړیو او مذهبي اشخاصو او ډلو په مرسته او فتوا د یو سیستماټیک پلان له مخې د پولې دې غاړې ته د جهاد په پلمه را لېږل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامي زده کړو بهير ته يوه کتنه

ايا پوهېږئ چي په هيواد او سيمه کي د اسلامي زده کړو مرکزونه څه تدريسوي؟ او ايا هلته تدريسېدونکي مواد د دين له روح او وخت له غوښتنو سره سمون لري؟ د دې پوښتنو په ځواب د پوهېدو لپاره بايد د اسلامي زده کړو بهير ته لنډه کتنه وکړو.

دا مهال خو په هيواد کي دننه د اسلامي زده کړو لپاره په عمومي ډول داسي مرکزونه نه شته چي نصاب يې له سره ارزول شوی وي او هغه څه پکي تدريس شي چي واقعاً د دين، هيواد، ملت او وخت غوښتنه وي. د اسلامي زده کړو يو اړخ د قران کريم د حفظ په نوم هغه شخصي دارالحفاظونه دي چي ماشومان پکي لومړی د قران کريم ناظره وايي او تر يو وي موده دې وروسته يې حفظ پيلوي چي د درس طرز يې خورا ځورونکی دی. ځکه ډېری استادان يې د ماشومانو په وړاندي له خشونتله کار اخلي، تر خپل برداشت ډېر بوج وربانديراولي، عمر ته د نه پاملرنې او سم نظارت د نه شتون له امله په اخلاقي فساد اخته کېږي، هلته د موجود ناسم چيريال او خشونت له امله يې يو محروم او ځورېدلی احساس په لاشعور کي ځای نيسي او په کم عمر کي د قران يادونې د سخت پشار له امله په ذهني، عصبي او رواني ناروغيو اخته کېږي چي دولت، مدني ټولنې، کورنۍ او اولس بايد د دغسي مدرسو وضعيت ته جدي پاملرنه وکړي، ځکه هلته لوی شوي ماشومان ډېر وخت د ټولنې لپاره د مادي او معنوي زيان سبب ګرزي.

همدغه حالت له هيواده بهر په ګاونډي هيواد پاکستان کي هم دی. پر دې سربېره دلته او هلته دوارو ځايونو کي هڅه کېږي چي ماشومان د بغاوت او ترهګرۍ په روحيه وروزل شي. دا مهال چي کوم ماشومان ځانمرګي بريدونه کوي په هغوی کي لويه برخه يې همدغه حافظان او يا قاريان وي.

د اسلامي زده کړو بل اړخ د اسلامي علومو په نوم هغه مرکزونه دي چي د مدرسو او درسونو په نوم يادېږي. دا مهال د هيواد په لويو ښارونو او لري پرتو سيمو کي ګڼې لويې او وړې مدرسې ودرسونه شتون لري. پر دې سربېره د افغانزده کوونکو يو لوی شمېر له هيواده بهر په نورو هيوادونو په ځانګړې ډول پاکستان کي هم په ديني زده کړو بوخت دي چي د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



علومو تر نوم لاندې مختلف فنون لولي. څرنګه چې په هیواد کې دغه ډول ډېرې مدرسې او درس ځایونه د پوهنې له وزارت سره نه دي ثبت، ان ځیني خو یې د دولت له کنټرول په دباندې سیمو او یا بهرنیو هیوادونو کې دي، له همدې امله د اسلامي زده کړو لپاره مشترک او واحد تعلیمي نصاب نه شته. هره مدرسه او درسځای ځان ته نصاب او د زده کړې طریقه لري.

زما د خپلې تجربې او مشاهدې پر بنسټ د ټولو مدرسو، درسونو او ان د شرعیاتو په نوم د پوهنځیو درسي مواد خورا کمزوري، تر وخت تېر او په ګڼو مواردو کې د سیاسي او ټولنیزو لانجو راپورته کوونکي دي.

په ډېرې مدرسو او درسونو کې نن هم په تنکیو ماشومانو شروط الصلاة، قدوري، خلاصه کیداني، کنزالدقائق، منیة المصلي، پنج کتاب، ګلستان، بوستان او دې ته ورته نور کتابونه لولي چې دا کتابونه په هیڅ ډول د ماشومانو له سویې سره مناسب نه دي. ځکه که غواړو چې ماشومان مو لومړني دیني مالومات تر لاسه کړي، نو ولې دغه ډول کتابونه د هغوی په مورنۍ ژبه نه ورته وایو؟ یو ماشوم به څرنګه د شروط الصلاة، قدوري او نورو کوچنیو فقهي کتابونو په سخته او زړه عربي وپوهېږي؟ بله خبره دا ده چې ماشومان د کلاسیکو فارسي اشعارو او نثر لوستلو ته څه اړتیا لري؟ دا کومه هوښیاري ده چې د پردۍ ژبې کلاسیک شعري او نثري ادبیات مو زمونږ پر ماشومانو د دین په نوم تپلي دي؟

له لومړنۍ مرحلې پرته چې د منځنیو درجو زده کوونکو ته کوم څه ورښودل کېږي نو د هغوی ډېری وخت د عربي ژبې پر صرف، نحوه او د منطق پر زړو کتابونو تېر شي چې له بده مرغه په دې وخت کې نه په عربي پوه شي، نه یې له ګرامر سره اشنا وي او نه د منطقو په سروبر خبر وي. ځکه د دې فنونو کتابونه له کلاسیک سبک سره سم دومره پېچلي لیکل شوي چې د اصل هدف پر ځای یې په متن پوهېدل خورا ستونزمن کار دی. د دې پر ځای چې لوستونکي د عربي ژبې ګرامر زده کړي او یا د منطق په مسایلو پوه شي د هغوی ډېر وخت پر دې تېرېږي چې څرنګه د مراح الارواح، کافیې او ایساغوجي متن، حاشیې او نکتې سره ولګوي؟.

لنډه دا چې د تدریس طریقه او د لیکنې سبک یې خورا وخت ضایع کوونکی او له اصل مسیره اړوونکی دی. پر دې سربېره په همدې وخت کې د زړې یونانې فلسفي ځیني هغه زاړه کتابونه هم تدریسېږي چې په دویمه هجري پېړۍ کې د هغه وخت له غوښتنو سره سم عربي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژباړل شول او په څنګ کې يې د علم کلام ځيني کتابونه هم د نصاب برخه ده. د فلسفې او علم کلام دغه کتابونه ټول پر داسي مسايلو بحث کوي چي نن يا ورته اړتيا نه شته او يا بايد د وخت له غوښتنو سره سم په نوي، اسانه او لنډ ډول تدريس شي.

په وروستۍ مرحله کي د فقهې، تفسير او احاديثو هغه کتابونه راځي چي تر لوستلو وروسته يې عموما زده کوونکي د فراغت سند تر لاسه کوي او په اولسي اصطلاح د ملا يا مولوي درجې ته رسيږي. د نصاب دا مرحله هم سختې ستونزې لري، ځکه يو خو زموږ مذهبي فکر د خپل ځانګړي کورني او ټولنيز چاپيريال له امله پر تنګ نظرۍ او تعصب ولاړ دی او بل چي کله يو زده کوونکی د اسلامي زده کړو چاپيريال ته ددننه شي نو طبعا د اسلامي احکامو په تعبير او تفسير کي له ګڼو اندونو او نظرونو سره اشنايي پيدا کوي. خو زموږ په ديني مدرسو کي هڅه دا وي چي زده کوونکو ته باور ورکړل شي چي په دې سيمه کي له کلونو او پېړيو راپاته او مروج ځانګړی مذهبي تعبير بالکل کره او وروستی دی چي بايد په اړه يې هيڅ ډول شک، نقد او نيوکې ته ځای پاتې نه شي، هر هغه نظر او تعبير بايد په سخته رد شي چي زموږ له مذهبي تعبير سره مخالفت لري. له همدې ځايه په زده کوونکو کي د کرکې، تعصب او نه زغم روحيه نوره هم پياوړې کېږي. همدغه ذهنيت سبب ګرزي چي زده کوونکي د فقهې او عقيدوي مسايلو په تعبير کي د هغه شخص، ډلې او هيواد تر اغېز لاندي راشي چي دوی پکي زده کړې کړې وي.

د دې پر ځای چي هغوی فکر کولو، عقل کارونې، د خپل فطري استعداد ودې او نوښت ته راوبولي، دوی ته په کلکه ويل کېږي چي بايد د خپل استاد، شيخ، پير او نوي وزاړه مذهبي لاربنود هره خبره له څه فکر او غور پرته په پټو سترګو ومني، هره فتوا يې حقه وبولي او هره بيان شوې مسئله يې عملي کړي، هلته له اجتهاد او نوښت سره سخت مخالفت کېږي او ټول زور يې پر دې وي چي زده کوونکي د ړانده تقليد په خپلولو ځانونه د جنت حقدار وګرزوي. له دې سره-سره هغوی د بدعت او سنت په نوم د ژوند کولو له ډېرو نويو طرزونو او وسايلو سره هم مخالفت کوي او لويه بدمرغي دا ده چي دوی د سياست او له نامسلمانو ډلو او هيوادونو سره د چلند يو خورا حيرانوونکی دريځ لري. د دوی زاړه کتابونه، استادان، شيخان، مفتيان او له دې بهير سره تړلي ټول کسان په دې اند دي چي د نامسلمانو په وړاندي جګړه په هغه صورت کي فرض کفايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې دوی تېرې نه وي کړي او که تېرې وکړي بيا پر نر، ښځه، مرييې او هر هغه چا چې په يو نه يو ډول ورسره کومک کولای شي د لمانځه او روژې په څېر فرض ده. اهل کتاب(يهودان او عيسويان) به يا جزيه ورکوي، يا به اسلام مني او يا به وژل کېږي چې د جگړې په صورت کې به يې ژوندي نارينه، ښځې او ماشومان په مرييتوب نيول کېږي. د برخليک په اړه به يې بيا د دوی مشران پرېکړه کوي چې ايا ښځې يې د مينځو په توگه ساتي، جنسي وفزيکي گټه ترې اخلي او که يې د پيسو په بدل کې او يا له څه بدلې پرته خوشې کوي؟ د نارينه وو او ماشومانو په اړه هم دغسې احکام دي. نور نامسلمان ملتونه يوازې د اسلام منلو او جگړې اختيار لري او بس.

د سياست په اړه يې نظر دا دی چې بايد د چارو ټول واک د مذهبي مشرانو په لاس کې وي او هغه ډول نظام پلی کړي چې د دوی په کتابونو کې يې احکام بيان شوي دي او موږ د طالبانو، داعش، القاعدې او نورو سخت دريځو ډلو په شکل ليدلی دی.

لوستونکي دې دا گومان نه کوي چې موږ د فقهې، تفسير او احاديثو له ټولې ذخيرې سره مخالف يو او نه يې منو. بلکې هدف مو دا دی چې هلته بيان شوي تعبيرات د مفسرينو، فقهاوو او حديث پوهانو له خوا د خپل وخت د غوښتنو پر بنسټ شوي تعبيرونه دي، موږ د دوی هڅو او زحمت ته د قدر په سترگه گورو مگر له دې سره-سره موږ هم حق لرو چې زاړه نظريات، افکار او مسايل له سره وارځوو او د د دين د کره منابعو، منطق، اساسي بشري حقوقو او علم په رڼا کې يې هغه څه ومنو چې د منلو وي او هغه څه يې رد کړو چې د منلو نه دي. نن دې ته سخته اړتيا ده چې يادو اسلامي فنونو ته له سره بيا اصولي کتنه وشي او د گڼو فرهنگي، مالي او سياسي لاملونو پر بنسټ د دين سخت دريځی تعبير او له ترهگريزو کړنو ډک فقهي تفسير بيرته اصلاح شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ديني ارزښتونه که د ارزښتونو دين؟

د نړۍ په هره ټولنه کې مختلف ټولنيز، سياسي او اخلاقي ارزښتونه د دې لپاره دي چې د انسان کرامت او شخصيت خوندي شي. د بنسټيزو بشري حقوقو هدف هم دا دی چې له هر ډول مذهبي، جغرافيايي او نژادي توپير پرته ټولو انسانانو ته په مساوي ډول د انسانيت پر بنسټ اساسي بشري ارزښت ورکړل شي.

کله چې موږ د دين خبره کوو او د دين پر فلسفه رغېږو نو هم بايد تر هر څه لومړی دا پوښتنه مطرح شي چې انسان به د ديني ارزښتونو ساتندوی وي او که به په دين کې داسي ارزښتونه وي چې انسان پر خپل لوري ورماتوي او دا باور به ورکوي چې د دين په دايره کې يې هغه فطري او معقول حقوق خوندي کېدای شي چې بايد د بشريت پر بنسټ يې ولري؟

مگر دا مهال چې زموږ په ټولنه بلکې گرده اسلامي نړۍ کې کومه ديني مفکوره دود ده له هغې داسي ښکاري چې زموږ دين د يوې تنگې دايرې په ايستلو خپل پيروان دې ته هڅوي چې ديني ارزښتونه وساتي، په خپله د ارزښتونو دين نه دی. ځکه کوم دين چې په خپل ذات کې د انسانيت لپاره ارزښتونه لري، هغه د بل ساتنې ته نه وي اړ، د خپلو معقولو او منطقي ارزښتونو، گټورو اخلاقي او معنوي لارښوونو، سالم فکري نظام او انسان شموله ښېگڼو په درلودو هر څوک د ځان پر لور راکاږي، د انسانانو په زړونو کې ځای مومي او د مينې په خپرولو د هر سړي ذهن ته لار پيدا کوي. ان په بېړنيو او غير عادي حالاتو کې يې هم احکام پر منطق، عاطفه او ټولنيزو سياسي بصيرت بنا وي.

په معاصر دور کې پر مختللې نړۍ دې ته نه گوري چې د دين په متن کې لارښوونې څه وايي؟ ننني انسان دې ته گوري چې يوې مفکورې ته ژمن او پر هغې عمل کوونکی په خپل ورځني ژوند کې څومره صادق، رښتنی، د بشر لپاره خادم، مينه ناک او د نورو عالي-معنوي صفاتو درلودونکی دی. دا مهال د کميت پر ځای کيفيت مهم دی. نړۍوال د هغه دين پر لور ډېر ورماتېږي چې پيروان يې د صداقت، مينې، بشري خواخوږۍ، ټولنيز خير، اخلاص او دنيا ته د گټې رسونې په چارو بوخت وي، کرکه ونه لري، نورو ته په درناوي قايل وي، ځان تر ټولو عالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ګڼي، د ښځې او نارينه صنفي تبيعض پکې نه وي، د نوم او ځان ښودنې پر ځای يې معيار نيک عمل او غوره اخلاق وي، د تخريب پر ځای يې تعمير خوښ وي، په هر څه کې پر ټولنيز عدالت ټينګار وکړي، د هر انسان وژنه او سپکاوی پکې ستر جرم او معصيت وي. پر انساني کرامت ټينګار وکړي، هر ډول اخلاقي او مدني لارښوونې يې په دې موخه وي چې انسانيت خوندي شي او خپل اساسي بشري ارزښت تر لاسه کړي. د هيڅ ظالم ملاتړ ونه کړي، ځمکنی ربوبيت پکې ځای ونه لري، د خاصې طبقې د واک او ځواک پلوی نه وي او بالاخره د دومره غوره اخلاقي او معنوي ارزښتونو درلودونکی وي چې هر انسان ورته تسليمېږي او د خپل ناقرار وجدان قرار يې ګڼي.

موږ بايد دا ونه وايو چې هلئ! ديني ارزښتونه له تنګونو سره مخ دي او بايد ساتنه يې وشي، ځکه د ارزښتونو دين زما او ستا ساتنې ته نه بلکې غوره کردار، درانه شخصيت، عملي صداقت او له اخلاصه ډکې انساني رويې ته ګوري. که موږ د خپل کردار او تعميري رول په وسيله نړۍ ته دا باور وکړو چې زموږ دين د همدغسې مثبتو او ګټورو ارزښتونو درلودونکی دی نو بيا به هيڅکله اړ نه شو چې ووايو نوره نړۍ زموږ ديني ارزښتونه له منځه وړي او بايد موږ يې د ساتنې لپاره لاس پر کار شو. کله چې د عمل په ميدان کې د يوې مفکورې مثبتې اغيزې وليدل شي بيا يې د نړۍ هيڅ انسان نه له منځه وړلای شي او نه يې پر انساني پرګنو د اغيز مخنيوی شونی دی. بايد دين موږ ته داسې ارزښتونه راکړي چې هم په موږ کې مثبت بدلون راولي او هم نور متاثر کړي. په کومه ديني مفکوره کې که د نورو د راکاږلو پر ځای له هغوی سره د کرکې او تضاد خبره کېده نو بايد وپوهېږو چې دا دين نه ارزښتونه لري او نه د بشر پر اخلاقي وجود اغېز کولای شي. که موږ پر خپل ديني دريځ يو ځل له سره غور وکړو نو ډېر ژر به وپوهېږو چې د دين په نوم ادرس مو غلط کړی، ځکه دين په حقيقت کې د هغو سترو اخلاقي او ګټورو معنوي لارښوونو مجموعه ده چې هدف يې ټول انسانيت ته خير رسول، د هر ډول کرکې مخنيوی، د ټولو تبعيضونو له منځه وړل، د انساني کرامت او شخصيت ساتنه، ورورولي او د منطق پر بنسټ د عدالتي نظام ټينګښت دی. بايد موږ د ديني ارزښتونو د ساتنې پر ځای د دين په انسان شموله ارزښتونو خبر او پلي کوونکي شو، د جبر او قول پر ځای هغه رول ولوبوو چې هر څوک د دين پر ارزښتونو باوري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دین او انسانیت

په اسلام کې د اخلاقو، ټولنیزو احکامو، الهي لمانځنې او نبوي ارشاداتو یوه لویه موخه انسانیت او بشر پالنه ده. که د اسلام پر ګڼو فردي، کورنیو او ټولنیزو لارښوونو غور وکړو نو راته جوته به شي چې اصل هدف یې د یوه ځانګړي تعلق پر بنسټ انساني خواخوږي او بشر پالنه ده. مثلا: الله تعالی مسلمانانو ته په قران کریم کې ویلي چې له خپل مور وپلار سره ښه کوئ، هغوی مه ځوروئ، په هره روا چاره کې یې اطاعت وکړئ، له ټولو خپلوانو سره غوره چلند کوئ، د یتیمانو حقوق مه خورئ، له هغوی سره ښه کوئ، لاس یې نیسئ، غریبانو او بې وزلو ته پام کوئ، سوال کوونکي مه رټئ او داسې نورې لارښوونې.

دا ټول احکام تر یوه ځانګړي سرلیک لاندې په مجموع کې له بشریت سره د خواخوږۍ هغه موارد دي چې د دین په ګڼو لارښوونو کې ورباندې ټینګار شوی، هر مسلمان یې د هغو تر سره کولو ته هڅولی، د داسې کړنو د ترسره کوونکو درجې یې بیان کړې، د نه کوونکو دنیوي او اخروي مقام یې په ګوته کړی او په ټوله کې یې پر ټولنه او انسانیت د شتون او نه شتون په صورت کې د هغو مثبتې او منفي اغیزې څېړلې دي.

که د اسلام اصل روح یانې د الله توحید ته پام وکړو نو هم پوهېدای شو چې دا په انساني تاریخ کې پر بشریت یوه ستره لورونه ده، ځکه کله چې په کومه ټولنه کې الهي توحید نه وي، هلته ډېر وخت انسانیت مجبور شوی چې د خپل خالق او مالک پر ځای بُت، قبر، انسان، حیوان، لمر، سپوږمۍ، ستوري او د طبیعت نورو ښو او مظاهرو ته سر ټیټ کړي، خپل انسانیت تر پښو لاندې کړي، د داسې څه په وړاندې سر پر سجده شي چې د ده د لمانځنې لپاره نه بلکې د ده د خدمت لپاره دي. همدا خبره په یوه قراني ایت کې داسې

انځور شوې:

أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُنِيرٍ (لقمان: ٢٠)

ژباړه: ومو نه لیدل چي الله هغه څه درته اییل کړي چي په اسمانو او ځمکه کي دي؟ پر تاسو یې ښکاره او پټ نعمتونه لورولي. ځیني خلک داسي دي چي د الله په اړه له څه پوهي، لارښووني او ځلاند کتاب پرته شخړه کوي.

د دې ایت په رڼا کي راته جوته شوه چي د څرګندو کایناتو په ډله کي انسان او بشریت ډېر لوړ مقام لري. نور کاینات د ځانګړو قوانینو له مخې د خپل فطرت تابع دي چي یوه ذره سرغړونه ترې نه شي کولای، مګر انسان له یو ډول مجبوریت سره-سره په محدوده دایره کي خپلواک دی، شعور لري، الله پرې د عقل په څېر یو ستر نعمت لورولی، د زده کړې استعداد لري، د بیان ځښتن دی، ژبه ورکړل شوې او ان کولای شي د خپل چاپېریال په شاوخوا کي موجود کاینات په خپله ګټه وکاروي او هغه ډول استفاده ترې وکړي چي د ده زړه یې غواړي.

انسان د خپلو همدغو استعدادونو او وړتیاوو پر بنسټ د ځمکې پر مخ د مېشتېدو چانس وموند او د هغې تنګونې په وړاندي بریالی شو چي د ملایکو په څېر د یوه نوراني او سپېڅلي مخلوق له خوا ورسره مخ شوی وو. همدا وجه ده چي د انسانانو ترمنځ له هر ډول ژبني، مذهبي، نژادي او سمتي تبعیض پرته د الله په وروستي کلام کي د ټول بشریت په اړه ویل شوي:

أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا (المایده: ٣٢)

"یقینا که څوک یو نفس د بل نفس په بدل کي له وژلو او په ځمکه کي له فساد کولو پرته ووژني نو ګواکي ټول خلک یې ووژل او که یې څوک ژوندی کړي نو ګواکي ټول خلک یې ژوندي کړل."

دا الهي لارښوونه موږ ته راښیي چي د هر انسان وژنه ډېر لوی جرم او سخت کرکجن عمل دی. که څوک یو انسان قتلوي ګواکي ټول انسانیت وژني، ځکه په حقیقت کي ټول انسانان د یوه مور او پلار اولاده ده، د یوه خدای بنده ګان دي او ترمنځ یې د انسانیت په نوم یوه اړیکه ده چي په دې کي هیڅ ډول تبعیض ځای نه شي موندلای. په الهي دین کي د ګڼو عباداتو موخه دا ښودل شوې چي په وسیله یې انسان تقوا ترلاسه کړي. د تقوا ساده او اسانه تعریف له خپل خالق او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له مخلوق سره نېکه رابطه ده. یاني تقوا دار او متقي انسان هغه دی چي هم د خپل خالق حقوق پر ځای کړي او هم د مخلوق. که وګورو نو د تقوا لفظ د هر ډول لوړو بشري اخلاقو او غوره ټولنیزو اړیکو لپاره یو ډېر ساده تعبیر دی چي هر څوک پرې په اسانۍ پوهېږي. قران کریم د رسول الله په اړه ویلي:

وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ (القلم: ۴)

"او یقینا ستا اخلاق ډېر لوړ دي."

د رسول الله لوړ اخلاق او ستر شخصیت د دې سبب شول چي د خپل وخت لوی جابران، سرسختي مخالفین او د هرې ټولنې وګړي متاثر کړي. ښه کردار، بشرپال چلند او انساني خواخوږی ته یې وهڅوي. ان امام بخاري په خپل کتاب صحیح البخاري کي یو ډېر عجیب روایت نقل کړی. راځئ! دا روایت په ګډه ولولو او د څو شېبو لپاره یې پر محتوا تم شو:

حَدَّثَنَا آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: كَانَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ، وَقَيْسُ بْنُ سَعْدٍ قَاعِدَيْنِ بِالقَادِسِيَّةِ، فَمَرُّوا عَلَيْهِمَا بِجَنَازَةٍ، فَقَامَا، فَقِيلَ لَهُمَا إِنَّهَا مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ أَيْ مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ، فَقَالاَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتْ بِهِ جِنَازَةٌ فَقَامَ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّهَا جِنَازَةُ يَهُودِيٍّ، فَقَالَ: «أَلَيْسَتْ نَفْسًا». (صحیح البخاري، حدیث شمېره: ۱۳۱۲)

"عمرو بن مره وایي چي له عبد الرحمن بن ابی لیلی مي واورېدل، ویې ویل: سهل بن حنیف او قیس بن سعد په قادسیه کي ناست وو، پر دوی یوه جنازه راغله او ورته ولاړ شول. یو چا ورته وویل: دا خو اهل ذمه دي؟. دوی وویل: پر رسول الله همداسي جنازه راغله، دی ورته ولاړ شو. ده ته وویل شول چي دا د یوه یهودي جنازه ده. ده وویل: ایا انسان نه دی؟."

یهود په خپل وخت کي هغه ډله وه چي له رسول الله سره یې ان د مکې تر مشرکینو هم ډېرې دغرې ووهلې، د هغه پر خلاف یې پټې دسیسې جوړې کړې، د ده د ترور هڅه یې وکړه، د هغه د ناکامه کولو هره ممکنه چاره یې وکاروله او له مخامخ جګړو نیولې تر هر ډول شیطانت پوري یې خپل ټول توان پر دې صرف کړ چي دی له منځه یو سي. مګر له دې هر څه سره-سره بیا هم رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله د يوه يهودي جنازې ته د انساني نفس د درناوي په دود ولاړېږي او احترام يې کوي.

دې ټولو حقايقو ته په پام بايد وپوهېږو چې د اسلام په سپېڅلي دين کې انسانيت تر هرڅه اوچت مقام لري او د بشر پالنې احساس هغه شعور دی چې پر بنسټ يې له هر ډول تبعيض پرته کولای شو چې د نړۍ د ټولو انسانانو تر منځ د امن، ورورولۍ، ګډ کار، ارام چاپيريال او مينې فضا رامنځ ته کړو، ځکه د بشريت پراخه نړۍ هم د نورو کايناتو له فطرته جلا کېدای نه شي، نور کاينات له هر ډول اختلاف او تنوع سره – سره بيا هم تر خپل منځ وحدت او همغږي لري چې موږ هم د خپل دين په رڼا کې د هغوی له دې عمل څخه په الهام او عبرت اخيستلو کولای شو د رنګ، ژبې، عاداتو، فرهنګ، مذهب، هيواد، ټولنې، افکارو او نژاد له اختلاف سره – سره يوه ګډه، ارامه او سوکاله نړۍ ودانه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شریعت په ټولنیزو لارښوونو کي د شکل او ماهیت مسئله

کله چي په معاصر دور کي د دین په ټولنیزو لارښوونو د عمل خبره مطرح کېږي، نو د نو پالانو او زوړ پالو تر منځ یو ډول نظري او لفظي اختلاف رامنځ ته کېږي. که دین ته په ټولنیز چاپیریال کي د رول نه ورکوونکو دریځ یوې خوا ته کړو نو پخپله د دین پالو تر منځ هم دغه لانجه وجود لري. ځیني کسان فکر کوي چي د دین هره لارښوونه باید په هغه ډول پلې او تطبیق شي لکه څرنګه چي په ابتداء کي لومړنیو مسلمانانو پرې عمل کاوه، ځکه دوی د حکم د ماهیت تر څنګ د هغه شکل هم د شریعت موخه ګڼي، خو د دې برعکس ځیني نور بیا په دې اند دي چي د شریعت په ټولنیزو لارښوونو او اجتماعي احکامو کي تر شکل ماهیت مهم دی. شکل په خپل وخت کي د شته امکاناتو پر بنسټ د حکم د عملي کولو څرګندوی دی، نه هدف. د عباداتو په اړه دواړه لوري په دې نظر دي چي په هغو کي باید له ځینو استثنایي صورتونو پرته په هیڅ ډول د بدلون او تغییر هڅه ونه شي.

د دې دواړو نظرونو جاج ځکه مهم دی چي دین په ټولنیز پرمختګ او شاتګ کي مهم رول لري، کله چي په یوه مذهبي ټولنه کي د زړو عاداتو، دودونو او جوړښتونو د بدلون خبره کوو، نو سمدستي دا پوښتنه راپورته کېږي چي دین په دې اړه څه دریځ لري او د شریعت امر څه دی؟ که پر دې ډول مسایلو اساسي بحث ونه شي نو زموږ په ټولنه کي ډېر امکان شته چي مثبت تغییرات به مو د ځینو ډلو او اشخاصو له خوا په دین کي د لاسوهنې په مانا تعبیر شي، په هر حال موږ د یوې مذهبي ټولنې په توګه اړیو چي په ټولنیزو لارښوونو کي د شریعت پر احکامو دا پخواني نظري اختلاف یو حل بیا تر جاج او څېړنې لاندي ونیسو.

زوړ پالان د خپل دریځ په اړه دا استدلال کوي چي رسول زموږ لپاره یوه قدوه او بېلګه ده، نو څرنګه چي رسول په خپل وخت او وروسته دواړو زمانو کي د دین د تعبیر او تفسیر اساسي سرچینه ده نو ځکه باید د شرعي حکم په هغه شکل عمل وشي چي ده په خپل وخت کي پلی کړی وو. دوی دا هم وایي چي که د شکل د بدلون اجازه وای نو قران او یا رسول به یې په ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه کړې وای. په داسې حال کې چې موږ په دې اړه څرګند نصوص نه لرو، په ایتونو او روایاتو کې یا د حکم عمومي امر دی او یا یې د هغه مهال عملي شکل، وروسته کسان صرف په هغو شیانو کې د بدلون او یا تنوع منلو حق لري چې په اړه یې ښکاره نص موجود وي.

بل لورته نو پالي او د شکل پر ځای د حکم پر ماهیت ټینګار کوونکي وایي چې که د مسلې ژورو ته کوز شو نو د دین په ټولنیزو لارښوونو کې له یوې خوا هر وخت او هر ځای په شکل عمل سخت او یا نا شونی دی او له بلې خوا هغه هدف یا بېخي له پامه غورځي او یا کمزوری کېږي چې شریعت غواړي په وسیله یې ټولنه سعادت او سوکالي تر لاسه کړي. مثلا د دیني لارښوونو له مخې صدقة الفطر (سرسایه) یو غوره او سنت کار دی، ځکه د خوشالۍ په ورځ له بې وزلو وګړو سره مرسته او خواخوږي ده. خو که یې د رسول الله د وخت موجود شکل چې د خورماوو، اوربشو، کورتو، غنمو او ممیزو په بڼه وو عملي کړو نو ګټه یې بېخي کمه ده، مګر که یې ماهیت ته په پام پر ځای نغدې روپۍ ورکړو نو له ټولنې سره پوره مرسته ده. همدا راز مسواک یو مسنون عمل دی چې هدف یې د خولې پاکي ده، که یې موږ په زاړه شکل پوري ومنښلو نو باید حتما د خولې پاکولو لپاره لرګی وکاروو، ځکه د زوړپالانو په اند د خولې پاکولو له عمل سره یو ځای د لرګي کارونه هم سنت ده. په داسې حال کې چې په دې اړه د راغلیو روایاتو له الفاظو ښکاري هدف یې لرګی نه بلکې د خولې پاکول دي. ځکه هلته ویل شوي چې په دې سره خوله پاکېږي او د رب رضا ده، نو خوله خو تر لرګي په اوسني برش او کریم تر دې لا ښه پاکېږي، له همدې امله باید لرګی سنت ونه ګڼو بلکې خلک دې ته تشویق کړو چې له مسواک څخه هدف د خولې پاکول دي. دا هدف که په هر شي په ښو مره ښه ډول تر لاسه شي د همغه کارونه د شریعت هدف دی، نه خاص شکل او اله.

همدارنګه په روایاتو کې د طب، صنعت، تجارت، سیاست، کورني ژوند او نورو مدني چارو په اړه ځیني لارښوونې نقل شوې دي چې د معاصر پرمختګ له امله یې زاړه شکلونه بېخي له کاره لوېدلي او ځای یې نویو ډولونو او طرزونو نیولی. د ساینس او ټیکنالوژۍ په پرمختګ سره ډېرې هغه ستونزې حل شوې دي چې پخوا یې حل موجود نه وو، په طب، سیاست، ټولنپوهنه، قانون، د جرم په سزا او مخنیوي او د ژوند په نورو څانګو کې ډول-ډول او ژور بدلونونه رامنځ ته شوي دي چې په زړو رودو د نوي دور نوې قضیې نه شو حل کولای. له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله باید یا دین د ابدیت له دایرې وباسو او یا د شکل پر ځای ماهیت ته ترجیح ورکړو. پر شکلیت ټینګار کوونکي هم د ملکي او ځاني دفاع په مشروع حق کي د نبوي دور پر زړو وسایلو او طریقو ټینګار نه کوي، ځکه دا مهال هیڅ ارزښت نه لري او کارونه یې له حماقت پرته بل څه نه شي کېدای.

د زوړپالو یا شکلپرستانو بله ستونزه دا ده چي ډېر وخت د شرعي احکامو او فرهنګي مسایلو و دودونو تر منځ شته کرښې ته پام نه کوي. ډېری هغه مسایل چي د اسلام په پیل کی رسول او د هغه ملګرو د دین په توګه نه بلکي د انساني او مدني اړتیا پر بنسټ د هغه وخت د دود او توان مطابق ورباندي عمل کړی، دوی د دین د غوښتنو په توګه مطرح کړې او له اوسنیو دین پالانو یې د پلي کولو غوښتنه کوي. څرنګه چي د وخت په تېرېدو او د تمدونونو په بدلون سره د ژوند کولو طریقې، دودونه، کړنې، افکار او د شکل جوړوني ډولونه هم بدلېږي نو د اوسني عصر ډېری مذهبیانو ته د لرغوني زمانې د ژوند ډول او شکل د منلو نه دی. که موږ په اروپا او نورو پرمختللو هیوادونو کي د خپل لیري پراته کلي د ژوند ډول او شکل وغواړو نو نه یوازي به زموږ لپاره سخته وي، بلکي نورو ته به موهم ستونزې جوړې کړې وي.

همدا راز که شکل هم د ماهیت په څېر مهم او مطلوب شي نو بیا د دین په اړه د ابدیت او په هر وخت او ځای کي د عمل تصور له منځه ځي. ځکه د شکل پرستۍ په نتیجه کي تر ځانګړې زمانې او تمدن پوري تړل کېږي چي په دې صورت کي د خوځنده ماهیت نه درلودلو له امله په بل ځای او نوي دور کي یې د عمل شوتتیا ختمېږي. نو که غواړو چي په معاصر دور کي هم دین وساتو او هم عمل پرې وکړو لازمه ده چي د شکلیاتو پر ځای د دین روح او ماهیت درک او بیا یې د وخت له غوښتنو سره سم پلی کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



#ديني تفکر د شدت او غفلت تر منځ

په اسلامي نړۍ کې د ډېرې ستونزو سرچينه په يو نه يو شکل د دين له تعبير او نقل سره تړاو لري ځکه د عقيدې پر بنسټ بيان شوې مسايل ډېر وخت تر نقد او ارزونې لوړ ګڼل کېږي. له دې ادرسه ورکول شوې فتواوې د تقدس له احساس سره يو ځای د جذباتو په رنګ هم لړلې وي. او له همدې کبله پکې ډېر ځله د يو خاص فکر تعصب ليدل کېږي. له معنوياتو سره د مستقيمو اړيکو درلودو پر بنسټ دا انګېرنه هم عامه ده چې د نصوصو او مسايلو په فهم کې عقل او منطقي نقد ته ځای نه شته. ديني نرګسيت يوه بله ناروغي ده چې اسلامي نړۍ ترې کړېږي. د نورې نړۍ پرمختګ زموږ لپاره د سترګو خار ګرزېدلی او هرڅه ته د پردي، پديدې په نظر ګورو او داسې فکر کوو چې د فلسفي، منطقي، طبعي او تخنيکي علومو په ډګر کې د هغوی پرمختګ د خالص ماديت پايله ده چې موږ يې هيڅکله منلای نه شو.

دې ډول فکرونو او انګېرنو د اسلامي نړۍ په ښوونيزو او روزنيزو مرکزونو کې د حقارت، بې ځايه وياړ او کرکې داسې ګډووډو احساساتو ته لار هواره کړې چې د زده کوونکو ذهنيت يې تر خطرناک خمار لاندې راوستی او د سالم رقابت پر ځای د ذهني او فزيکي انتحار پر پوله ولاړ دي. د دين او دنيا تر منځ د کرښې او روابطو نه پېژندنه هم د همدې حالت نتيجه ده. کله چې د دين پوهنې مخکښان د ستونزو حل يوازې په دې کې ويني چې بايد ديني اقتدار رامنځ ته شي نو د افرادو اصلاح، ذهني وده او مسؤوليت له منځه ځي او د وګړو توجو يوازې دې ته اوړي چې څرنګه په لوړه کچه د اسلامي واکمنۍ لپاره هلې-ځلې وکړي، فاسد نظامونه ونړوي او د واک پر ستر ستيج د اسماني نيابت ژېړی اعلان کړي.

کله چې د دين هدف يوازې د واکمنۍ تر لاسه کول وګڼل شي نو په فردي ژوند کې يې هر ډول رول له منځه ځي، د وګړو اخلاقي احساس کمزوری کېږي، له نورو سره د غوره تعامل پر ځای د يوه وړې حيوان په څېر چمتو وي چې نور وځوروي او د قربانۍ په نيت هغه څه وکړي چې بشريت ته يې تر ګټې زيان ډېر وي. همدلته انساني ارزښتونه، د نفس اصلاح، عاطفه، د بل ګټو ته د پام کولو فکر او د يوه کل په توګه د ژوند کولو اصول ارزښت بايلي او د ديني اقتدار په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپورته شوي تونده لاري هر هغه څوک د بې لارې په تور له منځه وړي چې فکر کوي د دوی د ستر مراد په وړاندې خنډ دي. پر دې مهال د دین پالو دعوه کوونکو د فکر او فعالیت یوازینی محور د سلطې هغه پړاو ته ځان رسول وي چې پر مالومه سیمه، هیواد، هیوادونو او بالاخره ټول عالم د دیني واک تینګول ګڼل کېږي او په دې سره به په نړۍ کې هر ډول بدی، ستونزې، ناخوالې او ظلمونه له منځه ولاړ شي. د دی تعبیر مخکښان په خاصو حالاتو کې راغلي نصوص د دایمي او اصلي حکم په ډول وړاندې کوي او د خپل نفوذ په ساحه کې میشتو عامو او یا په اصطلاح له اصل دیني تفکر او عقلي ذهنیت څخه بې برخې وګړو ته ښیي چې زموږ د ستونزو حل یوازې د اسلامي نظام په شتون کې دی. پر خپل فکر د مقدس لیبل په لګولو نورو ته د غور او جاج چانس نه ورکوي او که څوک له دوی څخه د خپل هدف د اساسي وضاحت او یا تطبیق په اړه روانو جریانونو ته په پام منطقي سپیناوی غواړي نو د هغوی لومړی هڅه همدا وي چې دغه ډول سوالونه او سوال کوونکي د تورونو په یوه مجهوله کنده کې خاموش کړي.

څرنګه چې د دیني منابعو پلټنه او اصلي متونو فهم یو لړ عیني او ذهني پیلچتیاوې لري، له همدې امله د سطحي ذهن درلودونکي په دې اند دي چې په دغه ډول مسایلو کې عقلي بحثونو ته ځای نه شته او هر ډول دیني تفکر باید د زماني بهیر په لفظي نقل کې تشریح او تفسیر شي چې دغه ډول مفکوره د اشخاصو، ډلو او انساني هڅو د تقدس له نظریې سره مرسته کوي او د دیني ډلو تر منځ د تعصب او حق د انحصاري کولو فکر ته لار پرانیزي چې بالاخره د ذهني او ساحوي نفوذ په سیالي کې له یو-بل سره لاس او ګرېوان کېږي، زغم په مطلق ډول له منځه ځي، د حذف او محوې پالیسي زور اخلي او د ځانګړي برداشت پر بنسټ د کفر، ارتداد، الحاد، ضلالت او فکري انحراف ټاپې دې حد ته رسېږي چې د یوه دین د پلویانو تر منځ د پخلاینې او نژدېکت هر ډول امکانات له منځه ځي. په انساني ټولنو کې د بېلابېلو ادیانو تاریخ شاهد دی چې د دین په نوم د مقدسو جګړو اصل عامل د واک او ځواک تر لاسه کول دي. له دې څخه په ډېرو کمو مواردو کې یوازې د رسالت او ځان ساتنې منطقي مبارزه جلا ګڼلای شو.

پورتني عوامل بالاخره هغو وګړو ته د ځان مطرح کولو فرصت برابروي چې همدا یې د ژوند لویه هیله وي او په ټولنه کې د خپل نوم ځلولو بل اسانه بدیل نه لري. همدغه کسان د خپل داخلي لجاجت پر بنسټ داسې تعبیرونه تر لاسه کوي چې د دوی هر ډول ناسمو کړنو ته د دین په جامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي برأت ورکړي او په لار کي هر ډول خنډونه د ديني فريضې په نوم له منځه يوسي ان که دا کار د زور، قتل، لوټماری، عام وژنې، ښارونو، بازارونو، کورونو، هر ډول اشخاصو او ديني عبادت ځايونو د ورانولو په بيه هم وي، ځکه د دوی مشران شعورا او کشران په غير شعوري ډول دا شان کړنې يو مشروع عمل ګڼي او په تر سره کولو کي يې د ځان، دين او اخرت ګټهويني.

د توند لارو او افراطيانو د دغه ډول اعمالو او افکارو له امله يو شمېر عام وګړي او هغه کسان چې ديني بيګراونډ لري، خو له دغه ډول تعبيرونو سره جوړ نه دي ځانونه بې وسه احساسوي او هيڅ نه وايي. پر دې سربيره ځيني داسي ځېرې هم شتون لري چې د خپلو شخصي بوختياوو پر بنسټ اصلا داسي غفلت ځپلي وي چې د موجودو شعارونو عامه بدرګه ځاري که هر لوری ورته ګټور وي له څه تامل پرته يې خوا نيسي او ځان ته ځای پيدا کوي. د غفلت او شدت په دې ګرداب کي ژوند، اخلاقي ارزښتونه او بشري کرامت کډه کوي، دين په وبال اوړي او په وړاندي يې د کرکې نفسيات ورو-ورو وده کوي چې د زماني په اوږدو کي د کرکې زېږوونکي هر فکر په مړينه پای ته رسېږي، که په اسلامي نړۍ په تيره زموږ په هيواد کي د دين رول همدغسي د شدت او غفلت تر منځ وي نو يوه ورځ به يې جنازه هم ووينو او په دې کي ټوله ګرمه د هغو کسانو ده چې دين د خپلو موخو لپاره د يوې الې په توګه کاروي. د لوړتيا او انحصار غوښتونکو منګولو ته د ديني تفسير او تعبير لوېدو په مرحله کي د اسماني خلافت او نيابت په پلمه ځمکني اربابان ډېرېږي، حلال او حرام نوی مفهوم خپلوي، واجبات او فرايض نوي شکلونه مومي او عقيدوي تسامح په مطلق ډول خپل ځای تشدد ته پرېږدي چې سر لاري يې په دې دنيا کي د دوزخ او جنت ټکټونه ويشي، نور يې ننداره کوي او پلويان يې خوند ترې اخلي. که د اسلامي نړۍ په زړه کي روانو ناخوالو ته ځېر شئ د ژور جهالت په شتون کي به د نوي دور له سطحي سواد سره يو ځای د ديني شدت او غفلت دا ټول مناظر په مختلفو شکلونو ووينئ. په داسي يوه حالت کي چې څوک د ټولنې د عامه فکر پالنې او مسلکي وړتيا نه درلودو په پلمه د دين کاروپوهانو له غرضي فتوا ګټه اخلي او له هغو سره د تړلو ډلو او اشخاصو فتوا بيا هم د دين د معتبرو سرچينو مسلکي تعبير ګڼي نو دوی بيا هم د غفلت ښکار دي چې له امله يې د متشددينو دريځ پياوړی کېږي او د هغه حالت له دوام سره مرسته کوي چې د طبعي پايلو څرګندېدو په مرحله کي به ډېری ورته د افسوس او ښکي تو ی کړي. څرنګه چې موږ په دغسي يو حالت کي واقع يو نو د منطقي جاج پر بنسټ بايد د عقل او تجربې په رڼا کي د دين او دنيا سم انډول وپيژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په سختي کي اساني

په قرآن کي ویل شوي چي بې شکه له سختي سره اساني ده. (الانشراح)

د دې مطلب دادی چي او سنۍ نړۍ د فطرت له کوم قانون سره سمه پر مخ ځي، د هغه یو اړخ دادی چي دلته تل له مشکل سره اساني وي، دلته تل له خنډ سره د وتلو لار وجود لري. له دې معلومېږي چي په نړۍ کي د پر له پسي سولي د ساتنې راز څه دی؟. هغه دادی چي د خنډونو له ټکر پرته خپله لار و مومو، په انساني ټولنه کي تل د سولي د ختمېدو علت دا پاتي شوی چي د افرادو یا ډلو په لار کي کوم وخت خنډ را منځ ته شوی نو هغوی غوښتي چي دخنډ په ماتولو د ځان لپاره لار هواره کړي.

همدا ذهنیت د سولي د له منځه تلو تر ټولو لوی سبب دی. له همدې امله خلګو ته دا ور ښودل شوي چي که کوم ځای سختي پېښه شي نو خنډ یې مه ګڼئ بلکي دا باور ولرئ چي کوم ځای سختي شته هلته اساني هم وجود لري، چیري چي ظاهرا سفر درېدلی له هغه ځایه نوی سفر هم پیلېدای شي.

که تاسو د کوم غره په لمن کي ودرېږئ نو وبه وینئ چي د غره له څوکې چینې په منډه د هوارې ځمکې پر لور بهېږي، چینې په لار کي بیا – بیا له کمرونو سره مخ کېږي چي ظاهرا یې د بهېدو مخه نیسي مګر هیڅکله داسي نه دي شوي چي کومې ډبرې دې د چینې لار تړلې وي. د دې ساده راز په یوه لفظ کي اعراض دی یعني له ټکر څخه په ځان ساتلو خپله لار وهل. هر وخت چي د چینې مخته کومه ډبره ور ځي نو چینه له یوې شیبې ځنډ پرته داسي کار کوي چي چپه یا را سته اړخ ته په تاوېدلو خپله لار باسي او مخ په وړاندي ځي. هغه له لارې څخه د ډبرې لرې کولو پر ځای خپل ځان کږوي، په دې توګه له څه درېدو پرته د چینې سفر پر له پسې دوام کوي.

همدا د فطرت سبق دی، په دې توګه فطرت د عمل په ژبه انسان ته دا پیغام ورکوي چي له ستونزو سره د ټکر پر ځای هغه له پامه وغورځوئ، د خنډونو د ماتولو پر ځای له خنډونو په تاوېدلو خپل عمل ته دوام ورکړئ. دا کړنلاره په یوه لفظ پازیټیو سټېټس کوایزم (positive status quoism) بلل کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله د سیرت مطالعه ښيي چې ده تل همدا تګلاره غوره کړې وه. د همدې نتیجه وه چې د داسې انقلاب پر راوستلو بریالی شو چې پکې د انساني هلاکتونو شمېره ډېره لږه وه او له څه شک پرته بې وینې انقلاب (bloodless revolution) بلل کېدای شي.

د پازیټیو سټېټس کو ایزم دا تګلاره په اوسنۍ نړۍ کې د سولې تر ټولو لوی ضمانت دی، که داسې وو ایو نو بې ځایه به نه وي چې د جګړې تر ټولو لوی سبب د سټېټس کو (status quo) د ماتولو هڅه ده او د سولې راوستلو تر ټولو لوی راز دا دی چې د سټېټس کو په منلو سره په پاتې دایره کې د خپل ځان د رغولو هڅه وشي.

یادونه: دا لیکنه ژباړل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتانه ولې زده کړې نه کوي؟

هر کال د کانکور په ازموينو کې د پښتنو له سيمو د خپل نفوس او مساحت په تناسب ډېر کم زده کوونکي شرکت کوي چې په دې سره موږ ټول سخت ځورېږو او د هيڅ احساس درلودونکي پښتانه لپاره دا حالت د زغم وړ نه دی. مګر موږ ولې داسې يو، يا په بل عبارت پښتانه ولې له زده کړو سره مينه نه لري؟ لاندې به د خپلې تجربې، مشاهدې او ارزونې پر بنسټ هغه عوامل درسره شريک کړم چې پښتانه يې د زده کړو له بهير څخه راګرزولي او د زده کړو لېوالتيا ډېره يکي پيکه ده.

## د لوستو کسانو له خوا منفي تبليغ

ډېری پښتانه زده کړې يوازې او يوازې د دې لپاره کوي چې ښه معاش او لوړ مقام تر لاسه کړي. کله چې کوم زده کوونکي له دوولسم و څورلسم صنف او يا هم له لوړو زده کړو فارغېږي، نو سمدستي د کار په لټه وي، غواړي يوه داسې رسمي او يا غير رسمي دنده ومومي چې هم ښه غوښن معاش ولري او هم هوسا وي. کله چې خپل دې هدف ته ونه رسېږي نو بيا د زده کړو پر خلاف تبليغ پيلوي او هڅه يې دا وي چې د ګيلو او شکايتونو له لارې نور زده کوونکي هم له زده کړو راوګرزوي، له زده کړو سره يې مينه رالږ کړي او داسې ذهنيت ته تبليغ وکړي چې زموږ په هيواد کې زده کړې هيڅ ګټه نه لري، هر څه په پيسو او واسطو کېږي. دا دی ما زده کړې کړې دي، څه ګټه يې راته کړې ده؟ هغه پلانی بې سواده ښه دنده او ښه معاش لري، په داسې حال کې چې زده کړې يې ډېرې کمې دي.

دغه ډول تبليغات ورور-ورو په يوه عمومي ذهنيت اوړي او چې بيا له هر چا سره د زده کړو خبره مطرح کړې همدا به درته وايي چې زموږ په هيواد کې زده کړې ګټه نه لري. په داسې حال کې چې موږ بايد زده کړې د ښه معاش او ښې دندې لپاره ونه کړو. زده کړه او تعليم په خپل ذات کې دومره ارزښت لري چې بايد هر سړی يې د ډېرې قربانۍ په ورکولو تر لاسه کړي. د زده کړو کول دا معنا نه ورکوي چې موږ به حتما يوه ښه دنده او ښه معاش تر لاسه کوو. د زده کړې هدف د بې سوادۍ له منځه وړل، په ذهني او فکري لحاظ له وروسته پاته حالت څخه راوتل، دليک-

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوست زده کول، د وروسته پاتې شخصي او اجتماعي کردار ختمول او د داسي وګړو او ټولنې رامنځ ته کول چي له معنوي پلوه سنجيده، په انساني ارزښتونو سمباله، بشر دوسته، پرمختګ خوښوونکې، ارامه، منظمه او د معاصر جهان له غوښتنو سره د ځان سموونکې وي.

يو باسواده، تعليم يافته او په زده کړو سمبال کس بايد د پوهې او علم ارزښت په دې تر پښو لاندي نه کړي چي ده د لنډ مهال لپاره ښه دنده او معاش نه دی پيدا کړی. عصري پوهه او علم په خپل ذات کي دومره ارزښت لري چي بايد د تر لاسه کولو لپاره يې موږ هر څه بايللو ته چمتو سو، خو د زده کړو فرصت و نه بايلو. د زده کړو لازمه پايله د يو سنجيده، عالم، روڼ اندي او منطق خوښونکي شخصيت روزنه ده، نه د مادي دندې پيدا کول. منم چي ماديات په ژوند کي ډېر مهم دي، مګر د هغو تر لاسه کول د يو شخص په خپل کاري ځواک پوري اړه لري، نه په زده کړه پوري. زده کړه يو انسان ته د کار کولو، مسوليت پېژندنې، ښه وجدان، لوړ فکر، غوره شخصيت، استعداد غوړونې او په ځان و جهان د پوهېدو وړتيا ورکوي. پاتي شوه دا چي ځوک له دې لاري مادي امتيازات تر لاسه کولای شي او ځوک نه؟ هغه نه د زده کړو لازمه پايله ده او نه د زده کړو په ماهيت او مفهوم کي دومره ارزښت لري.

## د ښوونځيو ټيټ کيفيت

په وار-وار مي له خلکو اورېدلي چي دا يو کال کېږي ماشومان مکتب ته لېږم، خو تر اوسه يې نه خپل نوم زده کړی او نه هم له يوه څخه تر لسو حساب کولای سي. د ښوونځيو ټيټ کيفيت، د سمو استادانو نه شتون او بې غوري هغه بل افت دی چي له ښوونځيو څخه يې د پښتنو زړه تور کړی دی او نه غواړي چي خپل ماشومان ورولېږي. په ډېرو مکاتيبو کي د ښوونکو شمېر کم وي، اداره د زده کوونکو حاضري ته چندان پاملرنه نه کوي، ښوونکي يوازي حاضري امضا کوي نور نو تدريس او شاګرد ته سبق ويل مسوليت نه ګڼي.

پر دې سربېره ډېری ښوونکي له شاګردانو سره بد چلند کوي، ډبوي يې او پر مازي خبره ور ته غوسه کېږي. د شاګردانو ګستاخي هم له پامه نه شي غورځول کېدای. مګر دغه ستونزه په دې نه حل کېږي چي شاګردان و ترټو او يا يې ووهو. ښوونځی د زده کړې او روزنې ځای دی. وهل-ډبول د ستونزې حل نه دی، بلکي ستونزې نوري هم ډېروي. د ادارې او ښوونکو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خشن چلند او زور-زیاتي هم د شاګردانو پر روحیه، ذهني استعداد او زده کړو تـه پر هڅېدو بد تاثیر کوي.

له بده مرغه زموږ استادان اند پوهنتون په کچه هم د تعلیمي او روزنیزې روان پوهنې لـه اساساتو سره اشنایي نه لري. د ښوونې او روزنې په میتود نه پوهېږي همدا وجه ده چې د روزنې په برخه کې ټولې هڅې یې صرف پر زورزیاتي راڅرخي چې دا حالت هیڅ زده کوونکی زده کړې تـه نـه سـي هڅولای. د ځینـو امتیـازاتو پـر سـر تـو پیري چلند بلـه ستونزه ده چې زموږ د درسي چاپېریال اغېز یې خورا کمزوری کړی او پـه شاګردانو کې د بې ځایـه رقابت مفکوره ودە کوي چې له امله یې ځیني زده کوونکي د دغه ډول توپیري چلند له کبله زده کړې پرېږدي.

## د ښوونځیو د شمېر کمښت

د ېښتو په هغو سیمو کې هم د ښوونځیو شمېر کم دی چې د امنیت د خرابۍ ستونزه نه لري. همدا څو ورځې وړاندې د کندهار ولایت د معارف چارواکو خبر ورکړ چې د دې ولایت پـه هغـو سیمو کې ۱۳۹ښوونځي تړلي دي چې امنیت یې بالکل د ډاډ وړ دی. یاني دغـو ښوونځیو تـه د معارف وزرات تشکیل نه دی ورکړی. د کندهار په معارف کې له دغسي حالت څخه موږ د هغو ولایتونو د معارف په اړه ښه اټکل کولای شو چې امنیت یې خراب دی، د دویمې درجې ولایت بلل کېږي، بې سوادې پکې ډېره ده او د خپل بزغ رسولو لپاره ټولې لارې ورباندې تړل ښوي وي. ډېر ځایونه د ښوونځیو شمېر دومره کم دی چې د پنځو-شپږو کالو ماشومان بل نژدې مکتب تـه ځان نه ښي رسولای، ځکه واټن زیات وي.پر دولتي ښوونځیو سربېره د خصوصي ښوونځیو شمېر هم ډېر لږ دی، ځکه یو خو زموږ شتمن وګړي د ښوونځیو پر جوړولو پانګونه نه کوي او بل که څوک غواړي چې پـه خپل لګښت ښوونځی جوړ کړي نو د حکومت لـه خوا د جواز ورکولو لګښتونه او د رسمیت مراحل دومره ډېر او اوږده دي چې ترسره کول یې خورا ستړی کوونکی کار دی. دولت باید د زده کړو د ښه دودېدو په موخه د ښوونځیو لپاره د رسمیت او جواز په برخه کې ځیني داسي اسانیتاوې رامنځتـه کړي چې کـه دولتي ښـوونځي نـه ښي کـولای ټـول زده کوونکي جلب کړي نو پر ځای بـه یې خصوصي ښوونځي موجود وي چې هم بـه زموږ خلک وکولای ښي په اسانۍ زده کړو تـه لاس رسی پیدا کړي او هم بـه د محدودو خصوصي ښوونځیو له املـه د هغو پیس دومره اوچـت نه وي چې یوازې د شتمنو اولادونه پکې زده کړې وکړي. بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼه يې دا ده چي ګڼو کسانو ته-به کاري فرصتونه برابر شي.

## پر مذهبي زده کړو ډېر ټينګار او د عصري زده کړو مخنيوی (د مدرسې - ښوونځي رقابت)

پښتانه دوديزه مذهبي ټولنه ده چي د مذهب او دين په نوم هر ډول فکر، خوځښت او بهير پکي ښه بازار درلودلای شي. زموږ په هيواد کي له عصري او ماډرن سستم سره سمې زده کړې اوږده مخينه نه لري او د تاريخ په اوږدو کي يې په وړاندي ګڼ فرهنګي، مذهبي او سياسي خنډونه راپورته شوي دي.

د زوړپالنې او پرمختګ تر منځ د ځينو مذهبي - فرهنګي ټکرونو له امله د ښوونځي او پوهنتون نوم هم بدنام شو. په کليو او بانډو کي داسي تبليغات پيل شول چي عصري زده کړې د بې لارۍ او فکري انحراف سبب ګرزي. د امان الله خان، داودخان او خلقي رژيم پر مهال دغه ډول تبليغات وخت پر وخت ډېرېدل او زموږ بې سواده وګړو هم منل چي له امله يې د عصري زده کړو پر خلاف د کرکې ذهيت په يوه کلتور او مذهبي ايډيا بدل شو.

ځينو کړيو د دين له ادرسه داسي فتوا ورکړه چي بايد د عصري زده کړو مراکز ښځي له منځه ولاړ شي او پر ځای يې ديني مدرسې جوړي شي. يو خو موږ له تاريخي پلوه د زده کړو سستم داسي جوړ کړی وو چي له لرغوني دود څخه په کار اخيستلو مو تعليم يوازي ملايي ګڼله. پښتنو د خپل قبيلوي جوړښت له امله يوازي ديني زده کړې سواد باله او د نړۍ له نوي پرمختګ څخه نه وو خبر.

د ظاهر شا د واکمنۍ پر مهال چي کله هڅه وشوه د پښتنو په لرو پرتو سيمو کي ښوونځي جوړ شي نو مذهبي ملايانو يې پر ضد د حرمت فتوا صادره کړه او خلکو ته يې وويل چي په خپلو سيمو کي د ښوونځيو د جوړولو اجازه مه ورکوئ! يو خو د ځينو فکري ټکرونو له امله ملايانو عصري زده کړې د دين خلاف ګڼلې او بل ملايان له وخته په خپلو سيمو کي د هر څه واکدار پاتي شوي وو. يوازي دوی په خپلو سيمو کي لوستي بلل کېدل نو دوی نه غوښتل چي خپل انحصاري واک ته يې په خپله حوزه کي بل خطر هم پيدا شي.

ځکه دوی پوهېدل چي د عصري زده کړو زده کوونکي او ښوونکي د ژوند په ډېرو برخو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دوی تکړه دي، که یو ځل ډېر شول نو زموږ هغه تقدس به له منځه ولاړ شي چې دا ډېرې لسیزې یې د خلکو په منځ کی لرو. ملایان اوس هم ډېر وختونه دا ګیله کوي چې د عصري زدکړو زده کوونکي د دوی هغسې قدر نه کوي لکه عام کلیوال چې یې کوي.

پر دې سربېره چې ملایان هر وخت د زده کړو او علم پر فضیلت خبرې کوي نو تاکید یې یوازې د دیني عالم او دیني علم پر فضیلت وي. کله وایي طالب ته ملایکې وزر غوړوي، کله وایي علما د انبیاوو وارثان دي او کله وایي چې یو عالم تر زرو عابدانو ښه دی. په عین حال کې ځیني وختونه ضمنا د عصري زده کړو خاوندان غندي هم. کله یې د انګریز پر لار په تلو تورنوي، کله وایي چې شکلي او فکري انحراف رامنځته کوي او کله وایي چې د عصري زده کړو له مراکزو بې حیایي خپرېږي.

د دیني او عصري زده کړو تر منځ رقابت ته همدغه ډول تبلیغاتو زمینه برابره کړې ده. که تاسو په جوماتونو، مدرسو او دغه ډول نورو محفلونو کې د ملایانو او مذهبي مخکښانو خبرو ته غوږ شئ نو وبه وینئ چې د دوی ټول ټینګار پر مذهبي زده کړو دی او داسې برېښوي چې د قران کریم او نبوي سنتو له مخې یوازې د دیني علم زده کوونکی او عالم د ثواب او فضیلت څښتن دی، دا نور علوم هسې کسبونه دي، ان دوی په خپلو منځونو کې ډاکټر، انجینر، ادیب او د نورو ټولنیزو او ساینسي علومو هغه کسان هم امیان ګڼي چې له لیسانسه نیولې تر ماسټرۍ او دوکتورا پورې یې زده کړې کړې وي.

څرنګه چې اکثریت پښتانه بې سواده دي، له فرهنګي پلوه شاته پاته شوي، اقتصادي حالت یې کمزوری دی، تر ډېره له نورې پرمختللې نړۍ سره زیات روابط نه لري او د رسنیو رول هم پکې ډېر ضعیف دی له همدې امله د ملا او منبر خبره ورته سخته کره او له هره پلوه پوره ښکاري نو کله چې د دین له ادرسه او د منبر له لارې د دین استازي عصري علم غندي او تاکید یې ټول پر دیني علم وي خود به د پښتنو په څېر خلک له عصري علم سره مینه نه لري او ټول هڅه به یې دا وي چې په خپلو اولادونو مذهبي علوم ووایي چې هم یې دنیا سمه شي او هم یې اخرت.

همدغه علت دی چې یو پښتون د روزګان، زابل، غزني او نورو ولایتونو له لرې پراته کلي خپل زوی د کوټې، کراچې او پېښور مدرسو ته لېږي چې هلته مذهبي علوم ووایي او هغه ویاړ ترلاسه کړي چې له دودیز مذهبي فکر سره سم دوی ته په قران او سنت کې ورکول شوی دی. (په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عین حال کي همدغه ذهنیت او د مذهبي علومو لپاره نورو هیوادونو په تېره پاکستان او ایران ته د افغانانو لېږل د ترهګرۍ لپاره ښه سرچینه هم ده)

## اداري فساد

په معارف کي اداري فساد بله لویه، اساسي او د ګڼو ناخوالو زېږوونکې ستونزه ده چي نه یوازي یې د پښتنو پر ښوونیز بهیر بد اغېز کړی، بلکي تر ډېره د روانې ناولې جګړې غوښنه برخه جوړوي. په معارف کي فساد، درغلۍ او د مافیایي کړیو لاسوهنې او س دې حد ته رسېدلي دي چي کله خلکو ته د معارف نوم وریاد کړې، سمدستي یې په ذهن کي فساد، درغلي، واسطې او د مافیا نوم ورګرزي دلته معارف یاني مافیا.

په دغسي حالت کي هیڅ ممکنه نه ده چي په پښتنو کي دي د معارف د تقویې، ودې او پرمختګ لپاره کار وشي، بلکي د مفسدو چارواکو، وکیلانو، ولایتي شورا د بې ضمیره غړیو او نورو دولتي چارواکو هڅه دا وي چي ولس نور هم په تیاره او ناخبرۍ کي پاته شي چي د فساد له لارې د خپلو ناولو عوایدو سرچینې خوندي وساتي او د معارف زیاته بودیجه په خپلو منځونو کي سره وویشي او کمه یې یې یوازي د دې لپاره ولګوي چي د بودیجې د راتګ بهیر روان وساتي.

خیالي ښوونځي، هوایي تشکیلات، د ښوونځیو د لګښتونو خوړل، د ښوونکو د معاش نه ورکول، په تدریسي، اداري او پرسونل په برخه کي د ښوونځیو د اړتیاوو نه پوره کول د پښتني سیمو په ښوونځیو کي بېخي عادي ستونزه ده. ګڼ ښوونځي ودانۍ نه لري، زده کوونکو ته کتابونه نه رسېږي، ښوونکو ته یوازي ۵ زره افغانۍ معاش ورکوي، هغه هم په داسي حال کي چي څو میاشي ورته نه وي ورکړل شوې. اکثر وخت ښوونکي همداسي کسان وي چي د لومړي او دویم صنف د تدریس لیاقت نه لري، خو دوی یې ځکه ګوماري چي دغه ډول کسان په هر ډول حالت کي د معارف د چارواکو او ښوونځیو د مدیرانو په وړاندې اواز نه پورته کوي او هر ډول حالت ورته د زغملو وړ وي.

د معارف ډېری چارواکي هڅه کوي په خپلو ادارو کي داسي کسان پر دندو وګوماري چي معیاري وړتیا ونه لري او صرف د حکم منونکي او د هو صیبب نه صیبب مطلق اطاعت یې ښه زده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، په چاپلوسي کي تر هر چا وړاندي وي او د هر ډول بد حالت په لیدو یې نه وجدان ویښېږي او نه هم په دې خبر وي چي شاوخوا یې څه روان دي؟.

د معارف خیانت، فساد، اختلاس او د مظلوم ولس د حق خوړني ناولی فرهنګ دومره پراخ او پېچلی دی چي که څوک په خبر شي د معارف د ټولو کار کوونکو او مسولینو پر انسانیت، اسلام او افغانیت به نه یوازي شکمن شي بلکي پر دوی به لعنت ووایي او له دغسي وجدان څخه به پنا وغواړي (په دې برخه کي ډېره لږ استثناء منل کېدای شي) په پښتني سیمو کي د ناامنیو او وروسته پاتي فرهنګي حالت له امله په هره برخه کي فساد په ډېره بې غمي کېدلای شي، ځکه دلته مدني فعالان او رسنۍ له وېرې، تمې او پروژیي برنامو پرته د خپل ولس مظلومیت او حق تر لاسه کولو ږغ ته انعکاس نه شي ورکولای.

دلته قومي مشرانو، محدود روحانیت، مافیایي کړیو، د نشیي توکو کاروباریانو، ترهګرو، د معارف نیکتایي اچوونکو فیزیکي روڼ اندو مامورینو، وکیلانو، وزیرانو، والیانو، مدني فعالانو، د رسنیو چارواکو، قلموالو او له دې څانګې سره تړلو نورو منسوبینو د یوه سنجول شوي پلان له مخې د فساد په کولو خپلې کتې داسي تنظیم کړې دي چي هیڅوک یې د رسوا کولو او مخنیوي توان نه لري.

دوی هم اجرتي قاتلان لري، هم په رسنیو کي پلویان، هم په ټولنیزو شبکو کي سرسختي کنټرول مار څارونکي، هم د واک او نفوذ په ساحه کي لوی خیټې قومي مشران، وکیلان او پر لوړو منصبونو ناست ټوپکوال چي په ګډه د یو-بل کتې ساتي.

په معارف کي همدغه منظم فساد په پښتنو سیمو کي د معارف چاري له ډېرو لویو خنډونو سره مخ کړې دي. د زده کړو کیفیت یې ټیټ کړی او د ښوونځیو شمېر سخت کم دی. کله چي حالت داسي وي نو پښتانه ولي خپل اولادونه هسي د وخت ضایع کولو لپاره ښوونځیو ته ولېږي؟ ښوونکي د کوم احساس پر بنسټ له خپلو زده کوونکو سره خواري وکاږي او مدیران د کوم باور له مخې د ښه خدمت احساس ولري؟ د اختلاس او فساد په چاپیریال کي د ښه وجدان او ضمیر خاوند هم بالاخره ستړی کېږي چي یا به معارف خوشي کوي او یا به دی هم ورسره په فساد اخته کېږي او یا به په هیڅ سر نه خلاصوي صرف به خپله دنده مخته وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناامني

افراطیانو د خپلو بریدونو، جګړو، وحشتونو، ځورونو او دین و اسلام خلاف کړنو په وسیله د ژوند د نورو څانګو تر څنګ د پښتني سیمو معارف هم سخت زیانمن کړ چې له امله یې نورو قومونو د ناامنۍ له پلمې څخه په استفاده د معارف ډېر امکانات خپلو سیمو ته ولېږدول او پښتون میشتي سیمې د افراطیانو د کړنو له امله په ابدي محرومیت کې پاتې شوې.

طالبانو او نورو افراطیانو له دولت سره د سیاسي مخالفت په پلمه د پلونو، سړکونو، بندونو او ښوونځیو په څېر د عام المنفعه پروژو مخه ونیوه، ښوونځي یې ونړول، ښوونکي یې وګواښل او داسي خبرپاڼې یې خپرې کړې چې که هر څوک ښوونځي ته ولاړل یا یې خپل ماشومان د صلیبیانو له خوا جوړو شویو ښونځیو ته ولېږل نو سزا به ویني. ان د زابل ولایت د سیوري په ولسوالي کې د طالبانو یوه سخت زړي قومندان ملا سلیم له یوه ښوونکي څخه یوازې له دې امله غوږونه غوڅ کړل چې په یوه ښوونځي کې ښوونکی وو.

طالبانو په دغسې اعمالو له یوې خوا په پښتنو کې د سخت وحشت له امله د زده کړو روحیه ووژله او له بلې خوا یې د دولت په لوړو کړیو کې د پښتنو ځینو شعوري دښمنانو ته دا پلمه په لاس ورکړه چې په معارف او نورو ملي پروژو کې د دې لوی قوم حقوق په نورو وخوري او ناامني د یوې کلیدي پلمې په توګه وکاروي. ان داسي راپورونه شته چې په غزني او روزګان کې هزارګانو د دې لپاره له طالبانو سره د وسلو او پیسو مرسته کوله چې دوی د پښتنو په سیمو کې ناامني جوړه کړي، څو هغه پروژې د هزاروو سیمې ته انتقال شي چې د امن په صورت کې به د غزني او روزګان په پښتنو سیمو کې پلي کېدې.

طالبانو د پاکستاني ملایانو او پنجابي مفتیانو په فتوا هڅه کړې چې ښوونځی او پوهنتون د فکري انحراف، ارتداد، غلامۍ او بې حیايي د مرکزونو په توګه معرفي کړي. د عزم په نوم د طالبانو یوې مجلې په خپله یوه ګڼه کې لیکلي وو چې ښوونځي په لومړي ځل د فرعون له خوا ایجاد شو. همداراز د طالبانو یوه مشهور ملا مولوي هبة الله اخوند زاده چې یو وخت د کوټې ښار په ۱۳ کیلو میترۍ کچلاک ښارګوټي کې میشت وو، هلته یې مدرسه درلود او ګڼو مذهبي طالبانو به ورباندې په اصطلاح لنګوټې تړلې، خو اوس د اختر منصور لومړی مرستیال دی. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله يوه وينا کي چي د طالبانو د فراغت په مناسبت جوړه شوې وه د ښوونځي او مدرسې د پرتلې په ترڅ کي وويل: يو حاجي صاحب راته وويل: غواړم يو داسي ښوونځی جوړ کړم چي پر شرعي اصولو به برابر وي، ستا څه رايه ده؟ ده ويل ما ورغبرګه کړه چي له مدرسې څخه به ملا عمر راوزي او له ښوونځي څخه به کرزی او مشرف نوره نو ستا خوښه ده.

افراطي کړی په خپلو تبليغاتو کي تل د کلي وروسته پاته ژوند او فرهنګ د ښار له ژوند او فرهنګ سره پرتله کوي او بيا کليوالو ته داسي ذهنيت ورکوي چي که مو ښوونځی ولوستنو بيا به مو نجوني له نارينه وو سره يو ځای ناستې وي، بازار ته به راوزي او بې حيايي به ډېره شي چي په دې لړ کي بيا د کابل پيلګي ورته کتار کړي. ورته وايي هلته نجوني لوڅ مخ راوزي، له نارينه وو سره په يوه دفتر کي يو ځای کار کوي، اسلامي حجاب نه مراعاتوي او دغسي نور بې ځايه چټيات چي يوازي بې سواده او ساده کليوال پرې خطا کېدای شي.

څرنګه چي په کليو کي ملا او منبر د طالبانو او دغه ډول نورو افراطيانو لوډ سپيکران دي له همدي امله تل د هغوی په اشاره او اراده د ښوونځي او پوهنتونو پر ضد تبليغات کوي، په مختلفو بهانو د ښوونځي او عصري زده کړو مخه نيسي او په وړاندي يې خنډونه جوړوي. د ناامنۍ له امله ډېر ښوونځي تړل شوي او يا داسي وي چي کله تړلي او کله پرانيستي وي. وخت پر وخت د افراطيانو له خوا د ښوونځيو اداري مديرانو، ښوونکو، زده کوونکو او نورو مامورينو ته اخطارونه ورکول کېږي چي له امله يې د هر چا زړه له زده کړو تور شي. ان په ځينو هغو سيمو کي خو يې ښوونځي مطلق بند کړي دي چي د طالبانو ولکه ډېره ده او د خلکو له پشاره هم نه ډارېږي، مګر په کومه سيمو کي چي د خلکو د پشار له امله ښوونځي پرانيستي دي، هلته بيا د معارف خدمات د افراطيانو د بې ځايه مداخلو له امله دومره ټکني دي چي هيڅکله د يوه هيواد رسمي معارف نه شي بلل کېدای.

## د ښځو له زده کړو سره مذهبي - فرهنګي حساسيت

پښتانه د خپل تاريخي فرهنګ او وروسته پاته مذهبي فکر پر بنسټ په ټولنه کي د ښځو له حضور سره سخت حساسيت لري. څرنګه چي پښتنو لازم مدني پرمختګ نه دی کړی او تر اوسه هم قبيلوي فکر لري، ټولنيز جوړښت يې اوس هم عنعنوي دی او مرد سالاري پکي اوس هم شرافت، وياړ او مېړانه بلل کېږي. له همدې امله ښځو ته په ټولنيزو، سياسي، اقتصادي، پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تعليمي ډګر کي ونډه ورکول ښه کار نه ګڼل کېږي.

په پښتنو کي اوس هم د پخوانيو پېړيو تر وخت تېر ويارونه پالل کېږي، د ښځو په اړه د پښتنو تصور دا دی چي هغوی بايد يوازي د نارينه وو خدمت وکړي، ماشومان وزېږوي او ويې پالي. له دې ها خوا هيڅ حق نه لري. له همدې فرهنګ سره د مذهب توجيهات هم يو ځای شوي چي له دې سره د ښځو د سالم ژوند او په ټولنه کي د ازاد ژوند په وړاندي خنډونه نور هم پياوړي کېږي.

پښتانه د خپل فرهنګي – مذهبي تصور پر اساس داسي فکر کوي چي که ښځه له کوره ووته نو هم به يې دنيا خرابه شي او هم اخرت. دوی فکر کوي چي ټولنې ته د ښځې ورتلل، زده کړه، سياسي فعاليت، اقتصادي بوختيا او په ټولنيزو چارو کي ونډه اخيستل دا مانا چي بايد موږ خپل دين تر پښتو لاندي کړو، خپل غيرت او تاريخي ويارونه له لاسه ورکړو. د ښځو په اړه د پښتنو همدغه ناسم تصور د دې سبب شوی چي زموږ ښځې د زده کړو له ډګره بېخي لري پاته شي او داسي کورنۍ به ډېرې کمې وي چي د ښځو زده کړو ته په پراخ نيت اجازه ورکړي.

په ښارونو کي اوس هم ډېری کورنۍ اول ښځو ته د زده کړو اجازه نه ورکوي او که ورکړي نجونې په ښوونځي کي داخلې هم کړي، خو ډېری کورنۍ يې تر ۱۲ کلنۍ وړاندي بېرته راګرزوي يانې يوازي تر پنځم ټولګي پوري د زده کړو اجازه ورکوي.

کله چي ښځه نالوستې وي، نو موږ دا تمه نه شو کولای چي ماشومان دي په ښه ډول تربيه کړي، ځکه يو بې سواده شخص به څرنګه د انسان په تربيه پوه شي او څه به ورته وښيي؟. د ښځو د زده کړو مخنيوي هم ښځې له سختو ستونزو سره مخ کړې دي او هم يې زموږ د روزنې او پالنې کورنی نظام ډېر بد متاثر کړی دی.

په کار ده چي دولت، مدني بنسټونه، رسنۍ، ديني علما، قومي مشران او نور نفوذ درلودونکي ګروپونه/ شخصيتونه پښتانه د ښځو زده کړې ته وهڅوي او د هغه ذهنيت پر خلاف هر اړخيزه مبارزه وکړي چي د ښځو د زده کړو په وړاندي خنډ دی. که زموږ ښځې د زده کړو پوره حق تر لاسه کړي، نو ان شاء الله ډېر ماشومان به له ډېرې ښې روحيې او سويې سره ښوونځيو ته ولاړ شي چي په دې سره به هم زموږ د ښوونځيو کيفيت ښه شي او هم به له زده کړو سره مينه زياته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.

ځرنګه چې زموږ د ټولنې ډېری وګړي د مادي فقر ترڅنګ په معنوي او جنسي فقر هم اخته دي له همدې امله د جنس او سيکس په اړه خورا عجيب او غريب تصورات لري. دوی د مخالف جنس په وړاندې بل هيڅ فکر نه کوي، يوازې او يوازې د شهواني غريزې په نظر ورته ګوري. دوی داسې انګېري چې ښځه ياني جنسي متاع او د نارينه لپاره د جنسي اړتيا پر مهال د خدماتو وړاندې کوونکې له دې پرته د ښځې بله هيڅ وړتيا او فعاليت ورته د منلو نه دی. د نارينه وو ترڅنګ اوس ښځې هم داسې فکر کوي چې دوی له دې ها خوا په خپل ژوند کې د کارې ډګر بله ساحه نه لري. همدا وجه ده چې نارينه او ښځې دواړه په دې اړه چندان اندېښمن نه ښکاري چې ولې نارينه زده کړه او په ټولنه کې فعاليت کولای شي، خو ښځه يې نه شي کولای؟ ځکه دواړه په دې اند چې دغه ډول وېش طبعي او ديني دی. د بدلون هڅه يې له هره پلوه يو غلط اقدام دی، مګر که زموږ ښځې زده کړه وکړي نو په لنډه وخت کې دغه ډول ناسم افکار اصلاح کېدای شي چې هم به د ښځو لپاره ګټور وي او هم زموږ د تعليمي سستم لپاره، ځکه او سمهال زموږ د ټولنې يوه لويه برخه بې سواده او نالوستې پاتې ده.

## بې وزلي او ډېر اولادونه

په پښتنو کې بې وزلي يوه بله لويه ستونزه ده چې د ډېرو کسانو د زده کړو مخه يې نيولې ده. پښتانه د اقتصاد په ډګر کې وروسته پاتې دي، نو له همدې امله نه شي کولای چې په خپلو اولادونو زده کړې وکړي. د دې ترڅنګ د اولادونو ډېرښت بل هغه سرخوږی دی چې د تعليم په ډګر کې د پښتنو د وروسته پاتې والي لامل ګرزي. ځکه کله چې د يوې کورنۍ نفوس ډېر او عوايد يې کم وي نو هغه کورنۍ نه شي کولای د ځان لپاره د ژوند اړين وسايل او توکي برابر کړي. ياني دومره عوايد نه لري چې د ژوند تر لومړنيو اړتياوو يې ډېر وي او بيا په هغو د اولادونو لپاره د زده کړو اسانتياوې برابرې کړي. که په کومه سيمه کې دولتي ښوونځي وي نو بيا هم پښتانه ځکه نه شي ورتلای چې ډېری کورنۍ اړې دي د خپل خوراک، څښاک او نورو اساسي اړتياوو لپاره په ماشومانو کار وکړي. پښتانه د خپلې بې سوادۍ او ناسم مذهبي فکر له امله دې ته نه دي چمتو يا نه پوهېږي چې بايد د خپل ځان او اولادونو د ښه ژوند لپاره د ماشومانو زوکړه کنټرول کړي. که پښتنو د خپل مالي توان په اندازه ماشومان زېږولای ياني

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره اولادونه يې درلوداى چې په ښوونه او روزنه پسې يې رسېداى شواى نو بيا به له مالي پلوه هيڅ کورنۍ په دې ستونزه نه وه اخته چې خپلو اولادونو ته دومره مصارف نه شي برابرولاى چې د هغوى د زده کړو لګښت پوره کړي.

زموږ خلک يوازي سرونه ډېروي خو دې ته يې نه ګوري چې د سرونو تر ډېرولو د مغزونو روزل اړين دي. که زموږ عوايد کم او مصارف مو زيات وي نو د نورو ګڼو ټولنيزو، رواني او مالي ناخوالو تر څنګ يوه لويه ستونزه دا رامنځ ته کېږي چې نه شو کولاى خپل ماشومان په سم ډول وروزو او دوى ته د روزنې لپاره لازم امکانات برابر کړو. دا اوس هم په ګڼو ښارونو او کليوالو سيمو کې ځيني ځايونه د دولت له لوري ماشومانو ته د وړيا زده کړو امکانات برابر شوي خو پښتانه ځکه ماشومان نه ورلېږي چې بيا د روزي ګټلو لپاره بل څوک نه لري، ياني د اقتصادي ستونزو له امله اړ دي چې ماشومان له زده کړو راوګرزوي او د يوې ګولۍ ډوډۍ پيدا کولو لپاره په ماشومانو کار وکړي.

ګڼ داسي کسان پېژنم چې له زده کړو سره ښه مينه لري، خو د مالي ستونزو له امله نه شي کولاى لېسه او پوهنتون ووايي ځکه د کار او زده کړو يو ځاى مخته وړل يا سخت وي او يا بېخي امکان نه لري. ډېرى پښتانه ځوانان او د کم عمر کسان اړ کېږي چې د خپلو مالي اړتياوو پوره کولو لپاره ايران، پاکستان، منځني ختيځ او نورو بهرنيو هيوادونو ته سفر وکړي چې ځيني وختونه يې د سر په بيه تمامېږي. د پښتنو په سيمو کې له مذهبي زده کړو سره د ډېرې لېوالتيا يو علت بې وزلي هم ده، ځکه مذهبي زده کړې ډېر وخت مفتې وي او هيڅ ډول لګښتونه نه لري.

پر دې سربېره که کوم څوک د ډېرو ستونزو له تېرولو سره – سره بيا هم لېسه وايي او پوهنتون ته ځي نو ځيني وختونه مجبورېږي چې پوهنتون په نيمايي کې خوشي کړي او که يې پاى ته ورسوي نو هم يې په داسي کيفيت لولي چې د ذهني تمرکز نه درلود له امله يې سويه ډېره ټيټه وي. که دغه ډول کسانو په خپل ژوند کې لږ مالي داډ درلوداى نو ډېره شونې وه چې زده کړو سويه به يې ښه واى او د ټولنې لپاره به له پوهنتون څخه راوتلي بې سواده نه بلل کېداى.

د همدې بې وزلي له امله پښتانه مجبور دي چې خپلې لوڼې په ډېر کم عمر کې وپلوري او له نجونو څخه د اخيستلو او رانيولو کار واخلي چې له همدې امله ښځو ته د پوره انسان مقام نه ورکول کېږي. په ټولنه کې د ښځې مقام يوازي د خدمت کوونکې دى چې يو يې خرڅوي او بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې رانيسي. همدا وجه ده چې پښتانه د ښځو تعليم چندان مهم نه ګڼي، ځکه ذهنيت يې داسي دی چې هسي به يې هم پلورم او بل کورته-به يې ودوم نو ما ته يې څه ګټه رسيږي؟ دلته هر څوک ښځه د خريد وفروش متاع ګڼي او د زده کړو غم يې ورسره نه شته. د ډېرو اولادونو او مالي فقر له کبله پښتانه هم خپله مالي اړتيا په ښځو پوره کوي او هم جنسي اشتها.

## د زده کړو په ارزښت نه پوهېدل

سره له دې چې په نوره نړۍ کي د زده کړو د ارزښت او ګټورتيا په اړه تبليغ ته هيڅ اړتيا نه شته، مګر پښتانه لا هم دې ته شديده اړتيا لري چې د زده کړو او پوهې ارزښت ورته بيان شي او په دې اړه پراخ تبليغات وشي. پښتانه اوس هم يوازې د يوې ګولې ډوډۍ ګټل ستر غنيمت ګڼي او وايي چې په کار ده مور د هقاني، نجاري، خياطي او داسي نور کسبونه زده کړو. د دې لپاره نو د ښوونځي او پوهنتون لوستلو ته څه اړتيا ده؟ يوه ګوله ډوډۍ خو په بېل او کره هم پيدا کېږي. ولي خپل زامن داسي مرکزونو ته واستوو چې هلته يې عقيده خرابېږي، د خپل پلار او نيکه دود پرېږدي او د پردو پر لار ځي؟ په کليو او ښارونو کي داسي کورنۍ بېخي ډېري دي چې اولادونه به يې په کوڅو کي هسي بې کاره ګرزي او هيڅ بوختيا به-نه لري، خو د کورنۍ مشران يې د زده کړو په کيسه کي نه دي. زموږ ډېری خلکو ته اوس هم سواد او زده کړه داسي ښکاري لکه څوک چې اوبازي،غېږنيونه او داسي نوري لوبي زده کوي چې د ژوند له اساسي اړتياوو څخه نه دي خو که چا زده کړه بد کار يې نه دی کړی، ان د ځينو تبليغاتو له امله خو اوس هم سارايي پښتانه ښوونځي ته-په ښه سترګه نه ګوري. په يو نه يو ډول ورته د بې لارۍ ځايونه ښکاري، مګر څوک چې د دغه ډول تبليغاتو تر اغېز لاندي نه دي، هغوی د ماشومانو ښوونځي د ماشومانو لپاره د روزنې او ترييې مرکز نه ګڼي بلکي ښوونځي داسي ګڼي چې هلته په لېږلو به د يو څه وخت لپاره د ماشومانو له شوخي او شورماشور څخه بېغمه وي.

د دغسي ذهنيت د ښه درک لپاره به د ښوونځيو او زده کړو په اړه د پښتنو عمومي دريځ ته پام وکړو. کله چې په کومه سيمه کي د ترهګرو او نورو غير مسؤلو وسله والو له لوري ښوونځي سوځول کېږي نو پښتانه يې په وړاندي چنداني خواشينوونکی غبرګون ځکه نه ښکاره کوي چې دوی ته له لويه سره د زده کړو مرکزونه ارزښت نه لري شتون او نه شتون يې ورته بې توپيره دی. پښتنو هيڅکله د ښوونځيو او زده کړو د مرکزونو د جوړولو، رغولو، ساتلو او زياتولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاريون ونه کړ، پر خپلو مشرانو يې په دې اړه پشار رانه ووست او په خپلو امکاناتو يې ښوونځي جوړ نه کړل.

د پښتنو قومي او سياسي مشرانو هيڅکله د ښوونځيو د ډېرولو، پراخولو، تجهيزولو او جوړولو لپاره کمپاينونه ونه کړل. د خپل نفوذ په ساحه کې يې خلک ورته ونه هڅول او د خپل سياست او خدمت تگلاره يې داسې جوړه نه کړه چې زه به ښوونځي جوړوم، خلک به زده کړو ته تشويقوم او څوک چې له علم او پوهې سره دښمني کوي، د معارف امکانات د ځان په گټه کاروي او اختلاس کوي له هغوی سره به د سخت چلند لار خپلوم دا ځکه چې د غه ډول ژمنې او وعدې په پښتنو کې چندان ښه هرکلی نه لري.

زموږ هغه وگړي هم د خپلو اولادونو زده کړو ته پوره پاملرنه نه کوي چې ژوند يې ښه دی او له مالي پلوه پر خپل ځان بسيا دي. په پښتنو کې به داسې گڼې کورنۍ پيدا کړئ چې اقتصادي وضعيت به يې فوق العاده ښه وي، خو په يو درزن اولادونو او خپلوانو کې به يې دوولسم پاس هم نه وي. په پښتنو کې داسې کسان ډېر کم پيدا کېږي چې د يوه بې وزلي زده کوونکي د زده کړو لگښت پر خپله غاړه واخلي، مگر د داسې کسانو شمېر لږ نه دی چې خپله شتمني د قبرونو او مزارونو پر جوړولو لگوي، له اړتيا پرته مساجد جوړوي، هر کال حج او عمرې ته ځي او يا نور لېږي. په داسې حال کې چې د پوهې او علم په لار کې هڅې تر بل هر خيريه کار ډېر لوی او دايمي اجر لري، مگر زموږ خلک د علم او معارف پر خدمت د شتمنۍ لگول ضياع گڼي او دې ته چمتو نه دي چې د علم او معارف په دودولو کې مالي او ځاني هڅې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علم او د مالوماتو منابع

علم د انسان ژوند دی. پر دې نړۍ یوازې د علم واکمني ده. له چا سره چې علم وي هغوی د نړۍ قیادت په لاس کې لري. په مذهبي کتابونو کې ویل شوي چې ملایکو انسان ته سجده وکړه. د دې اطاعت راز همدا وو چې انسان د علم او پوهې په ډګر کې خپله ورتیا ثابته کړه. د ادم په وړاندې د ملایکو سجده په ساده مانا سر ټیټول نه وو بلکې مطلب یې دا دی چې ادم د ملایکو په وړاندې د خپلې پوهې عملي ثبوت وړاندې کړ چې همدا یې پر دې نړۍ د پرمختګ او سیادت راز شو.

بشري نړۍ د علم په مټ ودانه ده. انساني تمدن یوازې د علم په وسیله پرمختګ کوي، د اړتیا او بوختیا ټول وسایل د علم له لارې موندل کېدای شي. غور، فکر او تدبر هغه اساسات دي چې د علم لپاره یې شتون اړین دی. د محسوساتو په عالم کې چې موږ د هر حس په وسیله څه احساسوو همدا زموږ د علم یوه برخه ده، خو د محسوساتو او تجربو ارزونه بالاخره د معقولاتو پړاو ته په ننوتو کلي او عمومي قواعدو ته لار پرانیزي. لنډه دا چې علم د انسانیت د هرڅه ملاک او د انساني ژوند د بقا راز دی.

هر سړی د خپل ژوند په اوږدو کې له ماشومتوبه او بیا تر مرګه د ژوند په بېلابېلو پړاوونو کې څه ناڅه پوهه تر لاسه کوي او مالومات راغونډوي. زموږ د مالوماتو سرچینې پر لاندې څو برخو وېشلای شو:

## ۱) کورنۍ

ماشوم چې کله وزېږي او ذهني وده یې پیل شي تر ټولو لومړی له خپلې کورنۍ په تېره د مور له غېږې زده کړه پیلوي. ساده ذهن ته یې له همدې لارې الفاظ رسېږي، په خپلو سترګو بېلابېل شیان ویني، مختلف ږغونه اوري او د وخت په تېرېدو ژبه زده کوي څه چې یې د مور په غېږ او د خپل کور په چاپېریال کې اورېدلي وي له هغو سره اشنا کېږي او د لفظونو تر څنګ یې په خارجي مصداق یا واقعي وجود هم پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان په ژوند کي همدا د زده کړې تر ټولو لومړنی ښوونځی دی. موږ همدلته بېلابېل مالومات تر لاسه کوو چې د ژوند له هماغه پيله زموږ په ذهن کي ځای نيسي او بالاخره ورسره دومره روږدي کېږو چې که د عمر په نورو برخو کي د مالوماتو د تحليل او ارزونې له ميتودونو او رودو سره اشنا نه شو نو ډېره شوني ده چې همدا مالومات زموږ لپاره تر ټولو باوري وي او هيڅکله يې نقد ته چمتو نه شو.

که ماشومان د عمر په دې پړاو کي سم وروزل شي نو راتلونکی ژوند به يې ډېر ډاډمن وي. له همدې ځايه چې دوی ته کوم مالومات ورکول کېږي او يا يې دی د کورنی په چاپيريال کي په طبعي ډول د حواسو له لاري تر لاسه کوي د دژوند په راتلونکي کي د بنسټ حيثيت لري. په کومو ټولنو کي چې له کوره بهر د روزنې او زده کړې معياري سيستم موجود وي هلته د کورنۍ په غېږ کي تر لاسه شوي خام مالومات د انسانانو راتلونکي ژوند ته ګواښ نه شي پېښولای مګر د افغانستا په څېر يوه بې سواده او وروسته پاتي ټولنه کي د کورنۍ د غېږې لومړني ناسم او نيمګړي مالومات د هر ماشوم د راتلونکي ژوند په وړاندي ګواښ دی ځکه د ماشوم په روزنه د نه پوهېدو او په کورنيو کي د کره مالوماتو د نه وجود له امله هر ډول بې باوره او ناکره مالومات د ماشوم ذهن ته لار کوي، د ټولنې شته خرافات، توهمات او له علم و منطقه لري افکار او مسايل يې په ذهن کي ځای نيسي چې د عمر په نورو پړاوونو کي يې سمون ځکه سخت دی چې زموږ ټولنه د روزنې او زده کړې داسي معياري سيستم نه لري چې و کولای شي د خپلو وګړو په ذهني بدلون کي رغنده رول ولوبوي.

زموږ په ټولنه کي د شته ستونزو يو ستر عامل همدا دی چې موږ له يوې خوا د سم پوهاوي نه درلودو له امله په کورنۍ کي ماشومان په ناسم ډول روزو، ذهن ته يې غلط مالومات پيچکاري کوو او له بلې خوا مو د ښوونې او روزنې نظام دومره کمزوی دی چې نه شي کولای د خپلو وګړو په معياري روزنه او ذهني وده کي اړين رول ولوبوي.

د هر انسان لومړنی شخصيت د خپل کور په چاپيريال کي رامنځ ته کېږي. د ده ذهن ته لومړی هغه مالومات لار کوي چې د کورنۍ بېلابېل غړي يې ورکوي. که د خپل کور په چاپيريال کي د ماشوم پر شخصيت جوړونه سم او معياري کار وشي نو د راتلونکي ژوند په اوږدو کي به د ځان او نورو لپاره په هره مانا يو مفيد شخصيت وي، خو که يې ذهن ته د کور د غړيو له خوا ناسم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالومات ولېږدول شي، د خپل کور په چاپېریال کي غلطي کړني ويني، د متشدد چلند لیدونکي واوسي، د برخورد په زده کړه کي ورسره ترټونکي سلوک ترسره شي او د هغه د نازک ذهنیت سالمې جوړونې ته اړینه او اصولي پاملرنه ونه شي، نو بیا به د خپل لوینښت پر مهال په ځواني او لوی عمر کي د خبرو او عمل په وسیله د ژوند د همدې دورې ممثل وي. ښه کورنۍ او د هغې ښه چاپېریال د ماشوم لپاره د ښه ژوند او ښې راتلونکې ضمانت دی. نو باید هڅه وشي چي هم ماشوم ته د ده له ذهني او فزیکي جوړښت سره سم معیاري مالومات ورکړل شي او هم یې سالمې رواني او فزیکي روزنې ته پام وشي.

## ۲) جومات

په اسلامي ټولنه کي د علم تر لاسه کولو یوه بله ډېره مهمه منبع جومات او منبر دی. دلته وړاندي کېدونکي هر ډول مالومات له یوې خوا دیني تقدس لري، له بلې خوا د هغه چا له خولې وړاندي کېږي چي د دین رهبر مقام ورکول شوی دی. د جومات هره خبره د خلکو پر ذهن او روان دومره ژور تاثیرات لري چي ټول ژوند یې رانغاړي.

له بده مرغه په افغاني ټولنه کي جومات او منبر هغه چا اشغال کړي چي په سلو کي ۹۹ یې د دې مهم او خورا حساس مسؤولیت د پر مخ بوولو وړ نه دي. زموږ ملا امامان، وعظ کوونکي او خطیبان له یوې خوا د دین او دنیا تر منځ د اړیکو سمه کرښه نه پېژني او له بلې خوا یې د دین د اساسي تصور، کره سرچینو، روایاتو، فقهي، اجتهاد او درایت په اړه درک ډېرین عصر ته رسېږي. د دوی په دیني تعبیر کي دنیا ځای نه لري، زده کړه بې ارزښته ده، اقتصادي پرمختیا د نورو کار دی، ښځه پنځمه درجه موجود دی، له رږغه نیولې تر مخه هر څه یې ستر دي، په ټولنیزو چارو کي ونډه نه شي اخیستلای، د خپل ملګري د انتخاب حق نه لري، په بدو کي ورکول کېږي، بلوغ ته تر رسېدو وړاندي یې په نکاح ورکوي او ان ودوي یې، په یوه–بله بدلېږي، د میراث حق نه لري، زده کړه خو یې کفر دی، د هغې په وړاندي هر ډول تاوتریخوالی د سرپرستانو او مېړه د کورنۍ حق دی او دا ډول نورې په لسګونو دیني، طبي، مالي، ټولنیز، فردي، تعلیمي، سیاسي او نظامي ناخوالې دي چي په جومات کي د ناسم مدیریت او ناسم دیني درک له امله زموږ ټولنه ورسره لاس او ګرېوان ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په خپله یوه مقاله کې د افغاني ملایانو په اړه لیکلي وو:

د دین په برخه کې خو له یوې خوا سم مسلکي او د وخت له غوښتنې سره سم پوهان نه لرو او له بلې خوا چې کوم کسان څه ناڅه پوهېږي هغوی هم خپل مسؤولیت ته شا اړولې ده. زموږ په ټولنه کې د دین استازیتوب دودیز ملایان کوي چې ډېری یې ان د شپږم صنف د یوه شاګرد سویه نه لري، د لوست کچه یې یوازې تر څو محدودو او تر وخت تېرو کتابونو پورې محدوده وي، په خپله ژبه له لیکنې سره دومره نا اشنا وي لکه دی چې بېخي د دې ملت وګړی نه وي. په منبر او محراب کې مقتدیانو ته د دین په نوم ډېری وړاندې کېدونکې مالومات خورا کمزوري، جعلي، بې بنسټه او هغه خرافاتي کیسې وي چې تر ډېره یې سپین سرې د ژمي پر مهال خپلو وړو ماشومانو ته بیانوي او یا یې بې کاره کلیوال د ژمې په موسم کې لمر څېکې ته کوي.

د دوی د مطالعې ساحه هیڅکله له درة الناصحین، ارشاد الواعظین او داسې نورو کمزورو کتابونو د دین کره او د اوسنې وخت معیاري کتابونو ته وانه وښته. دوی د تخنیکې دور له وسایلو سره سخت نا اشنا دي چې له همدې امله یې د حرمت په ټاپه هم نازوي. د دین او دنیا د مالوماتو کچه یې نن د نورې نړۍ د ماشوم له سویې هم کښته ده. د خپل کور، کلي، ولس، هیواد او ملت غوښتنې نه پېژني، د اوسنۍ نړۍ په تقاضاوو نه دي خبر او لا هم په دې اند دي چې ځمکه د غوايي پر ښکر ولاړه ده او پر ټوله دنیا یو لوی مار تاو سوی دی، خپله لکۍ یې په خوله کې نېولې ده او چې کله یو ملا مړشي نو یو بند نوره یې هم راټینګه کړي.

زموږ د ملایانو همدې ټیټې سویې دې ملت او هیواد ته دومره زیان رسولی چې په تاریخ کې بل هیڅ شي ورته نه دی رسولی. زموږ د هیواد هره سیاسي، ټولنیزه، فکري، تعلیمي، اقتصادي، طبي او پوځي ستونزه د دین په نوم له ناسمو فتواوو او بیانونو راولاړېږي. خو څرنګه چې افغاني ټولنه پر مذهب کلکه ولاړه ده او هیڅکله به ترې وانه وړي نو د هغوی د سمون یوازینۍ طریقه همدا ده چې د دوی دیني فکر اصلاح شي، د خرافاتو او بې بنسټه حکایاتو پر ځای د دین اصلي څېره وروپېژندل شي، د دین د احکامو په رڼا کې د بشر دوستۍ، هیواد رغونې، سولې، مینې او پرمختګ لور ته سوق شي.

د دین او شریعت توپیر ورته په ګوته شي، د جهاد او امت په نوم له غولول کېدونکو دسیسو خبر شي او په ټوله کې ورته وویل شي چې د دین هدف د انسانانو تر منځ د دښمنۍ د تخمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرل نه بلکي د بشريت اونورو ارزښتونو پر بنسټ د سولې په فضا کي د مينې او ورورولۍ ژوند دی.

د مسجد ملا په پنځه وخته لمانځه، جومه او اخترونو کي هره ورځ له خلګو سره په اړيکه کي دی، هغوی ورته په درنه سترګه ګوري او د خپلو وينااوو او خطبو له لاري د هر مسلمان پر ذهن ژور اغېز کوي. کـه دولـت غـواړي چـي د ټـولنې عامـه فکـر او ذهنيـت ورغـوي نـو د نـورو لومړيتوبونو تر څنګ دي د خپل وس په اندازه مسجدونو تـه د وعظ او خطبې لپاره هغـه څـوک ولېږي چي هم کره ديني درک ولـري او هم د نورو فکري تمايلاتو پـر ځـای خپـل هيـواد، ملت، اساسي قانون او نظام ته ژمن وي. کنه موږ تل له همدې لاري مارانو وهلي يو او همداسي بـه مو چيچي. د مسجدونو، مدرسو او هر ډول ديني مراکزو کنټرول يوه جدي اړتيا ده، که دې تـه سمه پاملرنه ونه شوه نو د دين تر سپېڅلي نوم لاندي به بيا هم د پرديو د سيسو ښکار يو.

## ۳) کلي يا د اوسيدو سيمه

کله چي يو انسان د شعور لومړنۍ دورې ته ورسېږي نو د کور لـه محدود چاپيريال څخـه ور هاخوا د کلي او يـا اوسېدو د سيمې چاپيريـال تـه ورو وزي، هلتـه لـه بېلابېلو کسـانو سره اړيکي ټينګوي، خبرې ورسره کـوي، د هغوی نظريـات اوري، د دوی لـه خوا د ژوند د مختلفو برخو، تېرو زمانو د پېښو، روانو چارو، ټولنيزو معاملاتو او د يوې کلي مقولې په توګه د دين او دنيا په اړه ترې ډېر څه اوري.

لـه همدې ځايـه د ده پـه ذهـن کي پخـوانۍ جوړه نقشـه نوي بعدونـه پيـدا کـوي، مخکينـي مالومـات يې اضـافه کېږي، پـه نويـو اړخـونو يـې خبرېږي او ډېرې نـا ويـل شـوې او يـا نااورېدل شوې خبرې اوري.

د خپـل کلي او ژونـد کولـو د سيمې چاپيريـال د انسـاني مالومـاتو يـوه بلـه منبع ده چي د هر وګړي پر ذهني او رواني شخصيت اغيز کوي، د هغه افکار جوړوي، د ده ذهني نړۍ تـه د ژوند د هرې برخې په اړه کره او ناکره نظريات لېږدوي او په مجموع کي همدغه محيط دی چي د کورنۍ تر چاپيريال وروسته د هر ډول فکر او عقيدې پـه رامنځ تـه کولـو کـي د انسـان پـر بـاطني دريـځ او ظاهري سلوک خپل ژور تاثير کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر کور دباندي د خپلې او سېدو له سيمې، کلي او محلې څخه د مالوماتو اخيستنه د هر وګړي حياتي اړتيا ده، که دی غواړي او کنه مجبور دی چې له دې طريقه پر ورته وړاندي کېدونکو مالوماتو تکيه وکړي، ځکه د هر ډول ټولنيزو چارو دارومدار، د اړيکو ساتنه، خپل منځي ډاېلاګ، ديني او دنيوي چارې، انساني اړتياوې او د ژوند کولو ټول شرايط ورسره تړلي دي. مګر غوره ټولنه هغه ده چې د انسان جوړونې دا مرحله يې هم پر معياري او فني اصولو ولاړه وي. په وروسته پاتو ټولنو کې د عامه مالوماتو دا منبع د ښه شخصيت پر ځای يو بند فکره، متعصب، له حقايقو ناخبر او د اخلاقي و انساني ارزښتونو ضد انسان زېږوي، ځکه د ټولنې عامه شعور ډېر ټيټ وي، د عامو وګړو د پوهې کچه تر دوی ويلو او تا ويلو هاخوا ته نه اوړي، بې سوادي عامه وي، د هر څه په اړه يو ازې پر اسطورو باور کېږي، د پخوانيو ژوند د يوه غوره ژوند لپاره د نمونې په توګه وړاندي کېږي، د پرمختګ پر ځای له شاتګ او پخوانيو وختو ته پر ستنېدو ټينګار کېږي، په ډېرو ټولنيزو او ديني چارو کې تر ماهيت شکل مهم وي او د ذهني و فزيکي روزنې چارې د نه نظم تر څنګ پر تعصب، قوميت پالنې، بې ځايه ويار، تېر ايستونکې چالاکۍ او دا ډول نورو غير اخلاقي ښوونو تکيه کوي. د کلي او محلې او سېدونکي يو -بل ته د علم، قلم او پرمختګ پر ځای د تورې، دښمنيو، جګړو، قومي شخړو، د تېر تاريخ د مشرانو له خوا د شويو تېريو او وژنو، د خپلې کورنۍ د فضيلت، ځانګړې طبقې د ارزښتونو، ملي نواميسو پر ځای د خپل کور، کلي او قوم د تعصب زېږوونکو افسانو او زور واکۍ کيسې کوي.

مګر د دې برعکس د پرمخ تللو او علمي ټولنو دا مالوماتي منابع علم خوښوونکي انسانان روزي، هغوی انسان شموله اخلاقي ارزښتونو ته هڅوي، د دښمنيو پر ځای ورته د سخاوت، مينې، انسان دوستۍ، دنيا جوړونې، وفا، ملي فکر، هيواد دوستۍ، ملت پالنې، پرمختګ او حقيقت خوښونې روحيه ورکوي، هلته د ښه شخصيت معيار له يوه قوم، کلي، قبيلې، ډلې او ځانګړي فکر سره تړاو نه بلکې د منل شويو اخلاقي ارزښتونو ساتنه، علمي سويه، ملي تګلاره او فکر، هيواد او ملت ته خدمت، د ستونزو په وړاندي ربښتنې او جدي مبارزه، د خپل هيواد او انساني ټولنې له هر وګړي سره مينه او پر حقيقت خوښونه ولاړ دريځ وي.

جو ته ده چې دا مهال د افغاني ټولنې د کور او کلي چاپيريال په خپل غېږ کې پالل کېدونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړو ته سم مالومات او سم فکر نه شي لېږدولای، ځکه زموږ ډېر وګړي بې سواده دي، ګڼ وګړي مو د ښارونو پر ځای په کليو کې اوسېږي، ډېری ښارونه مو هم په فکري او هم فرهنګي لحاظ له کليو سره توپير نه لري، قبايلي ذهنيت حاکم دی، په مذهبي وقومي تعصب اخته يو، اوږدو جګړو د روزنې او کره مالوماتو چمتو کولو هر ډول ملي او د باور وړ وړاندي کوونکي بنسټونه له منځه وړي او د جګړې اور له بهره داسې ايډيالوژي را وارده کړې چې نن افغانان د خپل هيواد او ملت لپاره يوازې د مرګ خوب ويني، د دې نړۍ او هغې نړۍ نيمکرغي دا ګڼي چې وژنه وکړي، ملي بنسټونه ونړوي، شخړې رامنځ ته کړي، د نورو په لمسون د دين د حکم تر خواړه نوم لاندې هر هغه څوک ووژني چې د ناخوالو پر ضد درېږي او دې وژونکي ويروس دومره سرايت کړی چې پر ټولنه مو له وژنې او تخريب سره د جنون تر حده د مينې هيښوونکې کيفيت خپور دی.

کله چې يوه ټولنه د بې سوادۍ تر څنګ د تعصب په چاپيريال کې د عقيدې په نوم د خدايي نماينده ګانو تر نفوذ لاندې له مقدسې روحاني او فزيکي رهبرۍ سره مخ شي نو هلته بې عدالتي، زورزياتي او د ستونزو، ناخوالو، ټولنيزو او ملي ناودو پر ضد بې تفاوتي وده کوي، هر ډول اخلاقي بنسټونه نړېږي، دين په يوه تلکه بدلېږي او په داسې حالت کې را الوي شوي وګړي د ټولنيز انتحار په دې دوره کې ځپل شوي او د دين په نوم ناسم روزل شوي روح ته د تشدد، زورپالنې، جبري نظرياتو، پر هر څه د حرمت تاوونکې کړښې، له هر ډول تجديد او نويتوب سره په مخالفت او د خپل هر مخالف په وړاندې د قتل په غبرګون ښوودلو سره ډاډ ورکوي.

د روحاني جواز په سپېڅلې فتوا کې نغښتل شوی ټولنيز جبر، منافقت، خيانت، کرکې او منفي ذهنيت ته لار هواروي، تر دې حالت لاندې لوی شوي وګړي د خپل کلي او ژوند وژواک په چاپيرال کې اورېدل سوې خبرې نه بدليدونکې حقيقت ګڼي او ده چې هلته کوم مالومات تر لاسه کړي له څه شننې، تحليل او منطقي جاج پرته ورته د لمر په څېر ثابت حقايق ښکاري.

لنډه دا چې زموږ د عامه مالوماتو دا سرچينه نه سم افراد روزلای شي او نه د ټولنيز حالت په بدلون کې مثبت رول لري، له همدې امله بايد موږ له دې لارې تر لاسه کړي ټول مالومات يو ځل بيا له سره وارزوو او کره وناکره يې سره بېل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴) ملګري او د ناستې- پاستې وګړي

انساني ذهن ته د مالوماتو رسېدو یوه بله مهمه منبع د ناستي-پاستي وګړي، د مجلس یاران، نژدې ملګري او هغه کسان دي چې سړی ورسره په عمومي غونډو کې مخ کېږي. که څه هم د عمومي چاپېریال او یا او سېدو د سیمي په مقوله کې یې هم داخل بللای شو، خو ځانګړې یادونې ته یې له دې امله اړتیا ده چې دوی پر شخصیت جوړونه ځانګړی اغیز لري او هر سړی د هغوی په وسیله تر لاسه کوونکو مالوماتو ته خاص ارزښت ورکوي. په تېره د هغو کسانو خبرې، نظریات او مالومات چې یو چا ته نژدې ملګري ښکاري او تر ځان یې خبردار او پوه هم ګڼي.

له دا ډول کسانو سره منطقي تعامل هغه مهال لا هم حساس پړاو ته رسېږي چې د ناستې- پاستې کسان یو ډول لوړ حیثیت ولري. مثلا: د دودیزې ټولنې مشران، دیني روحانیون، لوستي کسان، استادان او داسي نور د نفوذ خاوندان وي. زموږ ذهنونه د هغوی خبرې له څه تحلیل پرته مني او هر ډول وینا یې رښتني ګڼي. د ناستي-پاستې کسان که له یوې خوا زموږ پر سلوکي چلند اغیز کوي له بلې خوا د هغوی په وسیله راته وړاندي کېدونکي مالومات په دې وجه کره ګڼو چې له دوی څخه د ناسمو مالوماتو د بیان تمه نه لرو.

په وروسته پاتو ټولنو کي له همدې طریقې تر لاسه کېدونکي مالومات د هر سړي علمي او عملي دریځ ټاکي. په دې مانا چې زموږ د ټولنې اکثر وګړي د نورو مالوماتي منابعو تر څنګ د ناستې-پاستې او شناخت له کړیو هم په علمي او عملي ډګر کي ډېر داسي مواد تر لاسه کوي چي دویم ځل تحلیل او بیا ارزونې ته یې اړتیا نه ویني. حال دا چې له دې لارې تر لاسه کېدونکي مالومات تل کره نه وي بلکې د خامو موادو په څېر تصفیې او چاڼ ته اړتیا لري. مګر څرنګه چې په موږ کي د تحلیل او منطقي غور ماده د بېلابېلو علتونو پر بنسټ شتون نه لري، له همدې کبله له خپلو هر ډول اړوندو کسانو تر لاسه کېدونکي مالومات کره ګڼو او ډېر لږ داسي پېښېږي چې پر هغو شکمن شو او یا یې د نقد اړتیا احساس کړو.

څرنګه چې زموږ په ټولنه کي وزګارتیا هم زیاته ده له همدې کبله ګڼ وګړي خپل وخت پر مجلسونو تېروي، په تېره بیا په کلیوالو سیمو کي خو د ژمي پر مهال ټول وخت د شپې اوورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼ کسان هم په مسجد او هم په کوټو یا حجرو کې په خبرو، ټوکو -ټکالو او بانډارونو اخته وي.دوی د خبرو اترو پر مهال له یو -بل سره داسي مالومات تبادله کوي چې ډېری یې بې بنسټه وي، خو دوی ته کره ښکاري. له همدې ځایه اکثر وخت خپل فکري مسیر ټاکي، ټولنیز دریځ خپلوي او ټولو خلګو ته په هغو عینکو کې ګوري چې همدلته یې پر سترګو کړې دي.

د کلیـو، جهالـت، وروسـته پاتیـوالي، محرومیـت، دینـي، ټولنیـز او کولتـوري محدودیت او لنډ دید ګډ ذهنیت له همدې ځایه سرچینه اخلي او په خپل فرهنګي رنګ کې داسي رنګېږي چې د علم، پرمختګ او متمدن ژوند پـه وړانـدې د جدي خنډ او ګـواښ بڼه خپلوي. تنګ نظري، نه زغم، له ماډرنتوب سره دښمني، د نورو قومونو او ملتونو په وړاندې د بدبیني او د عصر له غوښتنو سره د ځان نه عیارولو مرتجع افکار د بې سواده ټولنې د وګړو تر منځ له ناستې-پاستې سره نور هم ټینګېږي او دوی د خپلې ټولنې لپاره دا هر ډول وژونکي عناصر د فطرت او مسلط کولتوري او مذهبي فکر غوښتنه ګڼي.

د ناستې-پاستې پر مهال د یوې ټولنې وګړي خپل هغه مالومات له یو -بل سره شریکوي او په ګډه یې شاربي چې هر سړي له نورو بېلابېلو سرچینو تر لاسه کړي دي. څرنګه چې د هغوی وړاندې کړي مالومات په دې شریک مجلس کې په یو نه یو ډول د تحلیل او یا په اصطلاح د بیا کتنې تر پروسې تېرېږي له همدې کبله د پخوا په پرتله نور اعتبار پیدا کوي او اړوند کسان فکر کوي چې دې مالوماتو د تایید لپاره د نورو هوکړه او موافقه هم تر لاسه کړې ده. کله چې د افغاني ټولنې په څېر په یوه وروسته پاتې ټولنه کې هر سړی خپل مالومات او افکار سل په سل کې کره ګڼي له همدې امله که کوم خبر کس د معیار او صولو په رڼا کې د هغوی پر ځینو نظرونو او یا خبرو نقد وکړي نو دوی هغه ته د دښمن په سترګه ګوري، کرکه ترې کوي او هڅه یې دا وي چې د ټولنې له فکري مستوا سره په سمه ټاپه یې تورن کړي.

په موږ کې لویه ستونزه له همدې ځایه راولاړېږي چې د خپلې ناستې-پاستې له کسانو او نورو ډېرو منابعو مو مالومات تر لاسه کړي خو ډېر وختونه مو پرې دویم ځل بې پرې غور نه دی کړی. د حقیقت غوښتونکي انسان چلند باید دا وي چې پر خپلو ټولو زړو افکارو یو ځل بیا کتنه وکړي، پرې شکمن شي، ویې ننګوي او د علمي اصولو په رڼا کې یې کره خپل او ناکره یې رد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول چلند هغه مهال لا خطرناک شکل خپلوي چي په ټولنه کي مرکزي حکومت وجود ونه لري، جګړه وي، ټولنه د نورو له فکري او فرهنګي یرغل سره مخ وي او د ایډیالوژیکي وارداتو لپاره میدان پرانیستی وي، ځکه پردي پال عناصر د ځینو ارزښتونو د له منځه تلو او فکري ومذهبي ساتنې په نوم د دا ډول وګړو له ساده ذهنیت، محدود فکر او کم درک څخه خورا ناوړه ګټه اخلي. هغوی د ملي فکر پر ځای په داسي خیالي ایډیالوژیو اخته وي چي د جنون تر کچې احساسات یې بدرګه کوي. په افغانستان کي ډېری فکري، دیني او کولتوري ستونزې له همدې ځایه راولاړې شوې چي دښمنانو د مالوماتو وړاندي کولو دا منبع په خپله ګټه کارولې، ساده وګړي یې د خپلو تبلیغاتو تر تاثیر لاندي راوستي او دوی ته یې د مذهب په نوم داسي عقیده ورپیچکاري کړې چي د زهرجن مار په څېر هر څوک په نیښ وهي.

زموږ ټولنه به هغه مهال د ارام سا واخلي چي مرکزي دولت تر لویو ښارونو د هغو کلیو الو او وروسته پاتو سیمو د ذهن جوړولو او ملي کولو ته توجو واړوي چي تل یې ملت او هیواد په بدمرغیو اخته کړي او زموږ قسم خوړلي دښمنان پکي ژوري ریښې او بې شمېره ځالي لري. د دولت تر څنګ د دین، ملت او هیواد خواخوږي او ویښ وګړي، لوستي کسان، علمي ادارې، رسنۍ، ملي ګوندونه، اشخاص، شاعران او لیکوالان هم مکلف دي چي د هغوی په ذهني جوړونه او فکري رغونه کي د خپل وس په اندازه ونډه واخلي چي دا یې احسان نه بلکي یو هر اړخیز مکلفیت دی.

## ۵ ) مطبوعات

په معاصره نړۍ کي مطبوعات د فکر او ذهنیت په مثبت یا منفي بدلون کي ژور اغېز لري. نن د نړۍ په ګوټ-ګوټ کي خلک د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره مختلفې تصویري، ږغیزې، چاپي او انلاین رسنۍ د دې لپاره ویني، اوري، لولي او ګوري چي د ژوند له بېلابېلو څانګو سره تړلي معلومات ترلاسه کړي، په نویو پرمختګونو خبر شي، زاړه جریانونه تعقیب کړي او په مجموع کي د خپلې خوښې او اړتیا مواد ترلاسه کړي.

په افغاني ټولنه کي هم له ښاره نیولې تر کلي پوري ډېری خلک له رسنیو سره روږد دي په تېره راډیو او بیا ټلویزیون ډېر مینه وال لري. مګر پوښتنه دا ده چي زموږ رسنۍ خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوربدونکو، لیدونکو او لوستونکو ته څه ډول مواد وړاندي کوي؟. ایا د مثبت بدلون په اړین یون کي برخه اخیستی شي یا په بل عبارت موږ یې د خپل هیواد او ملت لپاره ګټور بللای شو؟

که موږ د خپلې ټولنې مطبوعات تعقیب کړو نو دې ډول پوښتنو تـه-بـه پـه خپله ځواب ومومو. زموږ د ډېری مطبوعاتو لویه ستونزه دا ده چي د هیواد او خلکو د ګټو پر ځای د هغو ډلو ګټو ته کار کوي چي د دوی مالي ملاتړ کوي. دلته ازاد او خپلواک مطبوعات ډېر کم دي. ډېری رسنۍ د بېلابېلو مغرضو کړیو له لوري تمویلېږي چي زموږ پـه هیواد کي ځانګړي اهداف لري. دولتي مطبوعات تش په نوم مطبوعات دي ځکه نه د خلکو ذوق خړوبولای شي او نه یې هم کیفیت معیاري دی. که د دولتي راډیوګانو، ټلویزونو او انلاین یا چاپي خپرونو نشرات تعقیب کړئ نو له مطبوعاتو به مو خوا وګرزي تر وخت تېر سولیدلي خبرونه، کلیشـه یي پروګرامونه او یوازي د خاصو کسانو ستاینې وي. نور هیڅ داسي څه نه لري چي خپل مخاطبین لـه ځان سره بوخت وساتي.

سره له دې چي مطبوعات د ذهنیتا وفکر په جوړولو کي خورا غښتلی رول لري، مګر له بده مرغه زموږ حکومت تر اوسه د فکر رغونې ته چندان پام نه دی کړی. دا مهال مطبوعاتي بهیر یا د ترهګرو کړیو په لاس کي دی او یا د مغرضو بهرنیو حلقو تر تاثیر لاندي دی چي هر یو پر خپل وار د خلکو د ذهنیت په تخریب کي خپل رول لوبوي. ترهګرو د خپلو تبلیغاتو چینلونه کلیو او باندو ته رسولي د ویډیوګانو، اډیوګانو او نورو وسایلو له لاري یې د دولت مشروعیت له جدي ننګونې سره مخ کړی. وروسته پاتی کلتور ورته د دین په اصلي بڼه تعبیروي، ځوانان له زده کړو راګرزوي، د خلکو پـه ذهـن کي د کرکې او تعصب تخمونـه کـري، لـه ښـار، زده کـړو، معاصـرو سیاسي، ټولنیزو او فکري مقولو سره یې دښمنۍ ته هڅوي، له نوري نړۍ سره اړیکي ورتـه پـه کفر تعبیروي، د علم، ساینس او ټینکالوژۍ پرمختګ په ناروا تعبیروي او صنفي تبعیض ته یې هڅوي. د بهرنیو مغرضو کړیو په دام کي ښکېل مطبوعات بیا ملي وحدت تـه زیان اړوي، ملي ویاړونه مسخره کوي، قومي، نژادي، ژبني او سمتي تعصبونه خپروي او هڅه یې دا وي چي د مختلفو حساسیتونو په پارولو سره زموږ د خلکو تر منځ د زرګونو کلونو موجود ملي وحدت دړې – وړې کړي.

کلتوري پرمختګ، انساني ارزښتونه، زده کړه، د ناخوالو راپورته کول، د ذوقونو روزنه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ له لروبر څخه په مثتبو بدلونونو د خلکو خبرول، د معياري انتقادي تفکر وده، د علمي، فکري، ټولنيزو بحثونو مطرح کول او په مجموع کې د پراخ او هر اړخيز علمي-فکري بهير رهبري هغه موارد دي چې رسنۍ پکښې جوت رول لوبولای شي. مګر زموږ رسنۍ يا ملي تخريب ته ملا تړي او يا تر وخت پر تېرو شويو موضوعاتو شخوند وهي. همدا وجه ده چې د معلوماتو تر لاسه کولو دا سرچينه هم دومره ګټوره نه ده. ځيرک مخاطبين کولای شي چې د دې سرچينې کره او کوټه سره بېل کړي، د چا چې د شعور او پوهې کچه ټيټه وي هغوی يا د دې سرچينې د ناسمو مالوماتو په لومه کې ښکېلېږي او له دې لارې جوړ شوی فکر يې د ټولنې او هيواد لپاره زيانونه او ان ځينې وختونه اجتماعي ټکرونه پيښوي.

## د زده کړو مرکزونه

د زده کړو له مرکزونو خو نو تمه دا ده چې بايد يوې ټولنې ته داسې روزل شوي انسانان وړاندې کړي چې له مهارت سره-سره په فکري او ذهني ډول له نورو بې سوادو انسانانو سره پوره توپير ولري. په علمي مرکزونو کې روزل شوی انسان بايد د پوهې تږی وي، هره مفکوره او نظريه د منطق په تله وتلي، بشري ارزښتونه، انساني کرامت، ټولنيز پرمختګ، سوله، هيواد پالنه، بشري همدردي، پوهه، د پوهې مرکزونه او منطق تر هر څه ورته محترم وي.

د زده کړو مرکزونه د علم او معلوماتو د تر لاسه کولو هغه سرچينه ده چې په کلي ډول ورڅخه د کره، معياري او سنجول شويو افکارو تمه کېږي، ځکه دا د علم، پلټنې، تحقيق، منطق او استدلال ځای دی. دلته اشخاص تر نقد لوړ نه ګڼل کېږي. دلته تجربه او منطق يوازيني معيارونه دي چې هر د چا نظر او فکر تلي، کوټه يې ردوي او کره يې مني. په دې ځای کې روزل کېدونکو کسانو ته بايد يوازې دا ورښودل شي چې هيڅ نظر او فکر نه مقدس دی او نه هم تر نقد لوړ بلکې د علم په لټه راوتلی کس بايد پر هر څه شک وکړي، هر پخواني فکر، نظر او دريځ ته دې د شک په نظر وګوري، هيڅ مقوله او مفکوره دې له دې امله نه مني چې يا ډېرو خلکو منلې او يا ډېر ستر شخصيت تاييد کړې ده، ځکه د علم په نړۍ کې ډېر اشخاص او سترنومونه هيڅ ارزښت نه لري. علم يوازې تجربې او منطق ته ارزښت ورکوي او يوازې همدې دوو شيانو ته وفادار دی له دې پرته په دې پراخو کايناتو کې له هيچا سره نه لېوالتيا لري او نه وفا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر زموږ په علمي مرکزونو کي بیا حالت داسي نه دی. دلته خو اول استادان هر څه په زور درباندي مني. د علمي مرکزونو ښوونکي له نقد، پوښتنې، ولي او څنګه څخه سخت په ډار کي دي. دوی هغه څه درته وايي چي په کتاب کي راغلي وي، له نورو يې اورېدلي وي او يا دوی درباندي پوهېږي. کله چي استاد تدریس کوي شاګردان باید د ده له لوري پر وړاندي کېدونکو معلوماتو هیڅ شک ونه کړي، ټول ومني او که چا د پوښتنې جرأت وکړ نو اول خو ځواب نه ورکول کېږي او که ځواب ورکړي نو پر ځواب بیرته دویم ځل نقد کفر دی. زموږ په علمي مرکزونو کي د زړو مقولو، مسئلو، فکرونو او نظرونو منل اصل علم ګڼل کېږي. ډېر کم خلک زړو فکرونو، نظرونو او مسایلو ته د شک په نظر ګوري او ډېر کم کسان د دې اړتیا احساسوي چي په فکري، ټولنیز او فلسفي ډګر کي د پخوانیو نظرونو باید یو ځل بیا کتنه وشي، ځکه علم یو نه تمېدونکی روان بهیر دی چي هر وخت وده کوي، هر وروسته راتلونکی د پخوانیو نظریو جاج اخلي، تېروتنه يې سموي، نوې دریځې پرانیزي، تابو ګانې ماتوي، ممنوعه سیمو ته سر ورښکاروي او نوي افکار راوړي چي د علمي معیارونو په رڼا کي يې کوټه او کره معلوم شي. که څوک د نوري نړۍ له علمي، فکري، فلسفي او تخنیکي پرمختګونو ګټه اخلي، نوي افکار مطالعه کوي، معقول اړخ يې مني او د نويو علمي معیارونو په رڼا کي د خپلې ټولنې پر حاکم فکر نقد کوي. خو زموږ د علمي مرکزونو مدیران او استادان يې په یوه او بل نوم تورنوي، کله يې تکفیروي، کله يې د نورو ګوډاګی ګڼي او کله يې بیا د مرګ فتوا ورکوي چي له همدې امله زموږ ټولنیز شعور لا هم د تېرو وختونو په تیارو کي پاتي دی او ډېر داسي افکار او مسایل مني چي دا مهال د پرمختللو ټولنو لپاره یوه ټوکه او مسخره ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلامي نړۍ په علمي مرکزونو کي فکري جمود

د اسلامي نړۍ په لر او بر کي تر اوسه هم علمي مرکزونه هغه حد ته-نه دي رسېدلي چي خپل زده کوونکي ازاد فکر، پوښتني او د نقد دريځ ته راوبولي. په تېره د مذهبي زده کړو سيستم خو تقليد، د پخوانيو ړوند اطاعت او د ماهيت پر ځای د الفاظو پيروي ديني لارښوونه بولي او ان په ځينو فقهي کتابونو کي پر اجتهاد بنديز لګول شوی دی.

تفکر، پر مسايلو غور، زړو خبرو ته د شک په سترګه کتل او د نويو اندونو وړاندي کول اصل علم دی ځکه تقليد او پر پخوانۍ لاره تګ د عالمانو کار نه دی، عالم تل په نويو خبرو پسي ګرزي، زړې لارې تر نقد لاندي نيسي، پر زړو فکرونو شک کوي، د علمي تجربو په رڼا کي پخوانۍ مقولې او فکرونه ارزوي او په مجموع کي د نورو په لاسته راوړنو قناعت نه کوي بلکي غواړي د علم په نه تم کېدونکي تکاملي پروسه کي دی هم ونډه واخلي او راتلونکو نسلونو ته د لا پرمختګ زمينه برابره کړي، مګر د اسلامي نړۍ په علمي مرکزونو کي هڅه دا ده چي زده کوونکي پر پخوانيو مسايلو شخوند ووهي، د تېر وخت مقولې ياد کړي، زاړه نظرونه بيا-بيا ولولي او همداسي زاړه يې پرېږدي ځکه ذهنيت دا دی چي د دين او دنيا کاميابي د اسلامي نړۍ لومړني حالت (ياني د رسول الله وخت ته) په ستنېدو کي ده. مسلمانان هره نوې پديده، مفکوره او نوښت د سنت، بدعت او شرک په نوم ردوي او په وړاندي يې مقابله کوي.

د تقليد او زوړ پالنې فکر داسي جمود رامنځته کړی چي د اسلامي نړۍ په لروبر کي موږ د هيڅ ډول نوي پرمختګ شاهدان نه يو او دا مهال مسلمانان د مساحت او نفوس له پراختيا سره-سره د علم په ډګر کي تر بل هر ملت وروسته پاتي دي. ځوروونکې لا دا ده چي د تقليد او زوړ پالنې دې تګلارې مسلمانان پر کوردننه داسي سره ويشلي چي د ورو او لويو ډلو شمېر يې تر زرګونو اوړي. همدغه حالت له هرې ډلې سره دا ذهنيت پيدا کړی چي حق صرف له دوی سره دی او نور بايد د دوی دريځ ومني. د نه منلو په صورت کي هره ډله د خپلې مخالفې ډلې په وړاندي د جګړې، کرکې او خشونت اعلان کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کوم څوک د زړو مقولو او فکرونو پر ځای نوې خبره کوي، نوی نظر وړاندې کوي او غواړي په علمي-فکري چاپېریال کې د وخت له غوښتنې سره سم فکرونه او نوښتونه رامنځته کړي نو هغه د زندیق، مبتدع او غرب پال په نوم له پراخې تولنیزې کرکې سره مخ کېږي چې یا به تبنتي او یا به د دوی مني. همدغه وجه ده چې مسلمانان د ساینس او ټیکنالوژۍ په ډګر کې هیڅ ډول لاسته راوړنه نه لري او د مذهبي زده کړو بهیر یې اوس هم د امویانو، عباسیانو او عثمانیانو د وخت د هغې فقهې په مقولو او فکرونو ډک دی چې د مسلمانانو په لاسبري چاپېریال کې د اسلامي نړۍ فقهاوو د خپل فردي اجتهاد پر بنسټ لیکلي وو او نړۍ یې د خپل مذهبي تبعیض له مخې پر دار الاسلام او دار الحرب ویشلې وه. ځکه هغه مهال مسلمانانو د نړۍ په کچه پراخ تمدن درلود او ځانونه یې د نورې نړۍ د ملتونو په پرتله خیر الامت، وسط الامت او تر ټول جهان غوره ګڼل له همدې امله یې سیاسي، ټولنیز، قضایي، اقتصادي او فکري سیستمونه داسې عیار کړي وو چې مسلمانان پکښې په هر حال لوړ او نور ملتونه د دوی تر حاکمیت لاندې ګڼل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زغم کلتور اړتیا او پیاوړتیا

په هره انساني ټولنه کې د ډول-ډول طبيعي پدیدو ترڅنګ مختلف فکرونه، ژبې، عقاید، دودونه، جوړښتونه، نظریات، ارزښتونه او فرهنګونه شته چې ځینې یې پراخېږي، ځینې یې په یوه خاصه دایره کې محدود وي او یو شمېر یې د وخت په تېرېدو له منځه ځي، مګر هیڅوک نه شي کولای د ژوند په چارو کې د دې رنګارنګۍ مخه ونیسي. سره له دې چې تنوع د طبیعت یوه برخه ده او ختمول یې هیڅ امکان نه لري خو بیا هم کله-کله یو شمېر اشخاص/ډلې غواړي نور انسانان داسې فکر، عمل، د ژوند کولو سبک او ټولنیز جوړښت ته وهڅوي چې دوی یې غواړي، دا ولې؟ ځکه چې دغه ډول اشخاص/ډلې د زغم له کلتور سره نه وي اشنا او د مخالف منلو فرهنګ نه پېژني. په حقیقت کې زغم د سولې، مینې، ګډ ژوند، پرمختګ، ټولنیز او فردي سکون، ټولنیز امن، ارزښتونو د بقا او په مجموع کې د انسانانو د سوکاله ژوند اساس دی. په کومه ټولنه کې چې زغم نه وي هلته کرکه، بدبیني، دښمني، تعصب، تبعیض، قانونماتونه او ورانۍ وده کوي او د یو هر اړخیز تعبیر په توګه ویلای شو چې زغم یاني په هر حالت کې د بل چا ژوند او شخصیت ته ارزښت ورکول.

د نه زغم او تشدد په اړه وتلی پاکستاني لیکوال سکندر خان بلوچ لیکلي: د زغم نه شتون یو داسې ذهني حالت دی چې د هغه له مخې یو کس هر څه، هر انسان او هرې پېښې ته صرف له یوه اړخه ګوري او یوازې ځان پر سمه ګڼي چې دا حالت بالاخره وده کوي او په دې ناروغۍ اخته شخص د خپل ځان، خپلو عقایدو او نظریاتو خلاف هر مخالف کس پر باطله یا کافر ګڼي او قتل یې غوره ګام یا ثواب بولي.

سره له دې چې په فردي ژوند کې انسانان د ژوند له پیله د خپل فکر او سلوک پر اساس د زغم له مفهوم او مصداق سره اشنا وو او اوس هم ورڅخه کار اخلي خو زغم د یوې ټولنیزې-فلسفي مقولې په توګه په اروپا کې د رنسانس تر دورې وروسته دود شو. په دې اړه یو عرب لیکوال ډاکټر حسن عزوزي لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



" لقد ترجمت لفظة «Tolérance» عربيا إلى «التســامح»، ومــع ذلك لابد من الإقرار بأن المفهوم يعتبر وليد حركة الإصــلاح الــديني الأوروبي، حيث نشأ عن تغير في الذهنية ناتج عن علاقة جديدة هي علاقة الاعتراف المتبادل بين مختلف القوى التي استمر صراعها خلال الحــروب الدينية الأوروبية.

د انګليسي Tolérance په عربي کې په تسامح (زغم) ژباړل شوی. خو بايد ومنو چې دا مقوله په اروپا کې د ديني سمون زېږنده ده او هغه مهال راوټوکېده چې د اروپا په ديني جګړو کې د مختلفو متخاصمو قواوو تر منځ نوې اړيکه ومنل شوه او ذهنيت تغيير وکړ."

نوموړی يو بل ځای د زغم يا تسامح په اړه کاږي:

" يسجل مفهوم التسامح حضوره في عمق التجربة الإنسانية من خلال مختلف الآداب الفكرية للأديان السماوية والوضعية على السواء. وقــد عرفت الحضارات الإنسانية مفهوم التسامح كواحد من المفــاهيم الــتي تندرج في إطار حقوق الإنسان مقــابلا لمفــاهيم العنــف والتعصــب واللاتسامح.

د اسماني او بشري اديانو د بېلابېلو فکري ادابو له لارې د زغم مفهوم د انساني تجربې په عمق کې ځای لري او انساني ټولنې د بشري حقوقو په ډګر کې زغم د تشدد، تعصب او نه زغم د يوه مقابل مفهوم په توګه پېژني."

د ښاغلي عزوزي څرګندونو ته پام ويلای شو چې د زغم نه شتون په حقيقت کې د تشدد، تعصب او شخړو د رامنځته کېدو سبب ګرزي. اوس پوښتنه دا ده چې په يوه ټولنه کې زغم ولې له منځه ځي؟ ياني هغه کوم علتونه دي چې زغم له منځه وړي او څرنګه کولای شو چې د ژوند په مختلفو فکري، علمي، فرهنګي،مذهبي، ټولنيزو او سياسي ډګرونو کې د زغم کلتور ته وده ورکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زغم د له منځه تلو عوامل: بې سوادي

نالوستي وګړي تر ډېره د زغم له تشې سره مخ وي، ځکه دوی د ژوند په چارو کې ډېر محدود فکر کوي او داسې انګېري چې کوم څه ده ته ښه ښکاري او یا یې دی کوي هغه باید نور هم ورسره ومني. له بلې خوا په نالوستې ټولنه کې د روزنې او پالنې داسې بنسټونه، مراکز او اشخاص نه وي چې خلکو ته د نړۍ په کچه د ګڼو افکارو، کړنو، دودونو، ارزښتونو او ډول-ډول فکري، مذهبي، سیاسي او ټولنیزو جوړښتونو په اړه معلومات ورکړي. په نالوستې ټولنه کې هر ډول مروج فکرونه، ارزښتونه، اخلاق، جوړښتونه او عملونه وروستي ګڼل کېږي او مفکوره دا وي چې له دې پرته بل هر ډول دود، عمل او فکر باید رد شي ځکه همدا حقیقت دی له دې پرته بل هیڅ حقیقت نه شته. که څوک زموږ د فکر، عمل او حاکم چاپېریال مخالفت کوي هغه په حقیقت کې زموږ د ښمن دی او باید له منځه یووړل شي. مطلب دا چې نالوستي وګړي په هر څه کې انحصاري فکر لري او د مخالف منلو له کلتور سره نه وي اشنا. همدا وجه ده چې په نالوستو ټولنو کې فکري، اخلاقي او عملي بدلون له سختو ننګونو سره مخ وي او یوازې هغه مهال امکان لري چې وګړي زده کړه وکړي، له نوري نړۍ سره اړیکه پیدا کړي او په دې پوه شي چې د ځمکې پر مخ ټول انسانان یو ډول نه دي بلکې د طبیعي تنوع تر څنګ یې فکرونه او عملونه هم جلا دي.

## فقر

د انسانانو تر منځ ډېری شخړې اقتصادي جرړې لري. په یوه ټولنه کې د مادي سرچینو ناسم ویش او طبقاتي توپیر د کرکې او دښمنۍ سبب ګرزي چې له کبله یې د یو-بل زغمل او منل له منځه ځي. د نړۍ په کچه د لویو او وړو جګړو او شخړو یوه غوښنه برخه د اقتصادي ګټو پر سر وه/ده چې په راتلونکي کې یې هم امکانات کم نه دي او موږ یې اوس هم شاهدان یو. سره له دې چې پلمې او بهانې به بیلې وي خو که سړی د مسایلو ژورو ته کوز شي نو بیا خبره د مادي امتیازاتو او مالي منابعو وي. فقر ځپلې ټولنه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په ډېره اسانۍ دې ته چمتو کېږي چې د بل په وړاندې ودرېږي او د یو بل چینل له خوا د ډېر عادي امتیاز په تر لاسه کولو په ټولنه کې شخړو، لانجو او تشدد ته لمن ووهي. زموږ په هیواد کې له څو لسیزو روان تاوتریخوالی او تشدد هم تر ډېره له فقر او بیوزلۍ سره تړاو لري ځکه افغانان تر اوسه ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټو ته ژمن نه دي او د خپلو ډېرو لومړنيو اړتياوو د نه پوره کېدو له کبله لا هم د دوی په ذهن کي ملت، هيواد او ملي ګټې ځای نه لري او په ارزښت يې نه پوهېږي. د همدې مادي اړتيا له کبله يې ګټې غرضي او مرضي کړې، د خپلو ناولو موخو لپاره کله د ملي او کله هم د مذهبي مقولو په نوم د هيواد، ملت او بشريت پر ضد کاروي چي له کبله يې کرکه، نفرت، دښمني، تشدد او ډول–ډول تعصبونه وده کوي، مذهبي، فرهنګي او سياسي زغم له منځه ځي او په ټوله کي د خشونت او افراطيت مقولې، کليشه يي فکرونه، له کرکې ډک زړونه او افراطيت ډېرېږي. په حقيقت کي د مالي منابعو او اړتياوو د پوره کولو پر سر شخړې د زغم په له منځه وړلو انسانان قتل، جرم او جنايت ته هڅوي چي بيا ناروا ګټې او نامشروع اقتصاد په يو عادت بدلېږي چي له منځه وړل يې ډېر کار غواړي.

## د روزنې او ښوونې ناسم چاپيريال

کله چي د يوې ټولنې/هيواد روزنيز سيستم معياري او پر بشري اصولو برابر نه وي نو له هغه ځايه ټولنې ته وړاندي کېدونکي کسان هم د نه زغم او کرکې په ناروغۍ اخته کېږي. د ځينو ټولنو بېلابېل فکري جريانونه، ټولنيز جوړښتونه او سياسي بهيرونه داسي وي چي د خپل اغېز په ساحه کي د نورو پر خلاف کرکه او نفرت شيندي، د خپل نفوذ په ذهني او عيني ساحه کي هڅه کوي چي د خشونت، تنګ نظرۍ او مختلفو تعصبونو تخمونه وکري او له دې لاري خپلو موخو ته ورسېږي. د دوی روزنيز او ښوونيز بنسټونه او مرکزونه د بشري منطقي اصولو پر ځای ځانګړي قومي، سمتي، ژبني او مذهبي نفرتونه پالي. په دغسي روزنيز او ښوونيز چاپيريال کي تربيه شوي افراد هم زغم نه لري او د مخالف منلو له فرهنګ څخه په شعوري ډول کرکه کوي، ځکه دوی ته له نورو څخه کرکه د يوه رښتيني حقيقت په توګه ورښودل شوې وي او نه پالل يې ورته جرم يا د خپلو ګټو بايلل ښکاري.

د کرکې او نه زغم خپرولو له دې ميتود څخه تر ډېره د وروسته پاتو ټولنو فکري، قومي او مذهبي بهيرونه کار اخلي او خپلو کسانو ته داسي تلقين ورکوي چي د فکر او نژاد له ځانګړې دايرې بهر هيڅوک بايد ونه زغمي. که يې توان وي، هغه دي له منځه يوسي او که يې د له منځه وړلو توان نه لري نو پر خلاف دي يې د کرکې تبليغ وکړي چي دغه ډول ذهنيت په ټولنو کي سوله، مينه، ارام ژوند او له فکري، قومي، ژبنيو او جغرافيي توپيرونو سره–سره د ګډ ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګ ته زيان رسوي چې بالاخره يو پراخ بشري ناورين رامنځته کوي او د شخړو يو نه ختمېدونکی بهير پيلېږي. په دې برخه کې د کور چاپيريال هم داخلولای شو ځکه کورنی چاپيريال هم د وګړو د ترېيې او روزنې يو ډېر بنسټيز سيستم دی. په ځينو کورنيو کې د روزنې او پالنې طريقه پر خشونت، وهلو، ترټلو او د ماشومانو د مشروع اړتياوو پر نه پوره کولو ولاړه وي چې په همدغه چاپيريال کې روزل شوي کسان د کرکې، حقارت او تشدد له ذهنيت سره ټولنې ته ورځي او د نه زغم په سخت رواني حالت اخته وي.

## قومي، مذهبي او جنسي توپيرونه او تعصبات

د ځانګړي نژاد، مذهب او جنس پر اساس د امتيازاتو تر لاسه کولو فکر هم د نه زغم لامل ګرزي چې هر يو يې پر خپل ځای د زغم، مينې، له نظري اختلاف سره-سره د ګډ ژوند فرهنګ او د بل منلو دود ته نه جبيره کيدونکی زيان اړوي. د نړۍ په تاريخ کې د مذهب او نژاد پر بنسټ بې شمېره جګړې شوي دي او لا هم دوام لري. جنسي يا صنفي تبعيض هم په انساني ټولنه کې زغم يا برداشت له منځه وړي او يو ځانګړی صنف د ژوند په ټولو چارو کې خپل برلاسی يو منل شوی حق ګڼي. د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي بېلابېل ډولونه له همدغسې فکر څخه سرچينه اخلي او علت يې دا دی چې په نر واکه ټولنه کې نارينه ځانونه د ښځو د شخصيت مالکان ګڼي او داسې انګېري چې ښځه يو محکوم موجود دی چې تل بايد د نارينه اطاعت وکړي، د هغه په خدمت کې وي او نران چې ورته کومه لار ټاکي پر هغه ولاړه شي. پر همدې اساس چې کله يو شمېر ميرمنې غواړي دغه حالت له منځه يوسي، يا خپل بشري حق وغواړي او يا د تېروتنې له مخې د نارينه د خوښې مخالفت وکړي نو نران تاوتريخوالی ته لاس اچوي، ښځې ډبوي، ترټي او ان وژني چې دغه ډول ذهنيت هم ممکن د ځينو مذهبي تعبيرونو او فرهنګي ادبياتو کې ريښه ولري.

له بده مرغه زموږ مروج مذهبي ادبيات او فرهنګ په مستقيم او غير مستقم ډول مذهبي او نژادي توپيرونه او تعصبونو ته لمن وهي او خلکو ته داسې ذهنيت ورکوي چې دغه ډول توپيرونه او تعصبونه پالل زموږ په ګټه دي او يا د مذهب غوښتنه ده. جنسي تبعيض هم له يادو دوو سرچينو الهام اخلي او په دغسې چاپيريال کې اوسيدونکي کسان پر دې تبعيض پوخ باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوږده جګړه

که څه هم جګړه په خپله د نه زغم له امله رامنځته کېږي خو په کومه ټولنه کي چي اوږدې جګړې دوام وکړي هلته د کرکې، مختلفو تعصبونو، تشدد او خشونت داسي فضا او ذهنيت رامنځته کېږي چي د زغم، برداشت، بل منلو او مخالف نظر د تحمل ټول امکانات له منځه وړي او د دغسي جنګ ځپلو ټولنو وګړي دومره تونده وي چي د خپل مخالف قتل، ترټل، وهل او ځورول ورته ډېر اسانه او ساده کار ښکاري بلکي قتل او خشونت په يو عام فرهنګ بدل شي. جګړه چي د هرې موخې لپاره وي نو پر پراخو مادي زيانونو سربېره د انسان پر ذهن او روان داسي اغېز کوي چي د تسامح او زغم له دايرې يې د وحشت او دهشت نړۍ ته بيايي او د مخالفت د منلو فرهنګ سخت ځپي.

## وچ طبعي محيط

طبيعي محيط هم تر يوه حده د نه زغم په دودولو کي رول لري. د کومو هيوادونو طبعي اقليم چي مناسبه هوا او شين محيط لري د هغو ځايونو خلک تر ډېره نرم، خندان، خوشاله او د نورو زغمونکي وي. مګر په کومو هيوادونو کي چي طبيعي محيط وچ، سپېره، ښوى ډاګ، بې ځنګله ډېرين غرونه وي او د ژوند لپاره طبيعي مناسب زرغون چاپيريال ونه لري، د هغو هيوادونو اوسيدونکي سخت مزاج لري، تونده وي او مخالفت نه شي زغملای.

## د زغم دودولو لاري چارې: کورنۍ

تر هرڅه لومړی بايد د يوې کورنۍ مشران خپلو ماشومانو ته د صبر، زغم او حوصلې روزنه ورکړي، تر خپل منځ چي د چارو په ترسره کولو کي تفاهم، حوصله او همغږي ولري، د يو-بل نظر او شخصيت ته احترام وکړي، د ستونزو پر مهال خشونت ونه کړي او يو ازې په خبرو يې حل کړي. همدراز د هر چا شخصيت ته په درنه سترګه وګوري. د ماشومانو د ويرولو، ډېرولو، تحقير او محروميت کلتور پای ته ورسوي، د هغوی مشروع او منطقي اړتياوې پوره کړي، پوښتنو ته يې په مينه ځواب ووايي او د محبت و صميمت په فضا کي يې لوی کړي. د نه زغم ذهنيت د کورنۍ له ناسم چاپيريال سره ډېره ژوره اړيکه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښوونې او روزنې معياري کول

پر معياري اصولو برابر ښوونيز او روزنيز سيستم کولای شي چې د زغم په ترويج کې د پام وړ مرسته وکړي. په کومو هيوادونو کې چې د ښوونې او روزنې سيستم پر منطقي او بشري اصولو برابر دی هلته د رنګ، نژاد، مذهب، سمت او ژبې په نوم کرکه او تعصب ډېر کم دی او په ملي مسايلو کې چندان رول نه شي لوبولای مګر د دې برعکس چې د کوم هيواد د ښوونې او روزنې سيستم کمزوری وي او زده کوونکو ته پراخ بشري ليد نه شي ورکولای هلته بيا تر مختلفو نومونو لاندې تشدد، افرطيت او سخت دريځي وده کوي، زغم له منځه ځي او د مخالف د منلو کلتور خپل ځای د ښمنيو ته خوشې کوي.

## د مذهبي نصاب اصلاح

د نړۍ په ډېرې مذهبونو کې تر يوه حده د کرکې او خشونت موارد موندل کېدای شي چې يا د هغو په متن کې وي او يا د ناسم برداشت له کبله وي. سره له دې چې اسلام د سولې، امن او انساني اخوت دين دی مګر له بده مرغه دا مهال په ټوله نړۍ کې له ترورېزم، کرکې، خشونت او د نورو مذهبونو له نه زغم سره تړلی بلل کېږي. علت يې په نړۍ کې د مسلمانانو چلند او کړنې دي چې دا څو پېړۍ يې نوري نړۍ ته له وحشت او ترهګرۍ پرته بل څه نه دي وړاندې کړي. بدمرغي لا دا ده چې مسلمانان په خپل منځ کې په سختو کرکو او شخړو اخته دي. په مجموع کې اسلامي نړۍ د نه زغم او تشدد په يوه پراخه ساري ناروغي اخته ده چې ورځ تر بلې ډېرېږي او په ډول-ډول بڼو ځان څرګندوي. له همدې امله بايد د اسلامي نړۍ ويښ او مخکښ پوهان او ديندارانو د دې حالت د مخنيوي لپاره جدي ګامونه واخلي. د خواشينۍ ځای دا دی چې د اسلامي نړۍ په لرو بر کې تدريسيدونکي مذهبي اثار په داسي روحيه ليکل شوي چې نړۍ ته په مطلق ډول د حق او باطل يا مسلمان او کافر په سترګه ګوري چې دې ذهنيت خورا لوی ناورين رامنځته کړی دی. همدا اوس هم د اسلامي نړۍ د شخړو لويه برخه همدا مذهبي فکر دی چې د مسلمانانو په مذهبي ښوونيزو مرکزونو، مذهبي فکر، کلامي او فقهي بحثونو کې تلقينېږي. د اسلامي نړۍ د مذهبي سرچينو په مختلفو ساحو کې د زغم، حوصلې او نورو فکرونو او مذهبونو د زغم مفکوره يا بيخي نه شته او يا ډېره کمه ده. په داسي حال کې چې د اسلام ستر استازی وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



المسلم من سلم الناس من لسانه ويده. (مسند امام احمد)

مسلمان هغه دی چي نور خلک يې له ژبې او لاس څخه خوندي وي.

دا ډول څرګندوني نو په قران کريم او نبوي احاديثو کي بېخي ډيري دي، مګر له بده مرغه د نن ورځي مسلمان د غسي لارښوونو ته شا کړې او د خپلو سياسي، نظامي او فکري ماتو له کبله د نورو په وړاندي د کرکې په داسي ناروغۍ اخته دی چي که اصلاح نه شي نو ممکن د اسلام دين د خپلې بقا په ساحه کي له لويي تنګوني سره مخ شي. لنډه دا چي د اسلامي نړۍ په کچه د مذهبي سوچ خورا ژور ريفورم ته اړتيا ده.

د مذهبي زغم په اړه وتلی مذهبي سکالر مولانا وحيد الدين خان ليکي:

"د قرآن کريم په ۸ سورت کي راغلي دي چي: وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ (الانفال: ۴۶) (زغم وکړئ ځکه الله له صابرينو سره دی).

د يو روايت له مخي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: واعلم أن في الصبر على ما تكره خيرا كثيرا وان النصر مع الصبر وأن الفرج مع الكرب وان مع العسر يسرا (مسند احمد، الجزء ۳۰۷/۱) (پوه شئ چي پر ناخوښه شي زغم ستاسي لپاره لويه ښېګڼه ده او برياليتوب له زغم سره مل وي او ابادي له تکليف سره).

اکثره خلک چي کله له ستونزمنو حالاتو يا يوې ترخې تجربې سره مخ شي نو د وارخطايۍ له مخي د تشدد ښکار شي، خو دا ډول عکس العمل له فطرت څخه د ناخبرۍ پايله ده. حقيقت دا دی چي د فطرت قانون تل له حقپلوو سره مل وي. حقپلوی فرد يا ډله که له عجلې څخه کار وانخلي او د زغم لمن ونيسي، خامخا يې بريالیتوب په برخه کيږي.

ډېری وختونه ناکامي د هغو خلکو په برخه وي چي له عجلې څخه کار اخلي او تر وخت وړاندي په توند اقدام لاس پوري کوي. برعکس کوم کسان چي د تحمل لار خپلوي د هغوی لپاره تل داسي اسباب منځته راځي چي د بريالیتوب پوړو ته يې رسوي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رسنۍ

د زغم او ډول–ډول فکرونو، دینونو، فرهنګونو او جوړښتونو په منلو کې رسنۍ هم ډېر ښه رول لوبولای شي ځکه رسنۍ د معاصر جهان په ذهن جوړونه او عامه نظر بدلونه کې خورا مهم رول لري. که رسنۍ په سم ډول مدیریت شي نو موږ په اسانۍ کولای شو د کرکې مخه ونیسو او مذهبي، سیاسي او فرهنګي زغم دود کړو. رسنۍ د ذهنیت په جوړونه کې ډېر جوت رول لري چې باید مثبتې کارونې ته ډېر پام وشي ځکه رسنۍ سرچېره هم کارېدای شي چې په دې صورت کې کرکې، تعصب او تبعیض په لمن وهلو به لوی سرخوږی جوړ کړي. اړتیا دا ده چې د رسنیو له رول څخه مثبته ګټه واخیستل شي او د کرکې پر ځای د زغم، مینې او سولې دودولو لپاره استخدام شي. په دې برخه کې به یو مثبت ګام دا هم وي چې بېلابېلې ډغیزې او انځوریزې رسنۍ د مختلفو فکرونو کسان راوغواړي او په مخامخ بحثونو کې هر یوه ته د خپل فکر د بیان فرصت برابر کړي. په تېره دغه ډول بحثونه د مذهبي نظریاتو په برخه کې ډېره ګټه درلودای شي ځکه زموږ خلک تر اوسه په مذهبي ساحه کې یوازې له یوه فکر سره اشنا دي، مخالف نظریې هیڅ نه اورېدلې او نه ورته اجازه ورکړل شوې ده. د مختلفو سیاسي، فکري او مذهبي نظریاتو رابرسېره کېدل به خلک د اختلاف او یو–بل د زغم له فرهنګ سره اشنا کړي.

## حکومت

حکومت د یوې ټولنې سیاسي رهبري پر غاړه لري او د هر هغه څه د مخنیوي مسؤول دی چې ټولنیز نظم او ډسپیلن ته زیان رسوي، امنیت ګواښي او شخړې پیدا کوي. له همدې کبله د زغم او د فکري، عقیدوي، سیاسي او فرهنګي تنوع په چاپېریال کې د وګړو تر منځ د ګډ ژوند د روحیې پیاوړي کول د حکومت مهمه او اساسي دنده ده. که حکومت دا کار ونه کړي نو له یوې خوا به یې مشروعیت له منځه ولاړ شي او له بلې خوا به ورو–ورو خپل وجود له لاسه ورکړي او بالاخره به ټولنه په انارشۍ اخته شي. حکومت کولای شي ټول هغه موارد ختم کړي چې تر بېلابېلو عنوانونو لاندې کرکه خپروي او زغم له منځه وړي ځکه حکومت هم مسؤولیت لري او هم امکانات.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**